شهامت

په اخطارونو او ګواښونو جنګونه، نه ګټل کیږي ...

دیارلسم کال، درییمه، پرلپسې۷۷مه ګڼه، صفر المظفر ۱۴۴۱هـ ق، اکتوبر ۲۰۱۹م

سیمه ییز سفرونه
او د اسلامي امارت فعاله دیپلوماسي

■ په قطرکې د اسلامي امارت د سیاسي دفتــر اداري مرستیال او د مذاکراتي ټیم غړي

مولوي عبدالسلام حنفي
سره د شهامت ځانګړې مرکه

امریکایي یرغلګر!
او د خدای قهر ....

- د یوه بل جان کیري په لټه کې!
- دجعلي او نمایشي ټاکنو پایلې ولې ونځنډول شوې؟
- د لوبغالو څخه د ارګ تر مجللو قصرونو خور! جنسي تعفن د چا دالی؟
- د افغان سولې په هکله د اروپا او امریکا دریځونه ولې یو نه دي؟

ټرمپ پیغور ساتلی

امنیت شــوری، حقــوق بشر
اسلام او مسلمانان !!

هجـده سالگی اشغـال و مقاومـت؛
وضعیت از چه قرار است؟

شهامت

علمي، کلتوري او اسلامي مجله

دیارلسم کال، دریمه، پرلپسې۷۷مه ګڼه، صفر المظفر۱۴۴۱هق، اکتوبر ۲۰۱۹م

لــــړلیــــك

کڼه	عـــنـــوان	مخ
۱	سرلیکنه	۱
۲	ټرمپ پیغور ساتلی!	۳
۳	امریکایي یرغلګرا او د خدای قهر	۵
٤	د یوه بل جان کیري په لټه کې	۷
٥	هیجده سالګی اشغال و مقاومت؛ وضعیت از چه قرار است ؟	۸
٦	مولوي عبدالسلام حنفي سره د شهامت سره ځانګړې مرکه	۱۱
۷	امنیت شوری، حقوق بشر؛ اسلام او مسلمانان	۱٦
۸	سیمه ییز سفرونه او د اسلام امارت فعاله ډیپلوماسي	۱۹
۹	د یرغل د ورځې ترخه خاطره !	۲۱
۱۰	د لویغالو ځخه د ارګ ترمنځلو قصروتو خورا جنسي تعفن د چا والی	۲۲
۱۱	هیواد بهرنیانو ته اړتیا او ضرورت نه لري!	۲٦
۱۲	امارت او حقوقي مشروعیت یې !	۲۷
۱۳	د جعلي او نمایشي ټاکنو پایلې ولې وځنډول شوې ؟	۲۹
١٤	تر یرغل ۱۸ کاله وروسته	۳۱
۱۵	د افغان سولې په هکله د اروپا او امریکا دریځونه ولې یو نه دي؟	۳۲
۱۵	ګلوریټې پاڼې	۳۴
۱٦	ولس د ډیموکراسي ځکه ، وځکله	۳٦
۱۷	مذاهب اربعه ، ائمه ، تلامذه ، فقهي مناهج أمهات الکتب	۳۷
۱۸	غامدیت د اوسني عصر لویه فتنه	۴۳
۱۹	دملت پرېکون او د ډیموکراسي کچه	۴۹
۲۰	د سوداګرۍ او اقتصادي ودې په اړه دحکومت مسئولیتونه	۵۱
۲۱	دشام ته د امریکایانو وتل او په کردانو د ترکیې حمله	۵٦
۲۲	د کردانو تېر سل کلونه	٦۱
۲۳	د ژوند ترخه خاطره مې !	٦۳
۲۴	پر سعودي بریدونه او خلیج ته نورو امریکایي عسکر راتلل	٦۷
۲۵	طالبان، نمونه ای از جهاد وسیاست معتدل اسلامی	۷۱

دامتیاز خاوند :

دافغانستان اسلامي امارت
دفرهنګي چارو کمیسیون

مسـؤل مدیـر :

ابو ظهیر

کتـنـپـلاوی :

لطیف عزم
حسن '' علوي'' بلال ''وحید''
نعیم '' صافی '' عابد مجاهد
قاري حبیب

بـیـــــه :

یوه ګڼه ۳۵ افغانی او ٦۰
کلدارې په پاکستان کې

تخنیکي مسؤل :

تخنیکي څانګه

یـــادونــــه

شهامت له سرمقالې پرته دنورو
لیکنو مسؤلیت په غاړه نه اخلي.

ادرس : کابل کارته پروان عقب سینمای بهارستان برېښنالیک :Sham.shahamat@yahoo.com

بسم الله الرحمن الرحيم

سرمقاله



په اخطارونو او ګواښونو جنګونه، نه کټل کېږي ....

خوشبختانه! د نیږدې۱۸ کاله اشغال وروسته هم دامریکا لوړپوړي سیاسي اوپوځي چارواکي د ځانو لپاره دتاریخي میړانو او ستروحماسوپنځونکی هیواد (افغانستان) خوندي او مصؤن نه محسوسوي او په ښکاره ورته درسمي سفرونو جسارت نشي کولی

همدا وجه ده چې هر کله هم کوم لوړپوړی امریکائي چارواکی افغانستان ته په رسمي سفر رادرومي ، هغه لکه دغله پشان پټ راځي او بیرته پټ وځي

چې ددي تازه اوژوندی مثال د روان« ۲۰۱۹ز » کال داکتوبرپه۲۱مه،دامریکا ددفاع وزیر(مارک اسپر) او دکانګرس دمشرې (نانسې پلوسې) پټ او نا اعلان شوي سفرونه دي، هغوی دواړو دامنیتي اندیښنو او ډارله امله ونکړای شول چې دزمریو ټاټوبي (افغانستان) ته درسمي تشریفاتوپه بدرګه ښکاره اوعلني سفرونه وکړي

ددې سفر په مهال دمارک اسپر څرګندونې له دې پلوه دحیرانتیا وړ وې چې هغه یوپلو ته دسولې په اړه دځیل هیواد دچمتوالي زیري شیندل خوبل پلوې دسولې پر ضد دجنګي جنایتونو پخواني ګواښونه تکرارول

دتعجب وړده چې یوپلو مارک اسپر دامریکا ددفاع وزیرپه حیث په بزدلانه لهجه دجګړې تشدیدولو ګواښونه او اخطارونه ورکړل خوبل پلوته دامریکا لوړرتبه سیاسي مرکچي زلمی خلیلزاد د نیږدې دوو میاشتو ځنډ وروسته یو ځل بیا افغانستان کې د جګړې پای ته رسولو او دسولې په اړه یوې هوکړې ته درسیدو په موخه داروپایي هېوادونو، روسیې اوچین په سفر راوتی دی.

دسياسي اوپوځي چارو بيطرفه کارپوهان دامريکا دي متضاد کردار ته په کتو دسولې پـه اړه دامريکانيـت او ارادې ته دشک په نظر ګوري او په دي لړکې يې کردار مشکوک او متضادبولي، دهغوی په انـد بريښـي داسـې چـې امريکا دسولې په اړه نښې جعلي او مصنوعي نارې وهي او دزړه نه سولې ته هيڅ ډول ليوالتيا اوژمنتيا نلري.

دامريکايانو دهمدې دوه مخي کردار اوعمل په ځواب کې« چې پـه يووخـت کـې دسولې راوسـتو اود جنـګ تشديدولو» نارې وهي او ددفاع وزير يې وايي « دوی به د طالبانو پر ضد خپـل بريدونـه جـاري سـاتي» داسـلامي امارت وياند ښاغلي ذبيح الله مجاهد پخپل توند غبرګون کې ويلي چې « دالله تعالی په نصرت مونږ ته د نړۍ هـيڅ قوت شکست نشي راکولی اونه مو دچا ګواښوانه او خطارونه د خپل عزم او ارادې څخـه راګرځـولی شي، نومـوړي دګوډاګي رژيم پر پلويانو هم غږ کړی دی چې هغوی دي له عقل او سوچ نه کار واخلي، څرنګ چې دلته د انګريزانو او شوروي اتحاد مزدورانو شکست وخوړو، د ملت او تاريخ په وړاندې سرټيټې شول، همداسې به دوی هـم سرټيټـي او ذليل کيږي»

حقيقت دادی چې امريکاافغانستان کې جګړه بايللې، افغانستان کې نه بلکې په نوره نړۍ کې هـم لـه چـا سره په دې کې شک نشته چې امريکا په افغانسـتان کـې بـری نشيـ ترلاسـه کـولی، نـو د اخطـارونو اوګواښـونو وخـت نورتيرد‌ی او نه په دې سره امريکاجګړې ګټلي شي، ددينه وړاندې هـم ددوی جګـړه مـارو چـارواکو لخـوا داسـې لسګونه ګواښونه او اخطارونه شوي، خو دعمل په ميدان کې يې کومه دپام وړنتيجه نده ترلاسـه کـړې ، نودامريکـا ددفاع وزير تازه ګواښونه او اخطارونه هم دجګړې روان لوری نشي بدلولی او مونږ پوهيږو چې دامريکا دفاع وزيـر غوښتل په دې خيالي اخطارونو سره خپلـو ګوډاګيـانو تـه جنګـي روحيـه او مـورال ورکـړي، او پـه دې سره د خپـل پروپاګند اوتبليغاتو جبهه تقويه کړي .

بناءً مونږ بيا په امريکايي چارواکو غږکوو چې دجګړيزو وحشتونو پرګواښونو چا جنګونه ندي ګټلي اونـه پـه دې سره به دخپلو ډارنو عسکرو پريوتې جنګې روحيه لوړه کړئ ، بايد پوی شئ! چـې اوس حالـت بـدل شـوی، ستاسـو هغـه د۲۰۰۱ زکال ځواک ندی پاته، دافغانانو پولادي عزم ستاسو ټول غروراوبه کړی دی ،ستاسو دا نمايشيـ اخطارونـه او ګواښونه دجګړې مسيرنشي تغيرولی ، ښه داده چې سر له اوس څخه په وازکومې خپل شکسـت اومنـئ او ژرتـرژره خپل اشغالګر در وغواړئ کنه دويت نام انجام مو درپه زړه کړئ! دلته به هم ژر دهغه بد اوشرمونکي انجام تکـرار ووينئ....

صارم

ټرمپ پېغور ساتلی

لـه هغـه وروسـته چې دافغانسـتان داشـغال دخـاتمې مذاکرات يې په وروستي پړاو کې لغوه وبلل دامريکاولسمشر "ټرمپ" يوه نه، بلکې ورڅ افغانستان، طالبان، دافغانستان جګړه او افغانان يادوي اوداسې ښکاري چې پـه يـو ډول دمـذاکراتو بياپيل ته لار جوړوي .

وايي چې په دروغو اوتکلف کې له انسانه ډېرې نـاويلې ويل کيږي اوداسې څه يې له خوله راوځي چې ويـل يـې نـه غواړي، په ټرمپ باندې هم چې دافغانستان دجګړې لورفشـار دی، او دنړۍ له شرمه يې ځان لوی تکلف ته ورکړی ٥ وخـت ناوخت يې خوله په داسې اعترافونو خلاصـه شي چې شـايد دده سياست آو عادي حالت به يې دويلواجازه نه ورنه کړي .

همدا څو ورځې مخکې يې په يوه غونډه کـې وويـل : " خلک دي جګړه له افغانانو زده کړي، افغانان بهترين جنګيـالي دي، مونږ چې دتفريح لپاره دفوټبال لوبه کـوو، طالبـان جګـړه همداسې دتفريح لپاره کـوي، کـه امريکايـان غـواړي پـه دې خبره پوه شي، نو له روسيې څخه دې پوښتنه وکړي"

دامريکادولسمشر له ناآرام وضعيته ښکاري چې نوموړی هره شپه افغانستان اوطالبان په خوب وينـي، او دغـې جګـړې دده روح او بدن دواړه سرګردانه کړي، له هغـه وختـه راهيسـې چې امريکا له طالبانو سره په جګړه پرېوتې له هماغـې ورځـې ترنه يې شايد له هغوی سره په ټـول سياسـت کـې دمـذاکراتو دغه مؤقت توقف لاسته راوړنه وي او بس، ځکه دوی يې چې په وړاندې داشغال په ټوله موده کې کومې حربې وکارولې يـوه هم کارنده ثابته نه شوه او اوس هم داسې ښـکاري چې دغـه دژهرو غوړپ به ېېرته تېروي او خپله لغوه به بيا لغوه کوي .

مذاکرات به بيا پيل اويانه شي، مهم ټکی دادی چـې دا د امريکا دکوم عادي مامور خبره نه ده، بلکـې پـه خپلـه ماتـه او ناکامۍ دامريکا دولسمشر اعتراف دی، چې بايد تاريخ يې پـه زرينو کرښو وليکي او داهم هېره نه کړي بلکې راتلونکو تولـو نسلونو ته دې په پوره امانتدارۍ ورسوي، چې ددې وخـت پـه زر اوبـرق او زور کـې يـواځې طالـب و چـې ديـن، هيـواد او ناموس ته وفادار پاته شو، دابليس هر رنګـه زرنګـي او فريـب يې تعهد ته صدمه ونه شوای رسولای .

خپلې دنګې چنار ځواني يې د دين او وطن نه يې دريغه قربان کړې، نه يې د چا کومو ماديانو ته سترګې وې، نـه يـې د چا داسې منت په ځان منلی، ګران او دسترګو تور اولادونه يې

پرېښودل، دژوند په سختو او تنګو شېبوکې یې هم له خپلې مبارزې لاس وانخیست، دژوند له ضرورتونو او سیالیو یې سترګې پټې کړې او خپل هدف او تعهد ته په وفایې په داسې حال کې په دین او وطن ځان فدا کړ چې په دینایې له همدغو یتیمانو او بې وزله مور او پلار پرته نور هیڅ نه دي پاته .

دنړۍ هر ولس یې مېړانه، وفاداري، حقانیت، قرباني، سیاست، قلم اوپاکي ستايي او په دې معترف دي چې دافغانستان دټول ملت ریښتوني استازیتوب کوي، په حق کې یې ظلم شوی او یواځې همدوی کولای شي دافغانستان خلک په ځان راټول کړي او امن تامین کړي ...

دریغه! چې یواځې خپل هغه افغان مې په دې هرڅه سترګې پټوي چې دیوځو ډالرو په مقابل کې له هرڅه تېر دی، دغو مادیاتو او چوکۍ یې دومره حواس له لاسه ورکړي، چې اوس دآزادۍ او غلامۍ تمیز هم نه شي کولای اودغلامۍ تر یوغ لاندې دازادۍ په جذبه څغلي اوله زړه نه یې ځان دنورو یاڼو جوړ کړی .

د دښمن د سر سري دطالب د مبارزې په ریښتینولۍ اعتراف کوي او داسې په خوند یې مېړانه یادوي لکه چې وایي " مېړه مړ کړه خو مېړانه یې مه وژنه" ولې د دښمن غلام او خیټه خور بریښي بیاپه ډېره ناځوانۍ ناکامې هڅې کوي ترڅو ځان د وطن د دفاع حقدار او هغه پردی وبولي، هغه وخت لرې نه دی چې له خپلې خاورې سره دغدر او خیانت لومړی پېغور به همدغه امریکایان درکوي، د" پیپسي د بوتولونو" په څېر به مو وغورځوي او په څو چنده لوړ بیه د غه دازادۍ طالب ورته قدرمن وي.

دا خبره لرې مه بولئ! امریکا په خپل تاریخ کې ډېره ناځوانۍ چې کړې هغه یې له هغو خلکو سره کړې، چې د دوی دګټو لپاره یې کار کړی او دخپل هیواد او خپلو خلکو پروا یې نه ده ساتلې، هغوی د هټلر دا خبره په یاد لري چې ویلي یې دي " په نړۍ تر ټولو پست او ټیټ خلک هغه دي چې دخپل هیواد په نیولو کې یې له ماسره مرسته کړې ..." دهټلر په دې خبره یواځې شخونډ وهل او یې ځایه توجیه کول ګټه نه لري او نه څوک پرې تېروځي، بلکې دسباپرځای دې نن د کابل امریکایي پالې ښهرې دعبرت او پند په ډول یادانېت کړي او دټرمپ دسبا له پېغوره دې پرې ځان وساتي.

رحيمي

امريکايي يرغلګر!

او د خدای قهر...

په وروستيوکې «واشنګټن ايکزمايند» په نوم يوې نشريې وليکل:

افغان جګړه کې دسلګونو امريکائي عسکروتناسلي الې ړنګې شوي دي او سلګونه امريکائي عسکر افغانستان کې دجګړې په دوران کې عقيم شوي دي

ياده نشريه پخپل راپورکې وايي: افغانستان کې دامريکايي عسکرو ځاني تلفات خورا هيښوونکي اومخ پر زياتيدو دي، ډيره حيرانوونکي ده چې سلګونه امريکايي عسکرو د بدن دمختلفواعضاوو د پايللو ترڅنګ تناسلي الې هم له لاسه ورکړي او له جنسي پلوه هغوی عقيم شوي

يادې سرچينې په «جان هليکينز پوهنتون» کې له هغو ډاکټرانو سره مرکې کړيدي چې دهغوديرې امريکايي عسکرو درملنه اوعمليات يې کړيدي کوم چې په افغانستان کې تپيان شوي دي

«واشنګټن ايکزمانير»نشرزياتوي: تردې مهاله ۱۳۶۷ امريکايي عسکروځخه تناسلي الې دجګړه يزوپيښو له امله ړنګې شوي دي، نشريه کاږي: له دې سره هم مهاله لسګونو امريکايي عسکر وته رواني ناورغې او ستونزې هم پيدا شوي دي، کوم چې په روغتونوکې بستر پراته دي، وايي: له دې پلوه هغوی ډيرځوريږي او خفه دي چې هغوی په افغان جنګ کې دبدن په نازکو حصو معيوب شوي دي

کله چې په ۲۰۰۱ز کال کې داکتوبر په ۷مه نيټه امريکا په افغانستان يرغل وکړ او افغانستان يې اشغال کړ،هغه مهال رسنيو داسې راپورونه خپاره کړل چې

امریکایي یرغلگرعسکر دافغانانو د بې پته اوبې ابرو کولو څخه خوندونه اخلي، آن تردې چې امریکایانو پخپلو اجیرو جنرالانو هم جنسي تیري وکړل، اوه داړو غوږخولو پرمهال یې هم خپل شیطاني عادتونه اوخباثتونه نه پرېښودل او مسلمانانوته یې مختلف ډول اذیتونه ورکول

داسې هم ویل کیدل به چې په لویو ښاروتوکې هره شپه دتورو هندارو په څو موټروکې د ډالرو په بدل کې میرمنې امریکایي بیسونوته بوځي او هلته وربانــدې امریکایي عسکر دلـه یزجنسي ـ تیري کوي، څو ځله دامریکایي بیسونو شاوخوا دوږل شویو نجونو جسدونه هم ومندل شول خو داچې په هرلور دامریکایانو دوحشتونو او ظلمونوراج وو چا یې پرضد غږنشوای پورته کولی

دامریکایانو بیسونو ته دمیرمنو په بیولو کې هغه مهال کمې راغې کله چې پر هغوی دمجاهدینو لخوا فدایي بریدونه دیرشول او ور ته یې ستر ځاني تلفات واړول، دهغه وروسته امریکایان یوڅه محتاط شول، او خانونه یې دسمیټي دیوالونو دننه بند کړل او هم یې خپلو بیسونو ته دافغانانو په ورتګ قیودات ولګول

لیکن بیا یې هم دخپلو حیواني او شیطاني هوسونودتسکین لپاره دبیسونوڅخه بیرون د کابل ښاردخلکو داسترګتوځایونوته نژدي دعیشونو اوفحشاوو لپاره خاص ګرینویج رستورانونه او شراب خاني جوړې کړې، دهغودامنیت لپاره یې هم کلک تدابیر ونیول.هلته ورته دخپلو افغاني مرداګاوانولخوا فاحشې رسول کیدي، خوپه هغو رستورانو او شراب خانوکې هم خوندي نشول ، هغه هم مجاهدینو دفدایي حملو ترپوښښ لاندې راوستلې.په شهرنو، شیرپور، وزیراکبرخان، ګرین زون، میکرویانو او دکابل هوائي ډګر ته څېرمه په جوړوامریکایي سالونونو او شراب خانو یې کامیاب اوبیدریغه بریدونه وکړل اوپه هر

برید کې یې په لسګونه امریکایان مره اوټپیان کړل په دې سره یې یوڅه نورهم ځانونه محدود کړل

دکابل یوشمیرښاریانو پـه وینا؛ کـه مجاهـدین دامریکایانو دخوړو په کلوبونو،او دهغوی پـه شراب خانو بریدونه ته نه وای متوجه شوي اویا ژر هغه خپل پوځي اهداف نه وای ګرځولي شاید دکابل هیڅ واټ بـه داسې نـه وپاتـه شـوی چـې هلتـه دي د امریکایانو اونوروټلخوا دخپلوساعت تیریو لپاره شراب خانې او فحش خونې نه وای جوړې شوې دهغوی په اند: مجاهدین پـه وخت سره متوجـه شول او دامریکایانو دفحش خوررولو پلانونه یې شنډ کړل

رازم د«واشنګټن ایکزماینر» تشریبې راپورته، راپور دا ښیي« چې امریکایي یرغلګر دخدای جل جلا لـه پـه قهر او عذاب کـې ګیرشوي دي، او دنیاکې یې ورتـه داسـې رسواکونکي دردناک عذاب ورکړچې ټول عمربـه خوریږي اوکړیږي.....» ځکه امریکایان په حقیقت کې دبشریت دښمنان دي، دالله تعالی ددین دښمنان دي، امریکایان نړۍ کې دملتونو او ولسونو دخودارۍ او حریت دښمنان دي، هغوی لپاره دهیڅ ملت ملي او دیني ارزښتونه او دهغوی معتقدات ارزښت نلري هغوی دعراق دابوغریب نه نیولي دافغانستان ترزندانونوپورې په تیرو ۱۸ کلوکې کوم متعفن او بدبویه تاریخ پرېښود.هغه دنړۍ په تاریخ کې سابقه نلري هواخوشال یو چې دمیړنیو افغانانوپه تاتوبي کې دزرګونه امریکایانو ککړیو په رغړیدو سربیره زرګونه نوریې دبدن دغړوڅخه دتل لپاره محروم شوي ، که امریکا هنوز نورهم خپل حماقت ته دوام ورکړي او اشغال ته یې دپای ټکی یې کېنښود خدای پاک به یې دلته میشت یرغلګر عسکر پـه داسې ناروغیو اخته کړي چې دټولې نړۍ لپاره به یې عبرت وګرځوي ان شاء الله



یوه بل جان کیري په لټه کې!

احمد مختار

د میزان په شپږمه چې د انتخاباتو په نوم کومه ډرامه تر سره شوه اوس هم د امریکایانو او هم د هغوی د پلوي حکومت لپاره په یوې سترې لانجې بدله شوې ده.

د یادې ډرامې برخوال ټول هغه آزمایل شوي مفسدین دي چې د امریکایي اشغال په ترڅ کې را پیدا شوي ، پرسول شوي او پرملت تحمیل شوي دي.

هغوی دې ډرامې ته تر کاندیداتورۍ وړاندې امریکایانو ته د هغوی د پوځي او استخباراتي مصالحو د تحفظ تعهد ورکړی، که څه هم چې په دې ډارمه کې د ګډونوالو شمیر زیات دی خو واک ته به هغه څوک رسول کیږي کوم چې امریکایان یې له تعهد څخه مطمئین وي.

په تیرو دریو ځلونو کې هرځل د انتخاباتو په نوم تر سره شوې مضحکې د افغانستان په لانجې کې نوې لانجې زیږولې چې وروستی هغه یې د جانکیري تر اشراف لاندې دوه سری حکومت دی چې خپله د امریکایانو لپاره هم په سرخوږي بدل شوی.

خو د سږنیو جعلي ټاکنو پایلې به تر مخکینو هغو ډیرې لانجه منې او له فضیحته ډکه وي.ځکه په دې ټاکنو کې له یوې خوا داسې ماجرا جو اشخاص راټول شوي کوم چې په جنجال جوړولو او ماجرا جوېي کې ښه نوم او اوږده سابقه لري.

او له بلې خوا امریکایان په پلان شوي ډول د دې پروسې شاملین یو د بل خلاف جنګولو ته تحریک او لمسوي.

که دا خبره نه وي د ټاکنیزې پروسې هیڅ کاندید داسې په جرئت سره د هغو څرګندونو جرئت نه لري کومې چې یې د خپلو پلویانو په غونډو کې کوي.

د یادې تقلبي پروسې په پیل کې چې په اصطلاح د ټاکنو خپلواک کمیسون د ټاکنیزو پایلو اعلانولو لپاره دری اونۍ وخت اعلان کړی و اوس همدا کمیسون وایي چې د بایومیتریک دستګاوو د تخنیکي ستونزو له کبله دوي نه شي کولی په خپل ټاکلي وخت پایلې اعلان کړي.

د ۲۰۱۴ کال د ټاکنو د پایلو اعلانولو نیږدي (٦) میاشتې وخت واخیست، په داسې حال کې چې هغه مهال ټاکنیزه سیالي یواځې د عبدالله او غني ترمنځ روانه وه چې بالاخره خبره بیا هم د ټاکنیزو پایلو له مخې نه ؛ بلکې د جان کیري په مداخلې پایته ورسیده.خو اوس چې د حکمتیار غوندي ماجراجویان هم ورکې ورګډ کړل شوی موخه یې داده چې دا پروسه تر تیرځل هم ناندریزه او له ستونزو ډکه کړي.

مونږ ګورو چې د ټاکنو له تر سره کیدو دری اونۍ تیریدو وروسته لا هم د ټاکنو د پایلو هیڅ څرک نه ترسترګو کیږي دا خبره د دې ښکارندویې کوي چې پریکړه به بیاهم د ټاکنو د رایو له مخې نه کیږي؛ځکه اصلا سمې رایې کارول شوې نه دي ؛ بلکې د ټاکنیزې ډرامې هواری به بیا د امریکا د سفارت په وصایت د یوه بل جانکیري په مداخلې تر سره کیږي چې نتیجه به یې تر اوسني دوسرې، فاسد او ګوډاګي حکومت ډیره خرابه وي.

هجده سالگی اشغال و مقاومت؛
وضعیت از چه قرار است؟

حبیبی سمنگانی

اشغال کنونی افغانستان به تاریخ ۷ اکتوبر سال جاری میلادی هجده ساله شد. بلی، بیش از نصف نسل فعلی افغان ها پس از تهاجم صلیبی امریکا و ناتو بر افغانستان به دنیا آمده اند و به گفته مؤسسه حمایت از کودکان، ۱۸ ساله های امروز افغانستان، تمام دوران زندگی شان را در جنگ سپری کرده اند.

زمانی که امریکا و همپیمانان آن به بهانه سرکوبی تروریسم و اصلا به هدف سرنگونی نظام امارت اسلامی بر افغانستان یورش آوردند، افغان ها به تازگی از دور سیاه خانه جنگی ها، ملوک الطوائفی و هرج و مرج نجات یافته بودند و زیر چتر نظام واحد و مرکزی امارت اسلامی به زندگی نوین آغاز کرده بودند. اما حالا که هجده سال از حضور نظامی امریکا و ناتو در افغانستان می گذرد، افغان ها هیچگونه امیدواری از نظام دست نشانده آن ها ندارند و جز حاکمیت دوباره امارت اسلامی هیچ روشنایی برای دگرگونی سرنوشت ناگوار خود نمی بینند.

امریکا و کشورهای ناتو شاید با مصارف صدها ملیارد دالر و از دست دادن هزارن عساکر خود، اهداف زیادی را درین هجده سال در افغانستان و منطقه دنبال کرده باشند و بعضی از اهداف خورد و کوچک را بدست هم آورده باشند، اما آن صدها هزار افغان های که درین دو دهه در صف امریکایی ها ایستاده شدند و زندگی شان را از دست دادند، چه دستآوردی برای ملت و کشور خود دارند و حد اقل برای خانواده های خود چه امتیازی از امریکایی ها گرفته توانستند ؟

ایشان با مزد چند صد دالری و امکانات نظامی امریکا و ناتو در برابر برادران مجاهد خود جنگیدند و حتی از کشتار و شکنجه هموطنان بی گناه و غیر نظامی خود دریغ نورزیدند، اما در بدل همکاری با امریکایی ها برای رسیدن به اهداف استعماری آن ها، آیا دستآوردی برای جامعه افغانی دارند که به آن بنازند و افتخار بکنند؟

خبرگزاری طلوع نیوز در گذارش خود به مناسبت هجده سالگی جنگ امریکا در افغانستان می گوید که ۱۵۰ هزار عساکر اداره دست نشانده کابل درین جنگ جان خود را از دست داده اند. شکی نیست که آمار حقیقی از آنچه گذارش شده بسیار بلند است و شاید چند برابر این آمار زخمی شده اند. ایشان سربازان دموکراسی خوانده می شدند و قربانیان دموکراسی اند، اما حال وخیم دموکراسی درین کشور از هیچکسی پنهان نیست، بلکه این دموکراسی است که برای جامعه افغانی به ناسور تبدیل شده و هر روز فاجعه و بحران می آفریند.

مقامات بلند رتبه رژیم کابل، اگر چه امریکایی های اشغالگر و دیگر متهاجمان غربی را همکاران خارجی و یا شرکای بین المللی خود می پندارند، گویا ایشان با آن ها در تمامیم، پلان ها و برنامه ها مشارکت دارند و مزدوران زرخرید شان نیستند، اما با این چال های کهنه و فرسوده تنها خود را می توان فریب داد. زیرا همه می دانند که اداره بوسیده کابل با تمام دار و دسته اش جز بهانه و ابزاری برای تداوم اشغال، دیگر هیچ ارزش و حیثیتی نزد اشغالگران ندارد و روزیکه اشغالگران ازین کشور بکوچند گلیم این اداره نیز برچیده می شود.

اگر به هجده سال پیش برگردیم و احوال شب و روز های پیش از تهاجم امریکا بر افغانستان را مطالعه کنیم، این حقیقت را درک می کنیم که چهره های افغان نمای که امروز اشغالگران را شرکای بین المللی می خوانند چطور با حقارت و ذلت خود را برای غلامی امریکایی ها پیش کردند و در بدل چقدر پول اندکی خود و کشور و ملت خود را فروختند. چنانچه سازمان استخبارات سی آی ای (CIA) در صفحه رسمی خود در توییتر به تاریخ ۲۰ سپتمبر ۲۰۱۹ م نوشته است :

«به تاریخ ۱۹ سپتمبر ۲۰۰۱ میلادی، هشت روز پس از واقعه یازده سپتمبر افسران سی آی ای ۳ ملیون دالر را در کارتن های کاغذی می گیرند (تا به فرماندهان ائتلاف شمال بدهند)، این پول فرماندهان ائتلاف شمال را قادر می سازد که به سرباران خود بپردازند و تمام قبائل را متقاعد بسازند که بجای جنگ با آن ها، با ائتلاف شمال یکجا شوند» .

باور بکنید، من هرگاه بار اول سکرین شات یا تصویر این توییت را در صفحه کسی دیگری دیدم، فکر کردم شاید فوتوشاپ باشد و برای تبلیغات بکار برده شده باشد. اما فی الفور به صفحه رسمی و تیک مار شده سی آی ای در توییتر مراجعه کردم و دیری نگذشته بود که این توییت را پیدا کردم. بلی، سازمان استخباراتی امریکا طعنه زده است که ائتلاف شمال خود را و کشور خود را در بدل تنها و تنها ۳ ملیون دالر به ما فروختند. آیا مردمی پست همت، فرومایه و سفله تر از ایشان خواهد بود. به گفته شاعر شرق محمد اقبال لاهوری :
قومی فروختند و چه ارزان فروختند.

در جریان هجده سال اشغال مقامات و نیروهای مزدور اداره کابل نه تنها خود شان از هیچگونه وحشت و جنایتی در برابر ملت ستم دیده افغانستان دریغ نورزیدند، بلکه حتی آن مظالم و فجائعی را که عساکر امریکایی و ناتو با اوج قساوت انجام داده اند، سخنگویان دروغ پرداز ارگ، وزارت های داخله و دفاع و به اصطلاح ریاست امنیت ملی، با کمال افتخار بدوش گرفتند و فی الفور در کارنامه خود ثبت کردند. مثلا زمانیکه یکصد و پنجاه نفر ملکی به شمول حافظان خوردسال قرآن در پایان مراسم دستاربندی در ولسوالی دشت ارچی ولایت قندوز در بمباردمان قصدی امریکایی ها به شهادت رسیدند، سخنگویان رژیم بی درنگ این جنایت را حمله بر شورای طالبان خواندند و ادعای از بین بردن چندین عضو شورای رهبری طالبان را کردند. اما هرگاه اصل موضوع در شبکه های اجتماعی بازتاب گسترده یافت، خبر تلفات صدها نفر ملکی رسانه یی شد و احساسات مردم را برانگیخت، ایشان حتی جرات اخلاقی هم نداشتند که اشتباه خود را بپذیرند و یا امریکایی ها را عامل این جنایت بدانند.

واقعه مرگبار دیگری به تازگی به تاریخ ۲۲ سپتمبر ۲۰۱۰ میلادی در هلمند رخ داد، امریکایی های اشغالگر و مزدوران شان مراسم عروسی را بسیار فجیعانه در ولسوالی موسی قلعه، هلمند هدف قرار دادند. بنا بر گزارش بی بی سی دست کم چهل تن غیر نظامی به شمول زنان و کودکان درین فاجعه به شهادت رسیدند (و حداقل ۵۰ نفر دیگر زخمی شدند و ۳ عراده موترهای عروسی و ۶ خانه مسکونی از بین رفتند). عبدالمجید آخندزاده، عضو شورای ولایتی هلمند نیز در کلیپ ویدیویی خود تائید کرد که درین واقعه چهل نفر بی گناه به شهادت رسیده اند. ارگ با اعلامیه ای خبر داد که اشرف غنی هیئتی را به هدف تحقیقات همه جانبه رویداد مؤظف کرده است. اما پس از ۱۶ روز، بجای که عاملان کشتار مردم ملکی تشخیص داده می شدند و محکوم می شدند، مقامات اداره مزدور با انتشار خبرنامه ای که گویا عاصم عمر، رهبر تنظیم القاعده در شبه قاره هند درین حمله کشته شده، تلاش کردند بر جنایت بزرگ خود در هلمند پرده بیاندازند.

اینگونه صدها واقعات مرگبار دیگر تنها امسال در سر سر کشور رخ داده و امریکایی های اشغالگر و رژیم دست نشانده با ادعاهای دروغین تلفات مجاهدین که گویا در ظرف یک هفته یک هزار مجاهدین و در ظرف یک ماه دو هزار مجاهدین را به شهادت رسانده اند، کوشیده اند بر چشم افغان ها، رسانه ها، نهادهای حقوقی و بشری و جامعه جهانی خاک بیاندازند.

اعتراف یوناما، دفتر نمایندگی سازمان ملل در افغانستان بر کشته شدن ۳۹ نفر ملکی به شمول زنان و کودکان در حمله هوایی امریکایی ها در ماه مئی سال جاری میلادی در فراه، مشت نمونه خرواریست که اگر واقعا تمام رویدادهای بمباردمان ها و عملیات های شبانه صادقانه تحقیق شود، هزاران واقعات دردناک دیگر تلفات ملکی در سر سر کشور به اثبات می رسد.

متاسفانه، زمین و فضای افغانستان در هجده سال گذشته تنها یکبار فروخته نشده، بلکه بار دیگر به شکل وقیحانه و بی شرمانه از سوی اشرف غنی و عبدالله در سال ۲۰۱۴ میلادی به بهانه امضای پیمان ده ساله امنیتی، با امضای حنیف اتمر رسما به امریکا فروخته شد. اداره دست نشانده کابل که خود هیچگونه مشروعیت قانونی، شرعی و مردمی ندارد برای نیروهای اشغالگر گویا مشروعیت بخشید که با مصئونیت از هر گونه تعقیب قضایی و جزایی در افغانستان، می توانند هر جنایتی را که بخواهند انجام بدهند.

از همینست که در ۵ سال رژیم چندسره، حتی صدای برای محاکمه کدام عسکر جنایتکار امریکایی در افغانستان بلند نشده است. حال اینست که سازمان ملل متحد در گزارش خود خبر می دهد که ۳۵۰۰ کودک در چهار سال گذشته در افغانستان کشته و حد اقل ۸۵۰۰ کودک دیگر زخمی شده اند. انتونیو گوتیریش، منشی عمومی این سازمان می گوید : «بسیار نگران است که آمار کشتار کودکان در بمباردمان هوایی نیروهای دولتی و خارجی افزایش یافته است». این راپور نشان می دهد که : از سال ۲۰۱۵ تا ۲۰۱۸ میلادی ۱۰۴۹ کودک تنها در حملات هوایی کشته شده اند.

اما.....واقعیت امیدوار کننده برای افغان های رنج دیده اینست که پس از گذشت هجده سال، اگر مقاومت افغان ها در برابر اشغال قوی تر شده، معنایش اینست که نسل قهرمان دیروزی ما با قربانی ها و فداکاری های فراموش ناشدنی شان توانسته اند، روند مقاومت را به نسل امروزی انتقال بدهند. بلی، نسل کنونی ما آماده هستند تا مسیر پر افتخار پدران مجاهد شان را دنبال نموده، با کمال درک و شهامت برای آزادی کشور شان بجنگند و به نصرت پروردگار و پشتیبانی ملت مجاهدپرور خود روزی برسند که همانند ۱۹ اسد و ۸ ثور روز استقلال کشور از استعمار امریکایی را جشن بگیرند و نظام مصفای اسلامی را برای ملت مسلمان خود به ارمغان بیاورند.

بلی اگر صدها هزار افغان های دیگری که در جریان مبارزه و مقاومت هجده ساله، به دست کافران اشغالگر و مزدوران زرخرید شان شهید، زخمی، اسیر، بی خانمان و آواره شده اند، یقینا ارزش و معنای دارد، زیرا ایستادگی در برابر کافران متهاجم و مبارزه برای باز پس گیری استقلال کشور و حاکمیت نظام اسلامی وجیبه دینی و ملی مسلمان هاست و به ویژه تاریخ افغان ها درین عرصه، بسیار روشن و سرمشق برای دیگران است.

نیز استقبال تاریخی افغان ها از پیکر شهید غازی مفتی الله لغمانی تقبله الله و اشتراک هزاران نفر در مراسم جنازه و خاکسپاری او، چراغ امید را در قلب ها داغ تر ساخت. مجاهد نفوذی غازی مفتی الله لغمانی ۱۲ تن عساکر امریکایی را در پایگاه هوایی قندهار به تاریخ ۲۴ سپتامبر (دو روز پس از واقعه دلخراش هلمند) به قتل رساند و خودش نیز در فیرهای متقابل دشمن جام پر افتخار شهادت را نوشید. هرگاه جسد او پس از چند روز به منطقه آبایی اش انتقال داده می شد، امبولانس حامل پیکر او از کابل تا لغمان از هر منطقه که می گذشت صدها و هزارها نفر به استقبال او ایستاده بودند. تصاویر و صحنه های ویدیویی تجمعات مردم نشان می داد که افغان ها با فرزندان قهرمان و فداکار خود چقدر محبت دارند و بر قهرمانی شان می بالند.

مختصر اینکه : افغان ها هرگز به کشورهای اشغالگر سر تسلیم ننهاده اند و نمی نهند، تا امروز مردانه وار رزمیده اند و باز هم می رزمند. بهتر اینست که اشغالگران موقف معقول و اصولی امارت اسلامی را بپذیرند و راه بی نتیجه زورگویی را ترک نموده، برای حل منطقی معضل باید گام های واقعی بردارند و دیگر خود را در جهان از شرم، خجالت و رسوایی نجات دهند.

په قطر کې د اسلامي امارت د سیاسي دفتر اداري مرستیال او د مذاکراتي ټیم غړی

مولوي عبد السلام حنفي

د شهامت سره په ځانګړې مرکه کې:

هر کله چې توافقنامه د طرفینو لخوا د بین المللي ضامنانو په حضور کې لاسلیک او اعلان شي، د هغه وروسته به بین الافغاني مذاکرات پیلیږي

شهامت: ډیر محترم مولوي صاحب عبد السلام حنفي!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

یو جهان مننه! چې شهامت سره مو دخبرو او مرکې په اړه زموږ غوښتنه ومنله، کور مو وداڼ او خوشال اوسئ!

محترم مولوي صاحب حنفي! که تر هر څه دمخه زموږ لوستونکو ته دخپل تیر ژوند په باره کې معلومات ورکړئ چې ولادت موچیرته اوکله شوی؟ دیني زده کړې مو چیرته او کله پیل کړې؟ په ، کومو مدرسو کې مو درسونه ویلي؟ چیرته او کله مو دیني علوم بشپړ کړي؟

مولوي عبدالسلام حنفي:

بسم الله الرحمن الرحیم

نحمده ونصلي علی رسوله الکریم و علی آله واصحابه اجمعین، اما بعد .

دافغانستان اسلامي امارت د فرهنګي چارو کمیسیون د شهامت ورځپاڼې مجلې مسؤل ډیرمعززورور مولوی شمس الدین منصور صیب ! ډیرخوشحال شوم چې شهامت مجلې سره مو د مصاحبې اوخبرو ویاړ راویاښه، الله تعالی مو پخپلو کاروبو کې ټل کامیاب اوموفق ولره.

زما نوم مولوي عبد السلام حنفي د علی مردان زوی په ۱۳۴۸ هـ ش کال کې د قوش تیپې ولسوالی په «ګردن» نوم کلي کې چې فعلا د جورجان ولایت مربوط دی او په پخوانې دولتي تشکیل کې د فاریاب ولایت مربوط و، زیږیدلی یم

لومړنی زده کړې مې د «شیربیګ په ښوونځي» کې تر پنځم ټولګی پورې کړې، وروسته چې کله جهاد شروع شو د خپل کلي «ګردن په مدرسه» کې مې له خپل آکا مرحوم ملا عبدالجلیل آخند نه دیني سبقونه پیل کړل، ادهغه وروسته د شهید مولوی سید مبشرخان رحمه الله څخه مې تر شرح جامی پورې کتابونه وویل، بیا د سرپل ولایت «کوهستانانو» په ولسوالی کې اودفاریاب ولایت «ګرزیوان» ولسوالی د« سرچکان په مدرسه» کې دمرحوم مولوی ایشان صاحب او مرحوم مخدوم عبدالمنان صاحب سره شرح جامی او د منطق کوچني کتابونه وویل، وروسته دهمدی ولایت «بلچراغ» ولسوالی د «قورچی په مدرسه» کې د مرحوم مولوی مخدوم

حمدالله صاحب څخه مې مختصرالمعاني، د منطق څينې کتابونه او اوله هدايه ولوستل، بيا «المار» ولسوالۍ کې «چقتايي په مدرسه» کې د مولوي عبدالعزيز صاحب رحمه الله څخه مې د جامي مقدمه، او بلاغت کتابونه وويل ،دهغه وروسته دفارياب «لولاش» ولسوالۍ د «چشمه سنګين مدرسه» کې د مولوي علام يحی صاحب څخه د مطق لوی کتابونه اود حکمت کتابونه وويل، بيا د«پښتون کوټ» ولسوالۍ «ګيلم باف» مطقه کې د ملا عبدالحار صاحب څخه مو دتجويد اوقرآن کريم کې د«حفص عن عاصم الکوفي» په روايت کې مشق وکړ، بيا مې د باقي علومو دتکميل او تحصيل لپاره ګاونډي هيواد پاکستان لار ونيوه، هغه وخت دپوره مياشت سفروروسته پيسورته ورسيدو، هلته دمرحوم مولوي صاحب محمد نبي محمدي په مدرسه کې مې له مرحوم محمد نعيم آخندزاده صاحب، مرحوم سيد قريش بابا اوجناب مولوي نور محمد ثاقب صاحب حفظه الله څخه د منطق او حکمت کتابونه شروع کړل، بيا دپيښور په کچه ګړی کيمپ کې مې دجناب مولوی نورمحمد ثاقب صاحب سره د رياضي دوره وکړه، دهغه نه وروسته د سوات مارتونګ ته لاړم هلته د مولوی رشيد احمد او مولوی امان الله مارتونګي رحمهما الله نه مې دمنطق او حکمت لوی کتابونه وويل، بيا په ډاګی کې د مرحوم شيخ القرآن والحديث مولنا حمدالله جان (ډاګی بابا) سره مې د قرآن کريم ترجمه، دمناظرې علوم اوعقايدو کتابونه وويل،دهغه نه پس دروستم په خيرآباد کې د شيخ الاصول مولوی نجم الدين صيب څخه اصول فقه کتابونه اوهمدارنګ دقرآن کريم ترجمه مې وکړه، بيا په ضياء المدارس(بورډ) کې د مرحوم شيخ الحديث محمد نعيم آخندزاده صاحب څخه موقوف عليه يعنې وړه دوره وکړه، دهغه وروسته داحاديثو لويې دورې لپاره دارالعلوم کراچۍ ته لاړم، په ۱۴۱۴هجري قمري کې مې هلته لويه دوره وکړه، دلويې دورې په کال مې دبخاري شريف استاد شيخ الحديث مفتي سحبان محمود صاحب رحمه الله، د مسلم شريف استاد مفتی محمدرفيع عثماني صاحب، دترمذي شريف استاد شيخ الاسلام مفتی محمد تقی عثماني صاحب اود ابوداود شريف استاد مولناشمس الحق صاحب وو، همدارنګه ماته هغه وخت د استادانو سره يو ځای

دمولنا صفدر صاحب رحمه الله دشاګردۍ اعزاز هم په برخه شو، دهغه سند د نورو په نسبت عالي سند دی، دپادولو وړده هغه کال ما او يو تعداد نورو ملګرو د ماريګراو ماشام ترمنځ ديو طالب څخهد انګليسي هم ويله، دفراغت وروسته بيا بهاولپور طاهروالی په مدرسه کې د مولنا منظور احمد نعماني صاحب څخه مو د اصول افتاء، صحيحين، جامع ترمذي، بيضاوي شريف هدايه اخيرين،توضيح تلويح، مسلم الثبوت، اونورو استاذانوڅخه شمس البازغه ،د ادب کتابونه، عروض، قوافي، خط،مشق او د قرآن کريم ترجمه وکړه، بيا د کال په اخر کې د رحيم يار خان په جامعه تفسيرالعلوم کې د مولنا خليل الله صاحب څخه مې د ميراثو دوره يعنې نظري اوعملي ميراث او همدارنګه د فتوا نويسۍ طريقه زده کړه، د ياد وني وړبولو چې دطالبۍ پر مهال ماسره به هميش يو ډله شاګردان هم وو ، چې هغوی ته به سبقونه ما پخپله ويل، تر شرح جامي او مختصرالمعاني پورې کتابونه ما په طالبۍ کې تدريس کړي وو ... همدا راز دياوونې وړبولو وروسته له څه وخت نه د انګليسي ژبې په ويلو هم بالفعل قادرشوم اوهم مې د انګليسي ژبې ويلو استاد ترلاسه کړل، پردې علاوه د «قيرغزي او روسي» ژبو په ويلو هم بشپړقدرت لرم، اوشهادت نامې يې لرم او همدراز د کمپيوټر آفس پروګرامونه، بيسيک او اډوانس هارډويراو اکونټينګ مې کړيدي او هم مې په مختلفوهيوادونو کې د روابط بين الملل، ډيپلوماسۍ او دمذاکراتو په هکله په سيمنارونوکې ګډون کړی دی

شهامت: تدريس مو څو کاله اوچيرته کړی؟

مولوي عبد السلام حنفي: ستاسی ددې سوال په ځواب کې بايد ووايم ما سره د طالبۍ په مهال به هميش طالبان وو، هغوی ته سبقونه به ماخپله ويل،له فراغت څخه روسته مې دوه کاله تدريس وکړ، الحمدلله دسلو په شاوخواکې طالبان راسره وو، مختلف فنون مې شروع کړي وو تر ترمذي شريف پورې، البته درسمي دندو په وخت هم په کابل کې د امام ابوحنيفه رحمة الله عليه په مدرسه کې مې مشکوة شريف او د روحصتيو په وخت کې مې د ميراث دوره هم کوله او ۲۰۰۱م

کال را وروسته هم څو کاله مې دمختلفو فنونو، مشکوة شریف او میراثو دوری کړې.

او همدارنګه کابل پوهنتون، حقوقو پوهنځی کې درې کاله د اسلامي ثقافت استاد پاتې یم

شهامت: دطالبانو داسلامي تحریک سره کله یوځای شوئ او بیا داسلامي امارت په دوره کې مو پر کوموډندوخدمتونه کړي؟

مولوي عبد السلام حنفي: کله چې د طالبانو اسلامي تحریک شروع شو ،وکندهاربسار ته طالبان ور سیدل ، زه په اټک کې مدرس وم ، موږ دفارياب ولایت طالبانو همه وخت دجمعیة الطلبة په چوکاټ کې یو نظم درلود، ما او نورو فارغ شویو علماوو تصمیم ونیو چې دځپل معاش او تدریس څخه تیرېږو او دځپلوټولو شاګردانو او د فارياب ولایت مربوط طالبانو سره یوځای دطالبانو له اسلامي تحریک سره یو ځای کیږو، موږ دفارياب طالبان او علماءراټول کړل او د یو کاروان په شکل کې روان شولو، لومړی سپین بولدک ته اوبیا کندهار لاړو، بیا دهغه ځای نه دموږ تشکیل فراه ولایت وشو، زه هلته یعنی فراه ولایت کې دتعلیم او تربیې رئیس وټاکل شوم، اوبیاد کابل دفتح وروسته یو کال لپاره دتعلیم او تربیې وزارت دسرپرست په توګه او بیا دلومړي مرستیال په توګه توظیف شوم، د۲۰۰۱کال وروسته د جوزجان ولایت مسؤل معرفي شوم او څه موده پس د سیاسي کمیسیون دغړي په حیث، بیا دمرحوم امیرالمومنین ملا محمدعمر مجاهد رحمه الله لخوا درهبري شورئ دغړي په توګه وګمارل شوم، وروسته داسلامي امارت دمشرتابه مقام لخوا د مذاکراتي ټیم غړی او دسیاسي دفتر دمعاون په حیث مؤظف شوم

شهامت: بیا اوس موهم دایادي دندې ،ومصروفیتونه شته؟

مولوي عبد السلام حنفي: اوس هم د افغانستان اسلامي امارت یو خادم په حیث دسیاسي دفتر اداري معاون، دمذاکراتي ټیم غړی او هم درهبري شورئ غړیتوب لرم ، الحمدلله دافغانستان اسلامي امارت اهدافو ته درسیدو لپاره پخپل ټول بشري توان او وس په خدمت بوخت یم

شهامت: داچې تاسو اوس داسلامي امارت دسیاسي دفتر داداري مرستیال سربیره له امریکا سره دامارت د مذاکراتي ټیم غړیتوب هم لرئ؛ له امریکایانو سره دتیرو لسو میاشتومذاکراتي بهیر څه ډول ارزوئ؟

مولوي عبد السلام حنفي: باید ووایم په دغه موده کې دافغانستان اسلامي امارت د مذاکراتي ټیم حیرانوونکې کامیابه ډیپلوماسي او تاریخي فعالیتونه دزیات تقدیر ور او مؤثر ، بدون دشک نه دمذاکراتو بهیر طبعاً د «فراز وشیب» څخه ډک و ،ویکې خورا مشکل چیلنجونه پیښ وو، خو بیا هم لله الحمد مذاکراتي ټیم غړو په ډېره لوړه حوصله ،کامل درایت او مړانګې سره دهغوټولو مقابله وکړه،او د دواړو ټیمونو ترمنځ پرته مشکلات یې په معقوله سلیمه منډې او هرسره له منځه وړل، په اړوندو موضوعاتو ددقیق پوهاوي ترڅنګ د دالفاظو ،وعباراتو په انتخاب اوغوراوي کې یې دزیات دقت اواحتیاط نه په کار اخیستو سره کوښش کاوه چې ددې موقع نه مثبته ګټه پورته کړي، لنده داچې زه دمذاکراتي ټیم دیوغړي په حیث مذاکراتي بهیر مثبت ارزوم ،چې یکې دواړو طرفینو ته په لومړي ځل سره پوره موقع برابره شوه څو د یوبل سره په ستورموقضایاوو کې استدلال او مناقشې وکړي

شهامت: امریکا سره په مذاکراتو کې داسلامي امارت سرې کرسې څه وې؛ اوڅه به وي؟

مولوي عبد السلام حنفي: په مجموع کې د افغانستان اسلامي امارت دوه عمده اهداف لري اول د اشغال مکمله خاتمه' دویم د اسلامي نظام حاکمیت ، دا دواړه زموږ د مبارزې اساس وو، او وي به . ان شاء الله

شهامت: ځینې افغانان اندیښنه لري چې د امریکایي ځواکونو داخلاء وروسته به بیا هم یوشمیر امریکایي عسکردلته پاتې وي دغسې اندیښنو ته موځواب څه دی؟

مولوي عبد السلام حنفي: زه ټولو افغانانو ته داډ ورکوم، چې هغه توافقنامه، په کومه چې دطرفینوترمنځ توافق شوی، که چېرې د طرفینو لخوا لاسلیک او عملي شي،نه مخې به یې ټول خارجي ځواکونه د افغانستان څخه وځي،



حتی مشاورین ،روزونکي او يو خارجي عسکر به هم دلته به پاتې کيږي.

شهامت: اياداسلامي امارت دمذاکراتي ټيم په ډيپلوماتيک استعداد افغان ولس ته ډاډ ورکولی شي؟

مولوي عبدالسلام حنفي: د افغانستان اسلامی امارت دمذاکراتي ټيم دغړو په ډيپلوماتيک استعداد پوره اعتماد او ډاډلرو، ځکه چې پکې ټول ښه ثقه علماء، با تجربه اشخاص او داسلامی امارت هغه پيژندل شوي محوري څيرې شتون لري، چې هغوی د تيرو ۲۵کلو په اوږدوکې د مختلفو ازمايښتونو څخه تير شوي دي، الحمدلله ټول په شرعی علوموا وعملي تجربو لرلوسربيره دپوره سياسي بصيرت نه هم برخمن دي، او په عين حال کې له عصري ډيپلوماتيکو نزاکتونو اوغوښتو سره اشنا اوبلددي

شهامت: ايا په امريکايانو دا باور کيدای شي چې هغوی به د نهائي شوي سند د لاسليک وروسته پخپلو کړو ژمنو ولاړپاته شي؟

مولوي عبدالسلام حنفي يو خو دا چې مذاکرات په معنی د ترک جهاد او مبارزي نه دي، که چيرې امريکايان پخپلو کړو ژمنو ولاړ پاتې نشي نو زموږ آزادي غوښتونکي برحقه دفاعي مبارزه به هم د دوی تر مکمل انحلاء پورې دوام ومومي، البته که دا مشکل د خبرو اترو له لارې حل شي دا به بهتره وي، او دا د اسلامی امارت له ترجيحاتو څخه هم ده او بل دا به راتلونکې وخت ثابتوي چې هغوی ژمن پاتيږي کنه؟خو موږبايد هر حالت ته خپله پوره آمادګي ولرو.

شهامت: بين الافغاني مذاکراتو لپاره داسلامي امارت په خاصه توګه سياسي دفتر څومره اوکله چمتوالی لري؟

مولوي عبدالسلام حنفي: دا هرڅه د توافقنامې تر لاسليکولو پورې تړلي موضوعات دي، چې هر کله توافقنامه د طرفينو لخوا دبين المللی شاهدانو په حضور کې لاسليک اواعلان شي ،دهغه وروسته به بين الافغاني مذاکرات پيليږي، د افغانستان اسلامی امارت مذاکراتي ټيم پدې هکله مکمل چمتوالی لري ان شاء الله، کله چې دغه جريان شروع شي، موږ به د رهبري شورى، مشرتابه او درهبريت مقام دلارښوونو سره په هماهنګۍ دبين الافغاني مذاکراتو پروسه پر مخ بوزو، څو له ګران افغانستان څخه اشغال ختم، اسلامي نظام حاکم او سرتاسري سوله راشي او زموږ مظلوم متدين ولس په صلح او آرامۍ کې ژوند وکړي.

شهامت:په راتلونکي نظام کې دميرمنو ونډې اوکارته په کوم نظر ګورئ؟

مولوي عبدالسلام حنفي:د افغانستان اسلامي امارت اساسات اسلامي شريعت تشکيلوي، په اسلامي شريعت کې ټول هغه حقوق چې ميرمنو ته ورکول شوي دي، موږ دهغو احترام کوو او هغو ته ژمن يو، د يادوني وړ ده چې ميرمنې زموږ له ميندو، خويندو، لوڼو او دکور له ميرمنوڅخه عبارت دي او هغوی ټولي زموږ په برحق مبارزه کې سهيم دي، داسلامی امارت دحاکميت پروخت کې هم موږ دغير اسلامي رواجونو مخالف وو، هغه وخت اميرالمومنين ملامحمد عمرمجاهد رحمه الله دڅو فرامينو له لارې ګڼ غيراسلامي رواجونه ختم کړي وو ، او په مختلف ولاياتو کې طب متوسطه او فاکولتو جريان درلود او هم دارنګه په روغتونو او شخصي کلينيکونو کې په اسلامی حجاب سره د ښځو طبي درملنه دښځو لخوا کيده، او همدارنګه دتلاشۍ په ځايونو کې ښځو ونډه درلوده

شهامت: کله چې امريکا افغانستان اشغال کړ، دهغه وروسته يې دوه ګامونه تيز واخيستل اول يې يو اجير دولت رامنځته کړ په دوهم قدم کې يې ديوې جعلي لويې جرګې له

لارې اساسي قانون جوړ کړ، دهغه اساسي قانون په باب دامارت موقف څه دی؟

مولوي عبد السلام حنفي: دافغانستان اسلامي امارت پدې باور دی چې دهیوادلپاره اساسي قانون ضروري دی، البته د کابل اداري اساسي قانون د اشغال تر سیوري لاندې جوړ شوی دی بناءً موږ ته هغه دمنلو وړ ندی، د راتلونکی افغانستان لپاره د نوي اساسي قانون تدوین ته ضرورت دی.

شهامت بدون دشک نه د تیرو۱۸ کلو په اوږدوکې هیواد کې ځیني مثبت پرمختګونه او دخلکو په ژوانداـه کې سبې اسانتیاوې هم راغلي،ځیني خلک تشویش لري چې که طالبان بیا راشي هغوی به دغه مثبت پرمختګونه هم ونه زغمي ایا رښتیا هم داسې ده؟

دافغانستان اسلامی امارت دهیڅ نوع مثبتو پرمختګونو سره مخالفت نلري بلکه پخپله سعې او کوشش کوي چې خپل ملت او خلکوته آسانتیاوې برابرې کړې، دا ټول پروپاګند اود ځیني معرصو کړیو بیخایه افواهات دي هیڅ نوع حقیقت نلري ولس دي په دې موردکې تشویش نکوي.

شهامت: موږ ليدل چې تاسو دامارت په سیاسي وفودو کې ګنو خارجي هیوادوته سفرونه وکړل ایا دخارجي هیوادو او نړی په سوچ او رویه کې داسلامي امارت په باب مو څه مثبت بدلون هم حس کړی؟

مولوي عبد السلام حنفي: الحمدلله دافغانستان اسلامی امارت ډیپلوماتان اوسیاسي استازي پخپل ټول وس او زیار سره توانیدلي چې دسیمې او منطقې هیوادونو ته قناعت ورکړي چې اسلامی امارت سولییز اهداف لري او د متقابل احترام پراساس دنورو په داخلي چارو کې مداخله نکوي او نه نورو ته اجازه ورکوي چې زموږ په داخلی چارو کې دي مداخله وکړي، حتی هغه جهت چې موږ سره دتیرو ۱۸ کلو نه په جنګ کې دی د هغوی په سوچ کې هم ژور بدلون راغلی دی

شهامت: پاکستان ته دامارت دسیاسي دفتر داستازو د وروستي سفر په هدف که لږ رڼا واچوي ؟

د افغانستان اسلامی امارت دولس کسیز لوړ رتبه هیأت چې د افغانستان اسلامی امارت دسیاسی مرستیال او سیاسی دفترد مشر محترم ملابرادر آخند په مشرۍ ګاونډي هیواد پاکستان سفر درلود، دا دپاکستان حکومت په رسمي بلنه او دعوت ترسره شو، داچې پاکستان زموږ مهم ګاونډی ملک دی، او هلته اوس هم زموږ یو نیم ملیون افغانان اوسیږي، دهغوی دستونزو په اړه عړیدل هم ددې سفرموخه وه، هلته دافغانستان اسلامی امارت هیئت ته دپاکستان دبهرنیو چارو وزیر لخوا هرکلی ووېل شو، د ملاقات په جریان کې هغوی سره مود افغاني بندیانو موضوع، افغاني تجرانوته ورپیښې مشکلات، دمهاجرینو مشکلات مطرح کړل، هغوی لخوا ووېل شو موږ پدې هکله کوشش کووچی یاد مشکلات حل کړو او همدارنګه په افغانستان کې د مذاکراتو له لارې څنګه سوله راتلی شي؟ په اړه تفصیلي بحث وشو، داسلامي امارت هیئت لخوا وویل شو د افغانستان ګاونډیان دي مثبت رول ولوبوي اوپه افغانستان کې میشت خارجي ځواکونه و هڅول شي چې ژرترژره هغوی زموږ له هیواده ووځي.

شهامت: ایا امریکا سره بیرته دمذاکراتو دشروع کیدو چانس وینې؟

مولوي عبد السلام حنفي: که چیرې امریکایان بیرته هغو مذاکراتو ته راشي د کومو له لارې چې موږ او دوی دیوې توافقنامې په متن باندې سره ګډ توافق ته رسیدلي وو،نو موږ بې مخالفت نکوو، بیرته د هم هغه ځای څخه ادامه ورکولو ته تیاریو، که دافغانستان قضیه د ډیپلوماسي او مذاکراتو د لارې حل شي ، نو بیا جنګ ته ضرورت نه پاتې کیږي، اوس هم داسې نښې نسانې او قرائن وینوچې ممکن مذاکرات بیرته پیل شي

شهامت: زموږ لوستونکو ته به مو پیغام څه وي؟

مولوي عبد السلام حنفي: د شهامت محلې ټولو لوستونکو ته زما پیغام دا دی چې دافغانستان اسلامي امرت په وطن کې صادقانه سوله غواړي راځئ! چې اولا اشغال ختم کړو، اوبیا خپل وطن کې داسلامی نظام او هر اړخیزې سولې لپاره لاس په لاس شو او د ورونو په څیر خپل وطن آباداو ودان کړو.

پای

ابوظهیر

امنیت شوری، حقوق بشر

اسلام او مسلمانان !!

سږکال دملګرومتونو ۷۴مې کلنۍ سرمشریزې ته دترکیې ولسمشر طیب رجب اردوګان وینا نړۍ کې دعامو مسلمانانو لخوا په تودو جذباتو او احساساتو بدرګه او وستایل شوه، ځکه چې نوموړي هلته دمسلمانانو دزړونو ترجماني وکړه، په خاصه توګه داسراییل غاصب رژیم دوجود اودهغه لخوا په فلسطیني مسلمانانو دروانو ظلمونو خلاف یې سپینې خبرې وکړې او په ملګرومتونو اوامنیت شورى له دې پلوه یې نیوکې وکړې چې دمسلمانانو په اړه یې کردارمشکوک اوپیوطرفه دی،نوموړي امیت شوری کې دڅه کم دوه ملیارد مسلمانانو داستازیتوب قضیه هم ښه په جرئت سره یاده کړه، چې مسلمانانوته امیت شوری کې ونډه بده ورکړل شوي او یکې یواځې پنځو هیوادونوته پراخ و کونه ورکړل شوي، نوره ټوله نړۍ په تیره مسلمانان ترې محروم ګرځول شوي، دنورو سیاسي کتونکویه اند په ملګرو ملتونوکې دانصاف پر ځای بې انصافي روانه ده او هلته جمهوریت نه بلکې دپنځو هیوادنو د فرعونیت راج دی..

ربښتیا هم ملګرو ملتونوکې د مهموپریکړو اصل واک اومرجع امنیت شوری ده، دامنیت شوری اصلی اختیاردپنځو هیوادونو[امریکا، روس، چین، برتانیې، او فرانسې] په لاس کې دی ، همدوی کې دیو غړي هیواد دخوښې او رضایت پرته نورنړۍ اوهیوادونه دکومې پریکړې دکولو واک نلري، ځکه دملګرو ملتونو نړیواله ټولنه په حقیقت کې عبارت ده له همدې یادوپنځوهیوادونو څخه، همدا پنځه هیوادونه دملګرو ملتونو اوامنیت شوری دستیج څخه په ټوله ځمکنۍ کره دحکومت دعوه لري، یا په بل سپیناوي همدوی ټوله ځمکنۍ کره خپل ملکیت بولي! اود پاتې نړۍ خلکو او حکومتونوته د خپلو نوکرانو اوخدمتګارانو په نظر ګوري، اوترې دنوکرانو اوخدمتګارانوپه حیث کارونه اخلي، نړۍ کې د شته ټولو طبعي زیرمو واک هم له دوی سره دی، هر هیوادکې چې لوبې طبعي زیرمې شتون ولري، هغه هیواد ته دوی یواځې دهغو دساتنې او استخراجولو حق الزحمه ورکوي، نور ټول دوی پخپله خو ښه استعمالوي، په دې وجه دنړۍ هیوادونه او حکومتونه دیته مجبور دي چې د دوی فرمانونه وپریکړې هرومرو او پرته دکوم ځنډ و تاخیره عملي کړي

نو داخبره سمه اوپرځای ده چې په ملګرو ملتونوکې دجمهوریت په ځای د فرعونیت راج دی، دانصاف پرځای دظلم راج دی، که څه هم دانوي نکشافات ثبدي بنکې له ورانـدې څخه پرې بحثونه او شنتې دوام لري هرڅوک

پوهیږي چې د نورې نړۍ لاسونه دامنیت شورئ لخوا تړل شوي اواوپه وړاندې تړیوال پیوسه اوییواکه دي

هو! د حالت دنړۍ دمغورلسوټو اوهیوادونوپه اړه چې خاتونه ازاداوحپلواک بولي په حاصه توګه د اسلامی هیوادو په ارتباط خوراتعجب خیردی، چې هغوی یې ولې زغمي؟ اوپرضد یې هیڅ غږنه پورته کوي، سږکال دملګرو ملتونو په نړیواله سرمشریزه کې دترکیې ولسمشر رجب طیب اردوګان چې په کومو احساساتو داسلامي نړۍ دحقوقو غږ پورته کړ، له شک پرته هغه له دې امله دستیلو او شابسي مستحق دی او هم دنړۍ نورو هیوادونه هم دهغه پیروي پکار ده او هم په پوره جرئت سره دمسلمانانو دحقوقو ترجماني دوخت او حالاتو ضرورت دی

لیکن دا لومړی ځل ندی چې په ملګرو ملتونوکې مسلمانانوته دهغوی دشمیر په تناسب دحقوقو اوپه خصه توګه دویټوپاوروصلاحیت ورکولوغوښتې مطرح کیږي، بلکې ددینه پخوا هم په دې اړه د مسلما نو زعماوو لخوا کوښښونه اوغږونه پورته شوي چې هیڅ عمي نتیجه یې نده ورکړې په ۲۰۰۵ز کال کې دسعودي عربستان دهغه مهال بهرنیو چارو وزیر سعود الفیصل هم ملګرو ملتونو کې دمسلمانانو دحقوقوموضوع راپورته کړه اوغوښتنه یې کړې وه که دامنیت شورئ دمستقلو او دیمي غړو په شمیرکې زیاتوالي راځي، نو اسلامي هیوادونه دې هم دخپلې استازولۍ حق ورکړای شي، نوموړي ویلي و که ملګري ملتونه نړۍ ته پر انصاف بانډې ولاړ نظام رښتیا ورکول غواړي باید اسلامي هیوادونه حق ورکړي چې په امنیت شورئ کې ددایمي غړیتوب او ویټوپاور ولري ،څنګه چې امریکا، روس، چین، برتانیا او فرانسا دخپلو خلکو دحقوقو نه هلته دفاع کولی شي ، مسلمانان هم باید هلته خپله دفاع پخپله وکړای شي او دویټو کارولو واک په دې وجه اهمیت لري چې دامنیت شورئ غیر دایمی غړي هیوادونه خودهیڅ کومې پریکړې په ضد غږشې پورته کولی

او دپنځو دایمي غړوڅخه هریوغړی هیواد ختیارلري چې هغه دټولې نړۍ رایه لغوه اوبې اثره وګرځوي، چې دا په ښکاره ډیره بې انصافي او ظلم دی چې یو هیواد کولی شي دټولې نړۍ پرخلاف دخپلې ګټې نه دفاع لپاره دنورې نړۍ په اجماعي رایه بندې دبطلان کرښه راکش کړي

دملګرومتونو نړیوالې اداري په عنوان اوپلمه دامنیت شورئ پنځه دایمي غړي دنړۍ ترټولو زیات واک لرونکي او اختیارلرونکي ځواکونه ګرځیدلي، او کړاو، کرارهغوی لګیدلي دملګرو ملتونو امنیت شورئ ته دیونړیوال حکومت شکل ورکولو کوښښونه کوي، په سائنس،ټیکنالوجي،اقتصاد، صنعت و تجارت اوپوځي ځواک کې مخکې هیوادونه عملاً په نړۍ حکومت کوي اودهغوی ددې واکمنۍ وبرترۍ ترټولو قوي وسله دملګرو ملتونو نړیواله اداره ده اوپه دې کې ترټولو لویه بدنیتي د ده چې دملګرو ملتونو د جوړیدو څخه نیولې ترننه هیڅ یواسلامي هیواد هم دملګرو ملتونو او منیت شورئ په پریکړو اوتصمیمونوکې اساسي واک یا کردار نلري

ددې یوه لویه وجه داده چې دنړۍ ابرقدرت هیوادونه داسلام په نامه دمسلمانانو دجلا وجود او د اسلامي هیوادو امتیازي حیثیت نه مني، د دې ترټولو یوه بله قوي وجه دا همده چې کوم وخت دملګرو ملتونو نړیواله اداره رامنځته کیده، ورته تنظیمي خاکه، او دپریکړو په اړه یې میکانزم تیاریده،هغه مهال دځوهیوادونو پرته اکثریت اسلامي هیوادونه د انګریزي، فرانسوي اوشوروي استعمارګروترمنځ ویشل شوي وو اودهغوی تر بیرغونو لاندې مستعمره وو، توهغوی دملګرو متونو داداري په تشکیل او ورته دقانون په تدوین اوکاري میکانزم جوړولوکې شریک نه وو، په دې سره دنړۍ کفري هیوادونو په خصه توګه یادو پنځو هیوادونه دخپلې خوښې سره سم دنړیوالې ټولنې په اړه دخاکې او قواعدو ضوبطو طی کولو یو طرفه چانس په لاس ورغی، بلکې د حقوق بشریه نامه یې چې کومه اعلامیه دملګرو ملتونو له

اسمبلی ته منظوره کړه دهغې دموادو لپاره یې اصل مغربي ثقافت ،وفلسفه وګرځوله او اسلامي لارښوونې یې بومخ ته پامه وعورځولې ، همدا وجه ده چې دحقوق بشر داعلامیې ګنې مادې دقرآن وسنت دصریحو ،حکمو سره په ټکر کې دي، داچې اوس همدې اعلامیې ته دنړیوال قانون درجه ورکړل شوې نودملګرو ملتونو اوامنیت شورا لخوا چې کومې پریکړې کېږي هغه د همدغه اعلامیې سره موافق کېږي اوبیا دملګرو ملتونو له لارې په ټولو هیوادو کې پلی کېږي

نو دښاغلې اردوګان، یا دهغه نه وړاندې دقذافي اوبیا دهغه نه هم مخکې دسعودي عربستان دبهرنیو چارو دوزیرلخوا، داعوښتنه چې دملګرو ملتونو دامنیت شوری دایمي غړو دشمیر زیاتولو په صورت کې اسلامي نړۍ ته مستقله څوکۍ ورکول پکاردده، یوه جایزه او مثبت غوښتنه ده خو داغوښتنه داسلامي نړۍ دسیاسي مفکرینو په اند،وجو ددې چې جیزه او ضروري ده خو نیمګړې ،وپوره نده؛ په انصاف مبني او د قبولو وړ نده، ځکه چې دملګرو ملتونو په اړه اسلامي نړۍ ته پکاردده چې ترهرڅه دمخه په لاندې دري برخوکې دمنګروملتونو په کردار له سره بیا کتنه وکړې اوبیا دهغه وروسته دخپل راتلونکې په اړه پریکړه وکړي

لومړی:دحقوق بشر علامیه یواځې اویواځې دمغربي فلسفې اوکلتور استازیتوب کوي، پکې ګڼ اسلامي احکام او قوانین نفې کړل شوي دي، له دې وجې په همې پورې اړوند نړیوالومعاهداتو سندي بیا کتنې ته اړتیاده

دوهم.پوځي اواتومي تیکنالوجې چې څو هیوادونودځانو لپاره اجاره کړې، همهوی دخپلو اړتیاوو څخه دزیاتو اتومي وسلوڅخه خپلې زخیرې ډکې کړې خو په نورو هیو دونو یې دملګرو ملتونو له لارې بندیز لګولی چې دې بسیر زیات اغیز په اسلامي هیوادو کړی دی، نو داقانون منصفانه ندی بلکې یوطرفه قانون دی داسلامي نړۍ دحق نفې مترادف دی وربندې بیا کتنه پکار ده

دریم: کوموهیوادوته چې په امنیت شوری کې دویټوواک ورکړل شوی دهغوی په پرتله دنړۍ شاوخوا څلورمه برخه انسانانو او شاوخوا شپیتو حکومتونو ته یې یکې یوه څوکۍ هم نده ورکړې چې له امله یې په نړیوالو پریکړو کې دتوازن کیفیت نه لیدل کېږي اواسلامي هیوادو ته یې سخت زیانونه رسي، په دې وجه ضروري ده چې ،منیت شوری کې څوکۍ دنفوسو شمیرته په پام ورکړل شي او هغه هم تشې نمایشي څوکۍ نه بلکې ویټوپاور هم ورکړل شي ځکه له دې پرته دانصاف غوښتنې نشي پوره کیدی

مسلمانانوته په دې اړه غږپورته کول پکاردی،داسلامي هیوادو نماینده تنظیم (اسلامي کنفرانس) ته کردار ترسره کول پکاردی، ځکه په ملګرو ملتونو کې داصلاحاتو راوستلو په اړه غږونه پورته شوي دي، دنړۍ ځینې مهم هیو دونه هم دا غواړي چې دملګرو ملتونوپه اداره کې دې اصلاحات رامنځته شي او دا اداره دې دپنځو هیو دونو د اجاره داری څخه وویستل شي اوپه دې باندې بحثونه روان دي چې په امنیت شوری کې نور هیوادونه ورګډول پکاردي کنه؟ خو افسوس چې مسلمانان هموز دیو بیدار، خود ر اورستیې قیادت څخه همسې محروم دي څنګ چې دمنګرو ملتونو نړیوالې ادارې دتشکیل پر مهال محروم وو

ولی الله المشتکي!

سیمه ییز سفرونه

او د اسلامي امارت فعاله ډیپلوماسي

قاري حبیب

د تېرې سپتمبر میاشتې په پیل کې په داسې حال کې چې د اسلامي امارت او د امریکې د متحده ایالاتو د مذاکرتي ټیم تر منځ د سولې توافق لیک نهایي مرحلې ته رسېدلی و، د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ د یوه ټویټ په خپرولو سره دغه پروسه ودروله او په دې سره هغه مذاکراتي بهیر ټکنی شو چې له تېرو نهو میاشتو یې جریان درلود او زموږ د ولس تر منځ یې د سولې او له اشغال څخه د خلاصون هیلې را ټاندې کړې وې.

د ټرمپ له ټویټ وروسته رسنیو دا تبلیغات پیل کړل چې دغه ټویټ د طالبانو لپاره یوه لویه سیاسي ضربه ده چې د اسلامي امارت ډیپلوماتیک اعتبار به کمزوری کړي خو د دې ادعاوو او اټکلونو برخلاف د اسلامي امارت سیاسي استازي د ټرمپ له شاتګ او انکار وروسته امریکایانو ته منتظر پاتې نه شول، بلکې سمدستي یې د خپل سیاسي موقف د پیاوړتیا او ملاتړ حاصلولو په مقصد د سیمې او نړۍ مطرحو هېوادونو ته د سفرونو او لیدنو کتنو لړۍ پیل کړه.

د ټرمپ له ټویټ خپرېدو ورځې وروسته د سپتمبر په ۱۴مه نېټه د اسلامي امارت د سیاسي دفتر د اعضاوو هره یوه شېرمحمد عباس ستانکزي، قاري دین محمد حنیف او سهیل شاهین په شمول درې کسیز پلاوی د روسیې پلازمېنې مسکو ته لاړ او د هغه هېواد له چارواکو سره یې د سولې د پروسې په اړه ملاقات او خبرې وکړې. د روسیې چارواکو د اسلامي امارت د موقف ملاتړ وکړ او د مذاکراتي پروسې د تعطیل پړه یې پر امریکایانو واچوله، د روسیې له دولتي تیلویزیون سره په مرکه کې د اسلامي امارت استازي شیر محمد عباس ستانکزي د مذاکراتي پروسې د تعطیل په رابطه وویل چې که امریکایان پر افغانانو بمباري کولای شي او عام کسان وژلی شي نو موږ هم د ځان څخه د دفاع حق لرو.

ستانکزي صاحب زیاته کړه «کله چې ټرمپ له طالبانو سره مذاکرات لغوه کړل پر دوهمه ورځ د بهرنیو چارو وزیر مایک پمپیو بیا وویل چې موږ په تېرو څلورو ورځو کې زر طالبان وژلي دي. نو که دوی زموږ څخه ۱۰۰۰ وژلای شي، موږ ولې ددوی یو او یا دوه ونه شو وژلای؟ دا زموږ مسلم حق دی چې د خپل ځان او بې ګناه ولس څخه دفاع وکړو او د بهرني اشغال خلاف جګړه وکړو.» د موصوف په وینا طالبان اوس هم مذاکراتو ته ژمن دي او پر دې باور دي چې د افغانستان د شخړې حل یوازې په خبرو ممکن دی او دوی تمه لري چې ټرمپ به یو ځل بیا پر خپل اعلان له سره غور وکړي او له همغه ځایه به بېرته خبرې پیل کړي چېرې چې متوقفې شوې دي

د همدې میاشتې په ۱۷مه نېټه د سیاسي دفتر ویاند ښاغلي محمد سهیل شاهین په ټویټر ولیکل چې د ملا عبدالسلام حنفي په مشرۍ د اسلامي امارت یوه هیئت ایران ته سفر کړی دی او د دې هېواد له چارواکو سره یې خبرې کړې دي. د ایران اسلامي جمهوریت چې د افغانستان ګاونډی او د سیمې یو مهم هېواد دی د سولې په پروسه کې یې د اسلامي امارت د موقف ملاتړ وکړ او له افغانستانه د بهرنیو اشغالګرو وتل یې اړین وبلل، روسیې او ایران ته د اسلامي امارت د استازو له سفر وروسته د ارګ ویاند وویل

چې د بهرنيو هيوادونو له لوري د طالبانو ميلمه پالنه د دموکراتيک عرف خلاف عمل دی، هغه تکرروي او ناچيه اعتراض دی چې د ارگ واکمن يې هميشه د طالبانو د سياسي سفرونو په په تکراروي خو تر اوسه ورته هيڅ هيواد اهميت نه دی ورکړی

د سپتمبر مياشتې په ۲۲ مه د سياسي دفتر وياند ساعتي سهيل شاهين رسنيو ته اعلان کړه چې د ا.ا.امارت د سياسي دفتر يو لوړه کچير هيئت د ا.ا. امارت د سياسي مرستيال محترم ملا برادر اخند په مشرۍ، د چين هيو د ته سفر کړی او د دې هيواد په پلازمينه بيجنگ کې يې دافغانستان لپاره د چين د خاص استازي دين شيجو او ورسره هيئت سره وکتل، دو پو خواوو د امريکايي تيم سره داسلامي امارت د تيم په شويو مداکراتو او توافقامي خبرې وکړې. د افغانستان لپاره د چين خاص استازي تاييد کړه چې دغه توافقنامه د افغانستان د مسئلې د سوله ايز حل ښه چوکاټ دی او موږ يې ملاتړ کوو. همداشان ملا برادر آخند ويل موږ د افغانستان د مسئلې د حل لپاره مذاکرات تر سره کړل او يوې هر اړخيزې توافقنامې ته ورسيدو. اوس که د امريکا ولسمشر له خپلې خبرې اوړي او خپلې ژمنې نه مني، نو په افغانستان کې د هر ډول ورانۍ او وينې توئيدنې مسئوليت به يې په غاړه وي. ملا صيب برادر وويل، موږ په هرصورت کې له خپل ولس، هيواد او اسلامي ارزښتونو ته دفاع کوو. د يادونې وړ ده چې د اسلامي امارت استازو په دې سفر کې د چين د بهرنيو چارو د وزارت له مرستيال او نورو چارواکو سره هم مفيد مذاکرات وکړل. د اسلامي امارت هيئت له بيجنگ وروسته د چين شانگهاي ښار ته سفر درلود او له گورو مدکراتو او ليدنو کتنو وروسته بيرته د قطر په هيواد کې سياسي دفتر ته ستون شو

د روسيې، ايران او چين هيوادونو ته له بريالي سفرونو وروسته د اکتوبر مياشتې په دريمه نيټه د اسلامي امارت يوه لوړ رتبه هيئت د اسلامي امارت د سياسي مرستيال محترم ملا برادر اخند په مشرۍ پاکستان ته سفر وکړ. په دې هيئت کې له ملا برادر آخند نه علاوه د سياسي دفتر دغه اعضاء برخوال وو (ملافاضل اخند، مولوي محمدنبي عمري، ملا عبدالحق وثيق، ملا خيرالله خيرخواه، مولوي اميرخان متقي، مولوي مطيع الحق خالص، ملا عبدالسلام حنيفي، مولوي ضياء الرحمن مدني، شيخ الحديث مولوي شهاب الدين دلاور، شيخ الحديث مولوي سيد رسول حليم او انجنير اسحق عزيز)

پاکستان ته د سفر په مهال هم د اسلامي امارت پلاوی داسې استقبال شو لکه په نورو هيوادونو کې. پاکستان چارواکو هم ملا برادر آخند ته د يوه رئيس جمهور په حيث پروتوکول او تشريفات برابر کړي وو، د بهرنيو چارو وزير شاه محمود قريشي د اسلامي امارت پلاوي ته د وزارت له ودانۍ بهر راووت او ښه استقبال يې وکړ

له پاکستاني چارواکو سره په خبرو کې له سياسي موضوعاتو علاوه، د افغان مهاجرينو د پيلابيلو ستونزو په اړه هم خبرې وشوې، د هغوی د تگ راتگ ستونزې، د تعليم، صحت، کاروبار او د ژوند د نورو سهولتونو په اړه هم گټور خبرې وشوې او پاکستاني چارواکو د پوره همکارۍ وعده وکړه. دغه راز افغان تجاران چې په پاکستان کې کاروبار لري يا د پاکستان له لارې افغانستان ته ترانزيتي مانونه وړي د هغوی مشکلات هم ياد شول او له پاکستانه په دې برخه کې د همکارۍ او سهولت برابرولو غوښتنه وشوه

په داسې حال کې چې د مذاکراتو له پروسې د امريکايانو د شاتگ لا يوه مياشت نه ده پوره شوې، د سيمې غښتلو مطرحو او مهمو هيوادونو ته د اسلامي امارت د استازو سفرونه، له هغوی سره گټور مذاکرات او د هغوی لخوا د اسلامي امارت د موقف تاييد او ملاتړ د دې ښودنه کوي چې اسلامي امارت الحمد لله د نظامي ډگر غوندې په سياسي ميدان کې هم فعال او بريمن دی.

د اسلامي امارت فعالې ډيپلوماسۍ اوس په سطحه کچه دا ځای رامنځته کړی چې بايد اشغالگر ځواکونه د افغانستان له خاورې ووځي. د سيمې ټول هيوادونه چې پخوا يې د اشغالگرو ملاتړ کاوه او اسلامي امارت ته يې د ترهگرې ډلې په نظر کتل، اوس يې په اساسي شکل دريځ بدل شوی دی، اوس د اسلامي امارت د مواقفو ملاتړ کوي، اسلامي امارت د افغان ولس واقعي نماينده او د راتلونکي افغانستان واکمن بولي، نو ځکه يې په لوړه سطحه استقبال او له مواقفو ملاتړ کوي. په سياسي ډگر کې دغه فعاليت د جهادي اهدافو د ترلاسه کولو په لار کې حياتي اهميت لري او د اسلامي امارت نړيوال اعتبار نور هم ورسره زياتيږي



د بېرغل د ورځې ترخه خاطره!

پر افغانستان د امریکايي یرغل لومړنۍ شپه وه چې د لومړي ځل لپاره امریکايي بي ۵۲ ډوله الوتکې د کابل پر فضا راښکاره او د دې ښار پیلابیلې سیمې یې تر اور لاندې ونیولې.

د امریکايي بمبار پیلېدل د کابل ښار د شمال د جګړې په لومړیو کرښو کې د شمالي ټلوالې د ځواکونو لخوا په خورا ولولو استقبال شو.

ډاکټر عبدالله، عبدالله له بي،بي،سي ، امریکاغږ، او آزادۍ راډیو سره په مرکو کې په کابل ښار کې د په نښه شویو ځایونو په اړه معلومات ورکول.

نوموړي له امریکا غږ سره په خپلې لومړنۍ مرکې کې وویل:

((امریکايي الوتکو د کابل په ښار کې د طالبانو مراکز او مېشت ځایونه په دقیق ډول په نښه کړي دي، په یادو ځایونو کې ارګ ، دفاع وزارت، د استخباراتو ریاست، هوايي ډګر او ځینې نور حکومتي تأسیسات شامل دي.))

هغه وخت د نوس په څېر اتصالاتي اسانتیاوې، موبایل ټیلفون ، فیس بوک ، واټساپ او ټلیګرام نه وو چې سمدستي پر کابل ښار د امریکايي بمبارۍ د تلفاتو معلومات وشي.

د معلوماتو تر لاسه کولو لپاره به ایجاب کېده چې باید سړی د پېښې ځای ته ورشي تر څو ووینې چې هلته څه پېښ شوي دي.

زه هم د دې لپاره چې د ماښامنۍ بمبارۍ د تلفاتو معلومات تر لاسه کړم، لومړی په وزیراکبر خان مېنه کې د الجزیره شبکې دفتر ته ورغلم، هغوی وار تر له مخه خپل اړوند ژورنالیستان د ښار په حاکمو نقطو، لکه تلویزون تپه او ځینو نورو ځایونو کې ځای پر ځای کړي و، تر څو د بمبارۍ په مهال وکړای شي له همدې مرتفعاتو څخه فلمبرداري وکړي.

هغه مهال له نړیوالو تلویزیوني شبکو څخه یوازې الجزیره او سي ان ان تلویزیوني شبکې وې چې په کابل او کندهار کې یې دفترونه لرل.

الجزیره دفتر ته په ور رسېدو سره د هغوی د ژورنالیستانو له یوه ګروپ سره د کابل د یکه توت سیمې ته ولاړو .

په یاده سیمه کې امریکايي الوتکو د ماین پاکۍ مؤسسې یو مرکز هم بمبار کړی و چې ۵ تنه افغان ماین پاکان ورکې وژل شوي وو.

د یادو وژل شویو کسانو د جسدونو ډېری برخه د امریکايي بمونو پرچو له منځه وړي اوجسدونه یې په ډېر تکلیف سره د ودانۍ له خاورو خښتو څخه را پسټل شوي وو.

له بمبارشوې ودانۍ سره نیږدې د رنګ دیوال سیوري ته داجسدونه پراته او یو تن ټنګی ځوان یې سرته ناست و.

نوموړي ځوان له خلکو او ژور نالیستانو سره د خبرو توان له لاسه ورکړی و.

هغه په وژل شویو کې د یوه تن ورور او له ټولې بمبار شوې ودانۍ څخه یوازې ژوندی پاتې شوی کس و.

صحنې ته ورغلیو ژور نالیستانو چې هر څومره د پېښې د ځرنګوالي په اړه ترې پوښتنې کولې د ده ستونی له غریبه ډک و او هیڅ یې نشوای ویلی.

دا صحنه ډېره ځوروونکې او له تراجیډۍ ډکه وه.

کوم کسان چې له ودانۍ څخه د شهیدانو د جسدونو را ایستلو لپاره راغلي وو د هغوی ټولو سترګې هم په اوښکو لمدې وې او په دې فکر کې وو چې نور به په امریکايي بمباریو کې څومره دغه ډول بوږنوونکې صحنې وینو.

نن چې د یرغل له هغې تورې ورځې ر هسې پوره اتلس کلونه تیرشوي نیږدې هره ورځ زموږ د هېواد په هر کلي کې د امریکايي وحشت دغسې بوږنوونکې صحنې تکرارېږي چې په نتیجه کې یې تر اوسه په سلګونو زره بېوزله افغانان چې ډېری یې ټنګي ماشومان او تور سرې دي وژل شوي او ژوبل شوي دي.

په افغانستان کې د امریکايي اشغال دغه وحشي۔ کړنې ټولې د قانون او دیموکرسۍ د حاکمیت تر نامه لاندې تر سره کیږي او څوک چې د همدې وحشي اشغالګرو په مقابل کې له خپل دین، خاورې او خپل حق څخه دفاع کوي هغوي د نړیوال ثبات او امنیت ګواښلو په پلمه وژل کیږي، نیول کیږي ، او ځورول کیږي

د لوبغالو څخه د ارګ تر مجللو قصرونو خور!

جنسي تعفن د چا دالی ...؟

بشیر ارمان

دفوټبال نړیوال فدراسیون(فیفا) دکابل اجیر رژیم دفوټبال یو پخواني چارواکی په پنځه کاله بندیز او په لس زره ډالرجرمانه محکوم کړ...

محکوم شوی چارواکی دفوټبال فدراسیون پخواني سکرتر جنرال(علي رضاآقازاده) دی، دافغانستان فوټبال دځو ښځینه لوبغاړو له لوري پر همه دجنسي ځوروونو تورونه لګول شوي وو ، دتورونو دڅېړلو او اررولو وروسته فیفا(دفوټبال نړیوال فدراسیون) لخوا علي رضاآقازاده مجرم او ترپنځوکلوپورې دفوټبال په هرډول فعالیتونو کې دګډون کولو څخه محروم وګرځول شو او هم لس زره ډالرجرمانه شو

دفوټبال پر ښځینه لوبغاړو دجنسي تیریو خبرونه هغه مهال درسنیو لخوا راپورته شول چې کله دروان ۲۰۱۹زکال جون میاشت کې ددغه فدراسیون په مشرکرام الدین کریم هم دپنځو ښځینه لوبغاړو لخوادجنسي ځورونو دتورونو لګولو وروسته دفوټبال نړیوال فدراسیون(فیفا) له لوري هغه پر اوګرم وپیژندل شو او دټول عمر لپاره فوټبال کې دفعالیتونو څخه محروم او شاو خوا یوملیون ډالر جرمانه شو.

دیادونې وړده چې د اجیر رژیم لویې څارنوالی هم کورنیوچارو وزارت ته دکریم دنیولو امر ورکړی وخو دیا د وزارت پولیس ترپایه دهغه پر نیولو ونه توانیدل، لویې څارنوال په ځلونو دمحرم نه وغوښتل چې خپله څارنوالی ته حاضر شي لیکن هغه ترپایه پرې حپل غوږ هم ونه پروه، دهغه وروسته دفوټبال نړیوال فدراسیون لخوا دجنسي ځورونو یاده قضیه وڅېړل شوه او په پایله کې یې کرام الدین مجرم وپیژندل شو

ښځینه لوبغاړوتور لګولی و، چې د۲۰۱۳ نه تر۲۰۱۸ زکاپورې دفوټبال فدراسیون مشر اوپورو چارواکو پرلپسې پردوی جنسي تیري ترسره کړي او دوی یې په زور اریستلې چې ور سره په جنسي اړیکې ساتي..

دمزدور رژیم دننه دجنسي ځورونو او محشاوو دالومړی پیښه نده چې هغه پرې شرم یا خجالت محسوس کړي، ددېنه وړاندې او وروسته هم داسې ګڼې پیښې درسنیولخوا نشرشوې چې دګوډاګي رژیم پر واکمنو دجنسي تیریوتورونه پورې شوي، حتی تردې پورې جوته شوه چې آن خپله ارګ او وزیران یې مخامخ په دغو بیشرمانه ځورونو اوکړنوکې ښکېل دی، په دې اړه دبي بي سي لخوا یو نشرشوی راپور دژوندي مثال په توګه وړاندې کوو

د حکومت یوه پخواني کارمندې د نوم نه ښودلو په شرط حپله کیسه کې داسې وویل:

د اشرف غني د حکومت یو مهم مشر وزیر په کراتو مراتو هغه دجنسي پلوه ځورولې ده او یوه ورځ یې په خپل دفتر کې کوښښ وکړ چې لاس ور وړي.

»هغه [وزیر] راته مستقیما د جنسي اړیکو غوښتنه وکړه. ما ورته وویل ما زده کړې کړې او تجربه کاره یم. ما هېڅکله داسې فکر نه کولو چې تاسو به ماته داسې څه ووایئ. زه له خپله جګه

شوم خو له دفتره ووځم. هغه [وزیر] زما لاس ونیو او دخپل دفتر شاته کوټې ته یې بوتلم. هغه زه کوټې ته ننباسلم او راته یې ویل اندېښنه مه کوه، راځه محض د څو دقیقو خبره ده.»
«ما هغه ټول وهلو او ورته مې وویل چې بس. ما مه مجبوروه چې چیغې ووهم. دا اخري ځل و چې ما هغه ولید. زه ډېره غوسه او خفه وم.»

بي بي سي له یادې کارمندې پوښتلي چې پولیسو ته یې د پېښې په اړه شکایت کړی؟

هغې ویلي: «نه، ما استعفا ورکړه. زه په حکومت هیڅ باور نه لرم. که تاسو محکمې یا پولیسو ته ورشئ هلته به وګورئ چې هغوی څومره فاسد دي. داسې مصئون ځای تاسو نشئ پیدا کولای چې ورشئ او شکایت وکړئ، که خبره کوئ هر یو ښځه ملامتوي.»

یادې کارمندې بي بي سي ته د دوه نورو ښځینه کارمندانو کیسې هم کړي چې د وزیر له خوا پرې په زور جنسي تیری شوی دی.

هغې ویلي چې یاد وزیر « پرته له کوم داره دا هر څه په سپین سترګی سره کوي، او هغه [وزیر] په حکومت کې یو بانفوذه کس دی.»

افغانستان په تېرو کې د ښځو لپاره یو له بدترینو هیوادونو څخه دی. په داسې حالاتو کې د جنسي ځورونو په اړه خبرې کوم اسانه کار نه دی.

له همدې کبله شپږو ښځو چې بي بي سي ورسره مرکه کړې هغوی د نومونو شودلو او د دوی د کیسو خپرولو څخه داریدلې. خو د بي بي سي څېړنو ښودلې چې جنسي ځورونې د ګدحکومت یوه وزارت یوه فرد پورې محدود نه دي، بلکې هره اداره او هر وزارت کې دغه ستونزې شته دی.

بي بي سي ته یوې بلې ښځې چې په حکومت کې د وظیفې لپاره یې غوښتنلیک ورکړی و خپل کیسه کړې ده. هغې د وظیفې لپاره ټول شرایط پوره کړي وو او بیا ترې وغوښتل شول چې د اشرف غني یو نیږدې مشاور سره وګوري.

هغې ویلي: «دا سړی له ولسمشر سره په عکسونو کې ښکاري. هغه له ما وغوښتل چې شخصي دفتر ته یې ورشم. هغه ویل راشه او کینه، زه دې اسناد تاییدوم. هغه ماته رانږدې شو او بیا یې ویل راځه چې یو څه وڅښو او سکس وکړو.»
«ما دوې لارې لرلې، لومړی دا چې دده غوښتنه قبوله کړم بیا یې رد کړم. که ما یې غوښتنه قبوله کړې وی بیا هم دا خبره پر دې نه بس کیدله، نورو ډیرو نارینه وو به هم له ما د جنسي اړیکو غوښتنه کوله. دا ډیره تکان ورکوونکې وه. زه وداره شوم او دفتر مې پرېښود.»

بي بي سي له یادې انجلۍ پوښتلي چې وظیفه یې بیا څنګه شوه؟ هغې ورته ویلي چې حکومتي ادارو سره یې ډیرې اړیکې ونیولې خو هغوی ورته ویل: «فکر وکړه چې چا ستا بانک اکونټ ته پیسې داخلې کړې خو تا پریکړه وکړه چې نه یې اخلم».

نوموړې په اوښتلو سترګو یل چې د دې خبرو له وجې یې د شپې خوب تیښتیدلی دی.

که قاضي ته، پولیس ته، څارنوال ته شکایت کوې ټول به درته د جنسي اړیکو (سیکس) غوښتنه کوي. چې دوی دا کارونه کوي نو چاته بیا ورځې؟ داسې ښکاري لکه دا هر څه چې اوس زموږ دکلتور برخه ګرځېدلې وي چې شاوخوا هر سړی غواړي جنسي تیری ورباندې وکړي.»

د بي بي سي د راپور پر اساس دغه کیسې تر هغه وخته پټې پاتې وې یا محض یې په اړه پس پسې کیدلو تر څو د ولسمشر غني مشاور جنرال حبیب الله احمدزي په یوه مرکه کې په ارګ کې له فحشا څخه پرده پورته کړه.

هغه د حکومت لوړ پوړي چارواکي او سیاستوال د زنا په ترویج تورن کړل.

بي بي سي غوښتل چې د ولسمشر دفتر سره په دې اړه مرکه وکړي خو هغوی هم له مرکې انکاري وړ او هم یې د ایمیل له لارې استول شوي سوالونه ځواب نه کړل.

پخواني وکيلې او د حقونو فعالې نوزيه کوفي هم په حکومت کې د جنسي ځورونو په اړه راپورونه تاييد کړي دي. هغې ويل چې «د حکومت ځواب دفاعي و. هغوی دې ته د يوې سياسي مسئلې په توګه ګوري، نه داسې چې دا د ټول افغانستان د سختو مسئله ده.»

دیادونې وړ ده چې دارګ په مایو کې دجنسي- ځورونو قضيو خو دتريوالو رسنيو سکريبوله ډک کړل، او تريوالو هم داوسنې حکومت په بې دريغې بې باکۍ، فساد، جنسي ځورونو او نورو نظام صد کړنو دشرم احساس وکړ.

د اشرف غني سلاکار جنرال احمدزي دندې څخه دخپلې استعفا لوی لامل په ارګې کې دفحشاوو او جنسي- اړيکواوج يادکړی و، نوموړی نه يواځې په خپل دريځ او څرګندونو ټينګ پاتې شو؛ بلکه دده دکړيو ادعاوو دتائيد لپاره يوې پخواني دولتي کارمندې هم دتائيد مهر ته ټک ورکړ..

کله چې دجنرال احمدزي له خولې دارګ دننه دفحشاوو اوجنسي ځورونونکلونه تررسنيو ورسيدل په خواله رسنيوکې يې پوشمېر فعالانو دده دخبرو په تائيد کې ليکنې وکړې، البته هغه ته يې هم دملامتۍ ګوته ور اړوله چې ولې يې دا رازونه پخوا نه افشا کول.

يو فعال افغان د ارګ اوفحشا ترعنوان لاندې ديوشمېر دولتي چارواکو دنومانو له ذکر کېدا سره ليکلي، د دې سړي(احمدزي) دشخصيت په اړه هم ملاحظات شته، اما څه يې چې وئيلي حقيقت لري

ارګ کې د مېرمنو خصوصاً پيغلو څخه د ارتقأ په بدل کې د وزير اکبرخان، شهرنو، کارته ۳ کې شخصي ميلمستونو کې د خصوصي پارټۍ، او يا د ګواه، دوبۍ، استانبول لنډ چکر غوښتنه کيږي. او بيا يې د ګومارتې پيشنهاد د ولسمشر- د ميز پر سر اينودل کيږي.

په دې اخلاقي فساد کې ډيری ارګخيل اخته دي، چې واره يې بيا لويانو ته سپلاۍ يا مردګاوي هم کوي. له دې ولې شکرالله مشهور په مشعل، سلام رحيمي ته سپلاۍ کوي، چې ښه بيلګه يې منيره يوسفزاده ده.

او داوود نورزی سره داجمل غني، وزيراکبرخان کې د ټلبرابيرانو سره بريښدې پارتيانې کوي. د خارجي سفرونو لړ کې د ديوه صمد او داوود نورزي د استانبول يو هفته يي چکر ته اشاره کوو چې د راستنيدو سره يې جوخت [ديوه صمد] د عامې روغتيا وزارت مرستياله وټاکله.

په دې لړکې تازه جريان دادی چې دافغان ښځو شبکې په داوروستيو کې ترې پرده پورته کړې هغوی ادعاوې کړي

چې د ولسي جرګې د انتخاباتو پر مهال ګمې ښځې له جنسي ځورونو سره مخ شوې، دې شبکې په پنځه مياشتنيوڅېړنو کې موندلې چې د ګڼو نورو ستونزو تر څنګ د انتخاباتو په پروسه کې جنسي ځورونو او نامشروع غوښتنو په سياسي چارو کې د ښځو د ګډون پر وړاندې ستونزې جوړې کړې دي. اوپه ورپسې هغه ځوانې نجونې چې چارواکوسره دجنسي- اړيکوپه نيولو راضي شوې دي، هغوی دولسي جرګې په ټاکنوکې بريالۍ ګڼل شوې او چې کومو انکار کړی دی دهغوی نومونه دباتي شويو کانديدانوپه نوملړکې اچول شوي دیادې شبکې لخوا دغه څېړنه د هېواد په ۷ زونونو کې ترسره شوې او په ترڅ کې يې له ۵۵۲۵ کسانو سره مرکې کړې دي..له کابله ولسي- جرګې ته نوماندې فهيمه بابکرخېل ازادي راډيو ته ويلي چې د انتخاباتو خپلواک کمېسيون د پخواني رهبری ضرو ترې ناوړه غوښتنې مطرح کړې وې.

دهغې په وينا"يوه ورځ د انتخاباتو د کمېسيون له چارواکو راته زنګ راغی او ځينې خبرې يې راته وکړې، بله ورځ يې بيا راته زنګ وواهه، راته يې وويل چې غواړم ودې ګورم، ډېره مهمه خبره ده، ما ويل، څنګه؟ بيا يې راته يوه خبره وکړه چې هيڅ راباندې ښه ونه لګېده، ويې ګواښلم او راته يې وويل، که رأيې هم ولرې، بريالۍ کېږې نه او موږ د ساېتونو تر شا يو که رعواړو رأيې زياتولی او يا هم کمولی شو".

په ورته توګه نظیمه بارکزۍ چې د ولسي جرګې د انتخاباتو پر مهال په ننګرهار ولایت کې یې د ځارونکې په توګه دنده ترسره کوله، وایي چې په دغه ولایت کې د نا امنیو تر څنګ جنسي ځورونو هم ښځو ته ستونزې جوړې کړې وې.

دهغې په وینا" په ننګرهار کې هغه ستونزې چې موجودې دي، خوېندې په رښتیا هم له زیاتو ستونزو سره مخ وې، یوه یې د جنسي ځورونې او بله د هغوی نه‌خوندیتوب وو".

د جوزجان اوسېدونکې فوزیې په وینا: په دولتي دندو د مقررۍ پر وخت پر پیسو سربېره ترې نا مشروع غوښتنې کېږي .

د جوزجان یوې بلې اوسېدونکې شریفې هم ویلي، څو ځلې یې ځینو ادارو ته د کار لپاره سر ور ښکاره کړی، خو د دندې په بدل کې ترې پرلپسې نا مشروع غوښتنې شوې دي .جوزجان کې د بشري حقونو ساحوي دفتر مشر مغفرت صمیمي هم منلې چې په دولتي ادارو کې ښځینه کارکوونکې له جنسي- ځورونو سره مخ دي. یوشمېر جوزجاني مېرمنې نور پورې کوي چې تر دې وړاندې هم په دولتي ادارو کې د ښځینه همکارانو د جنسي- ځورونې شکایتونه رسنیز شوي دي، خو په اړه یې کوم جدي ګام نه دی اخیستل شوی.

ددې بې شرمیو پر دوام څه موده وړاندې د سرپل ولایت دمخکیني والي (بارو) په څنګ کې د ځوو ښځو سره یوځای ویستل شوي عکسونه رسنیز شول چې له خپرېدو وروسته حکومتي سرچینو د دې ولایت په مقام کې د اخلاقي فساد خبرونه هم ورکړل.

د وردګ ولایت لپاره څو میاشتې مخکې مقرر شوې ښاروالې ظریفه غفاري هم ادعا کړې چې د رئیس جمهور مشاور محمد موسی هوتک ورته دجنسي اړیکو په بدل کې دښاروالۍ دنده سپارلې.

یوشمېر څېرونکې بیا وایي چې نېږدې دټول هېواد په ادارو کې جنسي ځورونې، اوپه کاروبارونـدې دمېرمنو دګومارلوپه بدل کې دهغوی څخه دجنسي- اړیکوپولـو غوښتنې کېږي خو داچې ځینې مېرمنې رسنیو ته لاس رسی نلري اوياداچې ځینې مېرمنې هڅه کوي چې بیرون ته یې رازونه افشا نشي- نور په مجموع کې دهېواد په وزارتونو او ادارو کې دمېرمنو دکار لپاره مصؤنیت نشته، ګام په ګام هغوی په جنسي ځورونو ګوښل کېږي او هم دارتقاء ورکولو په لالـچ ورڅخه دجنسي- اړیکو جوړولو غوښتنې کېږي

په داوروستیو کې ناڅاپه دځینو مهمو وزارتونو په کلیدي معین بتونو[لکه دکورنیو، دفاع، روغتیا اوسورو] دځوانو نجونو مقرریدلو ترشا دارګ دجنسي هوس بازانو لاسونه شتون لري اوس دا بدمرغه کیسه دومره عامه شوې چې داوسني رژیم عادي نه عادي چاروکي هم پکې ښکیل دي نو دفوټبال دنړیوال مډراسیون وروستي پریکړې داوسني رژیم کرغېړنه څېره لاپسې رسوا کړه چې په نړیواله سطحه ددغه ډول ځورونې اوبد اخلاقي ته زغمل کېږي خو ملعون ارګغني او دهغه حکومت یې په اړه پروا نلري نو دلوبو دمیدانوڅخه دارګ تر مجللوماڼو دخواره جنسي تعفن په خوړولو کې په لوړه کې امریکا او بیا دهغې اجیر رژیم لاس لري، غواړي په دې سره افغانستان کې دحرمونو، ناامیانو او بد اخلاقانو شمېر سیوا کړي که افغان ملت پورته نشو او ددې کفر پر خلاف یې د مجاهدینو مټې مضبوط نکړي هغه ورځ لرې نده چې د کابل کې دلویو لارو په سربېره د زنا، بد اخلاقیو او مرداګاویو اډې جوړې شي دخدای لپاره ! راووزئ او ددې بدحالت نه ځانو ته د نجات مندلو په باب غور وکړئ.

* * *



هېواد بهرنيانو ته اړتيا او ضرورت نه لري

د کابل رژیم د مشر ویاند له هېواده د امریکایي ځواکونو د ایستلو د دریځ د تکرار په اړه د امریکا د ولسمشر ډونلډ ټرمپ د څرګندونو په غبرګون کې ویلي چې افغانستان لا هم د بهرنیو ځواکونو پاتې کېدو ته اړتیا لري.

ویاند زیاته کړې چې بهرني ځواکونه باید تر هغو جګړه روانه وساتي تر څو امریکا او افغانستان ته 'متوجه ګواښونه' ختم شي.

د کابل رژیم مطبوعاتي چارواکي هر ځل له هېواده د بهرنیو ځواکونو د وتلو د خبرو د ګرمېدو پر مهال عمومًا همدا ډول څرګندونې کوي. کله چې د اسلامي امارت او امریکایي مذاکره چیانو ترمنځ خبرې روانې وې، هغه مهال هم د کابل رژیم مشر له ډونلډ ټرمپ څخه غوښتي وو چې باید ټول ځواکونه ونه باسي، پرځای به یې دوی مصارف راکم کړي.

اوس، لومړی باید دا معلومه شي چې آیا افغانستان رښتیا هم بهرنیو ځواکونو ته اړتیا لري؟ د بهرنیو ځواکونو شتون د هېواد پر خپلواکۍ او خمکنۍ بشپړتیا بریښو تېری دی. د دې تېري په مقابل کې مبارزه کول هم دیني او هم ملي مسؤلیت دی، چې افغان ولس یې د اسلامي امارت په مشرۍ له تېرو ۱۹ کلونو راهیسې په ډېر ښه ډول پر مخ وړي. پوښتنه دا ده هغه کوم څه دي چې افغانان یې باید د ترلاسه کولو لپاره له ازادۍ، خپلواکۍ او د یوه اسلامي نظام د نفاذ له ارمانه تېر شي؟ معلومه خبره ده چې هیڅ شی هم د خپلواکۍ او یوه اسلامي نظام په مقابل کې د معاملې وړ نه دی.

په هېواد کې د پردیو ځواکونو موجودیت د افغان ولس له وسله وال مقاومت سره مترادف دی – تر څو چې دوی دلته پراته وي، تر هغو به جګړه روانه وي. پوښتنه دا ده چې د بهرنیانو په یرغل او د هغوی لخوا د جګړې په تداوم سره به د افغانانو کومه اړتیا پوره شي؟ له شکه پرته چې جګړه ورانی دی، او په ورانېدو سره آبادي نه راځي.

افغانانو د بهرنیو ځواکونو د شتون ثمره لیدلې ده اوس افغانستان د نړۍ تر ټولو ناامنه هېواد او جګړه یې د نړۍ تر ټولو خونړۍ جګړه ګڼل کېږي، د تاریخ بدنامي او د ولس لخوا رټل شوي څېرې پر هېواد حاکمې دي، تر نیمایي زیات افغانان تر سخت فقر لاندې ژوند تېروي، د قانون څوک پکې نه لیدل کیږي، ناروغۍ او هوا خرابولي ورځ په ورځ پکې زیاتیږي، او په حاکم کابل رژیم کې فساد دومره اوج ته رسېدلی چې اصلي ملاتړي امریکا یې سلګونه میلیونه ډالر پرې بند کړل

دا د تېرو ۱۹ کلونو د اشغال یو څو لاسته راوړنې دي. که تر دې زیات دلته پاتې شي، د بدمرغیو دا لیست به نور هم پسې اوږد شي په ۱۹ کلنو کې چې په بېخر مصارفو سربېره نړۍ ته متوجه ګواښونه، چې اصلا شتون به لري، ختم نه شول، نو بیا به څه وخت ختم شي؟

دویم باید دا معلومه شي چې افغانستان کې دننه لړۍ او پخپله هېواد ته کوم متوجه ګواښ شته او که نه؟ د کابل رژیم چارواکي د بهرنیانو پر ضد د افغانانو مقاومت 'ترهګري' او 'نړۍ ته ګواښ' بولي

دوی ته باید دا څرګنده وي چې د افغانانو مقاومت هېواد ته ګواښ نه دی بلکې دا هغه سپېڅلې مبارزه ده چې یو وخت به یې ان شاءالله په وسیله هېواد ته بېرته خپلواکي او یو اسلامي نظام راعاده کیږي. کابل رژیم باید اوس دا پوښتنه ځواب کړي چې آیا د هېواد د خپلواکۍ اعاده او د اسلامي نظام نفاذ هېواد ته ګواښ دی او که نه. دا رنګه له افغانستانه، په بل عبارت د یرغلګرو پر ضد د افغانانو له وسله والې مبارزې، هم له نړۍ او نه هم سیمې ته کوم ګواښ متوجه دی. افغانان یوازې د خپل هېواد د ازادۍ او د اسلامي نظام د نفاذ لپاره مبارزه کوي او په وار وار یې خپل دریځ تشریح کړی دی.

بناء، کابل رژیم یوازې د جګړې دوام ته د ترېوالو د قانع کولو او د جګړې د دریدو په صورت کې نړۍ ته له په اصطلاح متوجه ګواښونو، چې اصلا شتون نه لري، د وېرولو لپاره وایي چې افغانستان د دوی ناروا شتون او د جګړې دوام ته اړتیا لري. ځ

هېواد کې د بهرنیو ځواکونو شتون د کابل رژیم لپاره د آکسیجن حیثیت لري د دوی له شتون پرته، د کابل حکومت د مشر پخپله ویناء، تر شپږو میاشتو هم دا رژیم دوام نشي کولای. دې ضمیر بایللو ته باید څرګنده وي چې امریکا ستاسې د قدرت په کیسه کې نه ده هغوی د خپلو ګټو په خاطر د پښتو سپکولو پرېکړه کړې، او نن وي، که سبا بسترې به پر شا کوي... بیا به تاسې د ملت رحم ته پاتې یاست. نو فاعتبروا!

امارت
او حقوقي مشروعیت یې!

لیکوال: ابواسامه (نیازي)

یوه ورځ مې دیوتلویزیون سره دافغانستان په روان سیاسي وضعیت باندې په ګردي مېزکې ګډون درلوددخپروني کوربه اوخبریال دګردي مېز هغه بل ګډونوال ته وویل طالبان یوه جنګي ډله ده تاسې داډله څنګه ارزوئ هغه ځواب ورکړطالبان جنګي ډله نه بلکې یوتحریک دی، یاده پوښتنه له څندپرته ماته راجع شوه ماهم په حېل واردحقوقواوسیاسي علوموديېزده کړیال اوهمدارنګه دسیاسي چارودشنونکي په توګه وویل طالبان نه جنګي ډله ده اونه تحریک څکه چې جنګي ډله ځانګړی تعریف لري اوتحریک هم بېل شناخت، طالب له دې کټشې (سولېدلو) تعریفونو لا ډېر وړاندې تېر شوی، که له ځمکنیو واقعتونو سترګې پټې نه کړئ طالبان له ۲۰۰۱ میلادي کال وړاندې یوربښتینی مشروع دولت و ،ولاهم مشروع دولت دی که یوڅوک دسیاست اوحقوقي پسټونوپه برخه کې لازم واړین مالومات ونلري ممکن داسې فکروکړي چې که څوک په مجلس اولوکس دفترکې کاراودسده ترسره کړي دادمشروع دولت سبه ده اویایوڅوک داسې وانګیري چې که څوک په نړیواله کچه پراخ، ډیپلوماتیک ،وسیاسي حضوردولري دا دمشروع دولت ښکارندويي کووي ،وشایدڅوک داسې حس کړي چې که له چاسره دامریکانظامي، سیاسي اومالي ملاتړموجودوي همدامشروع دولت دی برعکس دیومشروع دولت لپاره چې په ملي اونړیواله کچه په رسمیت وپېژندل شي په ملي اونړیوالوحقوقي قواعدوکې ورته څلورمعیارونه ټاکل شوي ۱ قلمرو ۲ نفوس ۳ حکومت ۴ حاکمیت څرګنده ده چې اسلامي امارت دهیواد۹۵ سلنه قلمروپه واک کې درلودل اوهلته دهیواداکثریت نفوس اوټولو قشارو په یوه مسمت اېره، ارامه امنیتي فضاکې داسلامي شریعت دسېځلي سیوري لاندې باثباته ژوندرلود،همدارنګه اسلامي امارت یوقاطع اوله هرډنګه فسادڅخه پاک حکومت و اوپه طبعي توګه یې حاکمیت هم په معصرتاریخ کې بېساری و اواوس هم په یوشه توپیرامارت له دې قواعدوبرخمن دی په دې مناچې اسلامي امارت یومشروع دولت و اویومشروع دولت دی

دافغانستان، سیمې اونړۍ امر داواشحص په دې اګاه اوپوه دي چې ۲۰۰۱ میلادي کال وړاندې دهیواد۹۹ سلنه خاوره داسلامي امرت ترکلک تسلط اوواک لاندې وه همدې تش په نوم نړۍ والې ټولنې دټولومنل شویوحقوقي معیاروبوخلاف دشمال تلواله چې دهیواد د یو شمېر منفور ترینوافرادو وجنایي باندوڅخه متشکله، یوه تروریستي اوجنګي ډله وه اوهیڅ دول قوانین یې نه پېژندل ،ومشران یې

دکولاب په قصرونو کې مېشت وو په هرارخيېزه توګه حمايه کوله ترڅو داسلامي امارت په وړاندې تري دخپلوشومو اهدافودترلاسه کولولپاره دجنګي اجيرانوپه ګټه پورته کړي شمالي تلواله يې په نل عبارت دCIA له لوري کرايه شووي جنګي مزدوران دامريکايي اشغال څمکنۍ جنګي عساکروو اودافغان ولس په وړاندې يې داسې سترجنايت ترسره کړل چې په تاريخ کې يې بېلګې ډېرې کمې موندلای شو امريکا او ناټو اونورو اشرباتو هيوادونو دنړيوالو اونړيوالو قوانينو خلاف افغنستان اشغال کړ نوله همدې امله دافغانستان اسلامي امرت دسپارل شوي مسوليت له مخې او د خپل سنجول شوي اومديرانه سياست په رڼاکي دډېرو ربتوانسانې تلفاتودمخنيوي په منظورتاکتيکي شاتګ غوره کړ

حقيقت دادی چې دهمدې دروا يرغل په غوبل کې يې داسې شرمېدلي اداره د دولت په نوم رامنځته کړه چې اداري فساد، اخلاقي فساد، غصب، اوظلم يې له سترولاسته ر ورنوشميرل کيږي کله چې يوهيواد او يا يو ايتلاف د نړلوملي اوبين المللي منل شويو پرانسيپونوپه وړاندې د يومشروع دولت چې دولس داراودوواقعي ممثل وي اوولس يې دراتګ لپاره مليونونه څواتان قرباني کړي وي اودولس دبطن څخه راتوکېدلی وي دهغه په وړ ندې جګړه يوسترباړواعمل و اودی ددې اقدام په پايله کې دافغنستان اسلامي امارت تررهبريت لاندې دولس ټولو اقشارويه پوره مېړانه دهٔ۴ اشغالګروهيوادونوپه وړاندې چې دامريکاپه مشرۍ زمونږ خاورې ته راغلي وو.

دريسټيي جهاداومقاومت سنګرونه ددوه موخولپاره ۱ دګران هيواد بشپړه ازادي ۲ دخپل مشروع دولت (اسلامي امارت) څخه ددفاع په خاطردې دربعه وبې مثاله قربانيوپه برکست تاوده وسائل دوبارلي ملست سرېشنندنې وي چې دامريکاپه تاريخ کې دومره اوږده مذاکرات دبل اشغال شوروي هيو دسره نه و ترسره شووي امريکا، ناتواوداخلي مديولان يې اوس په مذاکراتوټينګارکوي اود هغه څه و چې نولس کاله وړاندې داسلامي امارت رسمي موقف و اساسا ديودولت مشروعيت له دوه لوريودېرداهميت ور دی

۱ - ولسي مشروعيت ۲- حقوقي مشروعيت

له نېکه بخته طالب دادواړه مشروعيتونه له څان سره لري منطق دادی که په افغانستان کې دروانې جګړې حجم ته اوګورئ يوه جنګي ډله د۴۸ هيوادونوپه وړاندې خواوشا، شل کاله نظامي اوسياسي جګړه نشي کولای طالب ولسي- غړدی طالب په ولس کې ژورې معنوي ريښې لري په افغانستان کې رواني جګړې ثبته کړه چې ولس اوطالب دنوک اووروری حيثيت لري اودعرب په وړاندې نظامي اوسياسي بريااليتوب داسلامي امارت ترقيادت لاندې دتاريخي فتحې امتيازهم ټول مجاهدولس ته منسوب دی.



دجعلي او نمايشي ټاکنو پايلې

ولې وګنډول شوې؟

فرهاد اتل

دروان ۱۳۹۸ ل کال دمیزان په ۶مه نیټه دولسمشرۍ انتخاباتو جعلي اونمایشي پروسه په داسې حال کې ترسره شوه،چې درایواچولو ډیرې مرکزونه له وړاندې تړل شوي وواو په پاتې مرکزونوکې دخلکو لخوا درایو اچولو سلنه خورا کم رنګه او پیکه وه

دخبري سرچینویه راپور؛ درایو اچولو په مرکزونوکې په بیدریغه کچه جعلي اوغیربایومیټرک رایې اچول کیدې اود دوه واکمنونوماندانو(اشرف غني اوعبد الله) پلویانو په ښکاره جعلي او تقلبي رایې کارولې، دولسمشرۍ څوکۍ نوماند حکمتیار دمیزان په ۲۸مه نیټه کابل کې یوې خبرې ناسته کې ادعا وکړه چې په ټاکنوکې والیان، ولسوالان او امنیه قومندانان په ښکاره دحکومتي دلې کمپاینران وو او دهمدې ډلو په ګډه یې په ټاکنوکې درغلي کریده، نوموړي ادعا وکړه چې حکومتي چارواکو له پیله په ټاکنوکې درغلي ته لارې جوړولې هغه داشرف غني حکومت او دټاکنو کمیسیون په درغلیو تورن کړل او ګواښ یې وکړ که د دوی حق ورنکړل شو دبدو پایلو مسؤل به همدوی په غاړه وي

دحکمتیاربرته دولسمشرۍ نورو نوماندانوهم ورته ادعاوې او تورونه پورې کړي دي چې حکومتي چارواکو دولسمشرۍ ټاکنوکې بریندې درغلۍ کړې دي،او حکومتي چارواکو دحکومتي ټیم لپاره په کمپاین او درغلیو بوحت وي

داشرف غني اوعبد الله کمپینرانو لخوا وروسته دهغه نه چې په پراخه کچه یې صندقونوکې پریمانه جعلي او تقلبي رایې واچولې، دهریو لخوامختلفوولایتونوکې بایومیټرک ماشینونه، کمپیوټرونه اونورلوازم غله کړای شول، کوم چې ددې لیکنو ترمهاله ندي منڅل شوي، ګومان کیږي چې دجعلي او تقلبي رایو اچوونکي غواړي دبایومیټرک ماشینونو دیټې په علاکولو سره خپلې جعلي رایې پټې کړې، په دې کار کې دولایتونو دوالیانو، ولسوالانو اوامنیه قومندانانومستقیما لاس لري او یاد ماشین آلات هم ددوی لخوا پټ کړای شوي دي ،څو هغه جعلي رایې چې د دوی لخوا داشرف غني او یاعبد الله لپاره اچول شوي دي دنورو بایومیټرک رایو سره خلط کولو لپاره اصلي دیټې له منځه یوسي اوسبا دا معلومول ګران وي چې کومه رایه جعلي او کومه اصلي ده؟

ویل کیږي دجعلي رایو په اچونوکې دعبد الله په نسبت داشرف غني ټیم ډیر برلاسی و، ځکه اشرف غني غوښتل چې دانتخاباتو رایې ژرإعلان نشي اویکې څنډ دي خامخا راشي ، څو په څنډ راتلو سره به یوطرف ټاکنو کمیسیون ته دا فرصت په لاس ورشي چې هغه رایې چې داشرف غني پلویانو جعلي استعمال کړي، په سره سینه په اصلي رایوتبدیل کړي او بل به یخ ژمي کې دپایلو اعلان به داګنه ولري چې دوهم څلي انتخابات چاس به له منځه لاړشي ځکه په ساړه ژمي کې انتخابات کول امکان نلري

نوطبعاً به يې بهرنۍ بادران او نوردیته ارښي چې هغوی يې دټيريـه ځيريب ځـو سره حکومـت کـې سره راټـول کـړي او بيـ ـه ورتـه دچوروتلان چانس په لاس ورکړي

ملـه حيرانـوونکي داوه چـې کلـه دانتخابـاتو وروسـته ديوشمير نوماندانو لخوا دټاکنو په کميسيون فشارزيات شو چې خامخ‌بايد پايلې ژر اوپخپل وخت اعلان کړي اوټکي ځـد رانـه ولې، هغوی دا تور هم پورې کړ چې دپـايلواعلان ځنـډولو څخـه دکميسيون موخه ديو معلوم نوماند لپاره دبريا زمينه سـاري کـول دي، ددې فشارونو په ديريدو سره دټاکنو دکميسيون مشرې حـوا نورستانی مستقيماًدبرتانيې سفارت ته شکايت وکړ او ترې وېښې غوښتل چې په هغو نومانـدانو دي فشـار وارد کـړي کـوم چـې د دوی څخه دپايلودژراعلان غوښتنې کوي، دلته معلومه شوه چې دافغانستان، ټـاکنې څـومره شـفافې؟ او دبهرنيـو دلاسـوهنوڅخه پاکې ترسره شوې؟ اويل په دې سره دافغانستان سياسي اسـتقلال تـر سـوال لانـدې راځـي برتـانيې سـفير څـنګ دافغانسـتان دولسـشرې پر نوماندانو فشار اچولی شي چې هغوی دي دپـايلو دژر اعـلان غوښـتنه نکـوي ؟ دې سره داهـم شـکاره شـوه چـې افغانستان څومره ازاد او خپلواک دی؟

نوره نړی کې چې په کومه ورځ رايې واچول شي په هم هغه ماښام يا سـهارته ګټـونکی اوبـايلونکی دواړه معلـوم شي، خـودا سيستم چې د ټاکنې دميزان په ٦مـه تـرسره شـوې خـو بريـالی او ماکام يې تر٢٧ دميزان هم معلوم نشوه په ټولـه نـړی کـې نشـته، ددې سيستم هدف دادی چې په دې سره امريک دخپلـې خوښـې نوماند غوره کولی شي، نړ په نورو هيوادو کې کـه يوڅـوک بـری مومي ،هغه به ربښتيا هم د زياتو رايو پـه ګټلـوسره بـری ترلاسـه کړی وي او دلته په زياتو رايو ګټلو سره بری ندی موقـوف بلکـې دامريکا په ديره علامې کې دی، دامريکا لخوا يې ديريالي شخص انتصاب کيږي، او ښکاره ده چې امريکا هغه شخص بريالی کـوي کوم چې يې ترټولو ډير غلام اودومره وفادار وي چې دخپـل هيـواد او ولس دګټويه مقابـل کـې ورتـه د امريکـا ګټـې خونـدي کـول اولويت ولري يې له شکه اشرف غني اوعبـد اللـه پـه دې لړکـې دواړه په ټول پوره ختلي

داچې پرون (دميزان په ٢٧مه) دټاکنو کميسيون دپـايلو اعلان په ځنډولو بشته وغوښـته دکتونکـو پـه انـد: ددې ترشـاه دامريکا لاس دی، امريکا غواړي دخپلـې خوښـې نومانـدان سره يوځـای کـړي او يوپـل ځـو سره حکومـت رامنځتـه کـړي، ځکـه دوړاندې څخه اشرف غني اعلان کړی چې انتخابات بـه دوهمې دورې ته نه ځي، همدا وجه وه چې دپـايلو داعـلان ځنـډولو سره سم اشرف غني دټاکنو کميسيون ددې ګام نه ملاتـړ اعـلان کـړ، اور ته يې دشفافيت نوم ورکړ چې کميسـيون غـواړي دپـايلو پـه اعلانولو کې روڼتيا اوشفـافيت رامنځته کـړي، دعبـد اللـه دټيم لخوا هم دټاکنو دپايلو ځنډولو په باب تونـدغبرګون نـدی ښـودل شوی هغه هم دتخنيکي ستونزو يادونه کړې چې دکتونکو په اند: داسې بريښي چې دپردې ترشاه بيـا دع اوغ تـرمنځ کومـه پټـه او مرموزه معامله روانه ده، راکړه ورکړه کيږي، امريک يان پکې مهم رول لوبوي اوغواړي چې ځپل دواړه ګوډاګيـن تر خپل جغ لانـدې وتړي او ترمنځ يې يوه بله معامله وکړي

بل لورته دحقوق پوهانو له انـده دميـزان د٦مـې ټـاکنې لـه حقوقي پلوه مشروعيت نلري، دخلکو کم ګډون جوته کړې چې دولس قاطع اکثريت ټـاکنې تحـريم کـړې، افغانسـتان دشـاوخوا ٣٧مليونه وګړو هيـواد دی،چې پکـې شـاوخوا٢٣ مليونـه وګـړي واجدين د رايې دي، دميزان د٦مې په جعلي او ساېشي ټاکنو کـې امريکيانو او دهغوی اجيرانو پخپـل ټـول وس سره ايلـه ٢مليونـه شاوخوارايې اچونکي راوويستل،چې دا دافغانستان دټـول نفـوس ډيـره کمـه سـلنه جـوړوي اودا هيڅکلـه د٣٧ميليونـه خلکـو استازيتوب نشي کولی، بل ځو ورځې وړاندې پخپله يونام پخپـل يو راپورکې اعتراف وکـړ چـې دطالبـانولخوا دمخالفـت پـه وجـه ټاکنو کې دخلکو ګډون کم رنګه اوبيکه وو

لنډه داچې دميزان په ٦ دشويو ټاکنو پروسه کاملاً جعلي او ساېشي وه او دهمـدې جعلي او ساېشي پروسـې پـه تـرڅ کـې بـه امريکا په افغانستان خپل يو لاسپوڅی حـکومت مسـلط کـوي چې دا کاربه دافغانانو شته ستونزې به کمـې نه، بلکې نورې هـم زياتې کړي اوهيـواد بـه د لانـورو بـدمرغيو اوبـدبرګيو سره مـخ کـسـړي،

تر یرغل ۱۸ کاله وروسته

عبدالرحیم (ثاقب)

د ۲۰۰۱ د اکتوبر پر اوومه امریکای ښکېلاکګرو پر افغانستان وحشیانه یرغل وکړ.

که څه هم چې هم امریکایان او هم په افغانستان کې د هغوی اردلیان دې یرغل ته میررات لټوي او هغه د سپتمبر د یوولسمې په پلمه د امریکا یو متقابل غبرګون بولي خو دا توجیه منطقي ښکاره نه ده چې د سپتمبر پېښه نه د افغانانو کار او نه هم د هغوی په ښکېلتیا تر سره شوې.

په هرصورت ! پر افغانستان د امریکا او د هغوی د متحدینو یرغل تر سره او په تېرو ۱۸ کلونو کې هم افغانانو اوهم ټولې نړۍ ولیدل چې د یرغل په ترڅ کې تر سره شوې کړنې په خپل وحشت، ناقانونیت او احرام کې هغه څه دي چې بشریت یې تر اوسه سارې نه ولیدلی .

د بصیرت خاوندان کولای شي د همدې وحشیانه کړنو په ترڅ کې د متمدنې امریکا اصلي هویت او څېره ښه درک کړي. دا چې یاد یرغل اساسا پر نامشروعیت ، نامعقولیت او وحشت بناء شوی و نو طبعا چې پایلې یې هم نامشروعې، نامعقولې ناموفقې او وحشیانه دي پر دې یرغل تر اتلسو کلونو تېریدو وروسته خپله امریکا تر هغه ډېره نا امنه ده کومه چې تر یرغل وړاندې وه.

افغانستان کوم چې دا یرغل په هغه کې د قانوني نظام حاکمیت او هلته د ګډوډۍ له منځه وړل په پلمه شوی و اوس ورکې نه امن شته دی ، نه قانون او نه هم نظام.

څه چې یې د امنیتي ځواکونو په نوم دلته جوړ کړي هغه خپله د دې ځواکونو د چارواکو په اعتراف د نیویارک او واشنګټن د امنیت ساتلو لپاره دي، خو د دوی له بده مرغه چې نه یې نیویارک او واشنګټن وساتلی شول او نه یې هم په افغانستان کې امن ټینګ کړی شو

همدا امنیتي ځواکونه دي چې هره ورځ په سلګونو ولسي افغانان په نیویارک او واشنګټن کې د امنیت د ټینګښت په پلمه په وحشت سره وژني.

د نظام یې همه وضعیت دی چې په بنځ کې د تأسیس له لومړۍ ورځې را هیسې تر نه پورې یو د بل خلاف لګیا او د خپل منځي سالم او قانوني تعایش استعداد ورکې منتفي دی. افغان مظلوم ولس چې د نړیوال معاصر عدالت او قانونیت له ټولو ښېګڼو څخه محروم دی له دغې ګډوډۍ او بې ثباتي څخه د ځان ژغورلو په غرض یې له ځان څخه د دفاع لاره غوره او له یرغلګرو سره د سازش په ځای یې له هغوی سره په ډېره ناوسي او ناتواني کې تاریخي مقابله پیل کړه.

خو یرغلګرو امریکایانو همدا ولسي غیور افغانان په یوه او بل نوم بې دریغه یې ووژل، بندیان یې کړل ، په محتلفو نومونو یې تورن کړل او د هغوی په خلاف یې نړیوال پوځي ایتلافونه تشکیل کړل مګر خپل یرغل او ناسمه اراده یې وربانده تحمیل نه کړای شوه.

بالاخره نه اتلسو کلونو تیریدو وروسته له همغو مقاومت کوونکو سره چې دوی یې په پوځي ، سیاسي او تبلیغاتي مقابلې کې پرشانګ نه مجبور کړل د خبرو میز ته کیناستل.

د خبرو په میز کې یې هم دا مقابله په استدلال او منطق نړې وګټله. خو امریکیان کله چې په همدې مقابلې کې هم د خپلو منافعو له ترلاسه کولو مأیوس شول بدمعاشي یې پیل او د خبرو او تفاهم له میزه هم پر شا شول.

دا چې د یرغلګرو خلاف مقاومت یو مشروع او دفاعي مقاومت دی نو که یې جانب مقابل هرڅومره په مادي لحاظ ځواکمن وي حتما به د دغو شرعي مقاومینو (د اسلامي حاکمیت غوښتونکو مجاهدینو) په وړاندې په شکست محکوم وي ، او بری به د هغه چا په برخه وي چې له خپل دین، هیواد او سلب کړل شوي حق څخه دفاع کوي. ان شاء الله

د اکتوبر د اوومې د یرغلګرو او ملاتړو مخ دې تور وي.

ع-عزيز

د افغان سولې په هکله

د اروپا او امریکا دریځونه ولې یو نه دي؟

په دې وروستیو اتسو کلونو کې اروپايي ټولنې په افغانستان کې د امریکا له شتون او پلانونو څخه دفاع کړې ده، د برتانیې، آلمان او فرانسې په ګډون د اروپايي هېوادونو په زرګونو عسکرو د ناټو په چوکاټ کې په افغانستان کې د امریکایانو ترڅنګ د افغانانو په ضد جګړه کې برخه اخیستې، چې په زرګونو عسکر یې مړه او ټپیان شوي دي.

شک نشته چې اروپايي هېوادونو په جګړې سربېره د افغانستان د بیا رغونې په برخو کې هم د پام وړ لګښتونه زغملي، او هڅه یې کړې چې د افغانستان په جګړه او مالي پراختیا کې د خپل متحد او استراتیژیک ملګري(امریکا) لاس ونیسي.

خو د امریک په ټاکنو کې د ډونالډ ټرامپ له بریا سره د ځینو اروپايي هېوادونو په ځانګړي ډول د آلمان او فرانسې اړیکې د امریک له متحده ایالاتو سره د ترینګلتیا په لور لاړې، ډونالډ ټرامپ د خپل آمرانه او مسلط چلن له مخې د اروپایانو اعصاب اغېزمن کړل، هغوی یې اړ کړل چې د نړیوالو ستونزو په اړه خپله په مستقل ډول پرېکړې او تصمیمونه ونیسي. حال دا چې په دې وروستیو څو لسیزو کې اروپايي ټولنې د نړیوالې ټولنې په لویو ستونزو کې په کمساري ډول د امریک د رایې خلاف ګام اخیستی ده.

ډونالډ ټرامپ څو څو ځله په جرمني زور راوستی چې خپله دفاعي او امنیتي پانګه لوړه کړي، او په ناټو کې ډېره مالي ونډه واخلي، د فرانسې جمهور رئیس ته یې څو څو ځله د ایران او نړیوالو ستونزو په اړه د هغه د سیاست له امله احمق(بې عقل) ویلي دي، دې ډول نیوکو د دې ترڅنګ چې دواړو لورو اړیکې یې په نړیواله کچه یو له بل سره خړې پړې کړې.

د افغانستان د جګړې په اړه یې هم د دوی په پالیسیو او تصمیم نیولو پوره اغېزه کړې، لکه څنګه چې په اوس وخت کې دواړه لوري په دوه مخالفو څنډو کې په ټوپیري او یو د بل پرصد خوځښت کې قرار لري،

امریکا له طالبانو سره د صلحې د یوې داسې هوکړې په لټه کې ده چې په پایله کې یې تر راتلونکو ۱۵ میاشتو پورې په یوه ډول خپل ټول ځواکونه وباسي او ممکن د واک ستره ځانګړې سیاسي برخه طالبانو ته پرېږدي؛ خو اروپايي ټولنه بیا د ولسواکۍ، د ښځو د حقونو، د رسنیو د ناپېیلتیا، د آزادو او خپلواکو مدني ټولنو د کار، دګوندونو او سیاسي تشکیلاتو د بنسټیز کېدو په لار کې هلو ځلو ته ځان ژمن ښيي.

نظام جوړ شي، خو امریکا، روس ،پاکستان اوچین غواړي چې دطالبانو په شتون او محوري رول کې دې د افغانستان راتلونکی نظام جوړشي

امریکاین په عملي ډول دیته زړه نه ښه کاوه چې دتلې دمیاشتي دولسمشري ټاکني دې ترسره شي

امریکا تمه درلوده چې له طالبانو سره دسولې تواقق هم دامریکا په ګټه وو او هم دافغانانو، له بل اړخه امریکایان پوهیدل چې ټاکني به هیڅکله رڼې او شفافې نه وي نو طبعا به په دغسي لړلو ټاکنو کې یوځل اشرف غني او عبدالله لاره پیدا کوي اودا دواړه ځیري دافغانانو ترمنځ لس فیصده ملاتړ او محبوبیت هم نلري،

خو ترددي دمه بریښي چې اروپایي ټولنه دکابل اداري ترشا ددریدلا اوملاتړ په هڅه کې ده ترددي چې داوسنیو ترسره شوو ټاکنو مالي لګښت ته جرمني، فرانسې او برتانیا غاړه کیښوده،

خلاصه داچې دغه دری اروپایي هیوادونه لته او کوښښ کوي چې دکابل نیمه خوا اداره یو ځل بیا په افغانانو وتپي،

د چارو کتونکي په دې باور دي چې له کابل اداري سره د اروپايي ټولنې ملګرتیا به لنډ مهاله وي، کله چې د طالبانو او امریکا ترمنځ توافقنامه لاسلیک شي او روسیه اوچین د دې توافقنامې تضمین وکړي، اروپا ته ګرانه ده چې دامریکا اودسیمې دمهمو هیوادونو له ملاتړ اوهمغږۍ پرته دې دکابل مخ په زوړه اداره تجهیز، اکمال او په نړیوال میدان کې دې مطرح وساتلی شي او هم دې له مهلکې انزوا وژغورې .

د اروپايي ټولنې له نظره له طالبانو سره د امریک ممکنه هوکړه د دوی په اند پر همو ارزښتونو معامله ده چې د پلې کولو په لار کې یې نړیوالې ټولنې هلې ځلې کړي دي او قربانۍ یې ورکړي،

فرانسه، برطانیه او آلمان په عملي ډول د امریکا د صلحې د پروګرام مخالف لور ته ګام اخلي، هغوی هڅه کوي چې د یومخیزې هوکړې مخه ونیسي او امریک اړباسي چې خپل ځواکونه په تدریجي ډول له افغانستان څخه وباسي ترڅو نوې تشه رامنځ ته نه شي،

که څه هم دمګړۍ دطالبانو او امریکایانو ترمنځ خبرې دریدلې، خوداسې نښې نښانې شته چې خبرې به بیا پیل شي،

ټرمپ ددې لپاره چې څنګه د خپلو پوځه جوړه کړي او د سولې د خبرو د معطلي توجیه ته دلائل پیداکړي، له طالبانو غوښته کړې چې په خپل موقف کې نرمي راولي او دافغانستان په لویو ښارونو حملې کمې کړي.

خو طالبان اوس هم په دې دریځ ولاړ دي چې داکار به هله کوي چې یوځل د سولې توافقنامه ورسره امریکایان لاسلیک کړي،

اروپايي ټولنه دا نظر لري چې د میزان په میاشت کې ترسره شوې ټولټاکنې که څه هم بې خونده او له درغلیو ډکې وې، خو د همدې ټاکنو له مخې باید نوی

دنیاګۍ

الیاس فاتح

نه عالَم ته غلام شوی، نه د ژوند په خم کې خام دی
فراموش یې نور خوندونه، چې یې نوش د مینې جام دی

ګرځوم لیمې پرسر، خو زه د شمعې په څېر نه یم
زما ژوند له هغې پېل دی، چې صورت مې په اتمام دی

ما د غره په تره خدای ته سور تندی په سجده کېښود
تا حرم کې په احرام کې په قالینو خوبن قیام دی

کامراني د افغانیت په حقیقت حقانیت بویه
چې ښکیلاک یې د نړۍ د لیوتتوب تر بريد ناکام دی

یاغي آس د دنیګۍ به نور بې لارې ځغاستې نه کړي
اچولی ورته خوله کې پهلوان غازي لګام دی

د فاتح طالب په غاړه کې د سرو زخمو جامو ته
پسرلي په هر کلي کې کړی سل واره سلام دی

په کاغذو اوښکې...

مفتون

څې له سنګره آن د عرش تر منارو اوسکې
په توره شپه د ببر سرو لمبو اوښکې

دلته بدرنګه خزانونه تم کېدلی نه شي
دلته توی کړي دي سپېڅلو پسرلو اوښکې

مظلوم امت ته پیغامونه د خوشۍ ورکوي
بندي طالبه ستا په څوکو د ښو اوبکې

دا غلامان په دې خاطر چې بادار وخندوي
دالی کوي ورته زمونږ د بچو اوښکې

ستاد محل مخې ته مړ دی یو سوالګری ماشوم
بیلې ښې خیرې کړېوان او په لمو اوښکې

دې بمبار شوې مدرسې ته یو څو میندې راغلې
ډېرې یې توی کړې په شلېدلو کتابو اوښکې

زه مې د خپل وطن ماشوم تصویر کې هم پېژنم
په وینو سور، زړې جامې په انګو اوښکې

مفتونه! دا د خپل ولس ترجماني کومه
دا چې مدام انځوروم په کاغذو اوښکې

شعر

عاکف مهاجر

یو سر دلته مات شوی یو لښکر دلته مات شوی
په دغه ورځ د سره قصر سنګر دلته مات شوی

سهار ورپسې راغلو تُوره شپه یې کړله ورکه
سردار د کمونیزم او رهبر دلته مات شوی

یو چا ته یې د دار رسۍ په غاړه کړه ور پورې
بد تیر ولو له ټولو نه بد تر دلته مات شوی

چې تل به یې زګوله بادیدل په غر غرو وو
مختوری نجیب لاړلو اخر دلته مات شوی

د دې عصر نجیب دې له ها بله عبرت واخلي
د سپین قصر غلامه سور لښکر دلته مات شوی

سبا به اریانا چوک کې په تا خلک راټول وي
نا اتو په درنه تېښتي او اشر دلته مات شوی

عاکف اوس په ښکاره به درته داخبره وکړم
دا خوب مې دی لیدلی د ستا سر دلته مات شوی

غزل

په شونډو ساندې او ګرېوان رښې رښې ګرځوم
ژوندهٔ! ترځو به دې په څېر د جنازې ګرځوم

زه دې حالاتو داسې حال ته رسولی یم چې
اوس د دعا په ځای په لېو کې ښېرې ګرځوم

یو وخت به ته هم په دې راز باندې شې پوه چې ولې؟
سترګو کې اوسکې ګرځوم په زړه ګیلې ګرځوم

ستا دغمو جانانه کړی شپه خوړلي
څکه په سترګو کې د وینو فوارې ګرځوم

د کلي واړه خلک خپله زندګي وړي خو زه
ستا دېپلټون باګرام کې اوس هم رولې ګرځوم

دراتلو لارې دې ارغنې دې تیارې هم لري
زه به دعاوې بلوم درته ډېوې ګرځوم

ټکوره داد ملنګی ژوندون مې ډېر خوښېږي
په سر پګړی ټرم په لاسو کې تسبې ګرځوم

ولس د دیمکراسۍ څکه، وڅکله!

عابد

افغان دردېدلی ولس هرچا په یو اوبل نامه وخوراوه، داخل ورته عربیانو د ټولو دردونو انحیرا او دوا د" ولس واکۍ!" نسخه رامخته کړه او د دوی دمودو دلوړې اوبدې ورځې دختمېدو بېړبې وعدې یې ورکړې، چې ډېر ژربه یې د دیمکراسۍ غوړ وچې سپېرې شونډې ورغوړې او دسوکالۍ له ژونده برخمن کړي.

که څه هم د دیمکراسۍ پلي کوونکو په سر کې خپل هویت لاندې قوم ته په خپله ورشوولی و اوپه B ۵۲ الوتکو دعملی کولو ښکاره نتایج یې په حپلو سترګو لیدلي وو، خوداچې هغه یې په اوابلو کې یو ډول ضرورتونه وبلل، نو دبیاشه کېدو تېر ورته بهرنیو دوستانو! او افغانی دیمکراتانو دواړو په کلکه وهلی و.

هماغه و چې د کرزي له تعیینېدو سره سم په ولس د دیمکراسۍ تمرینونه شروع شول، له ښاروبو نه دهیواد په لرې پرتو سیموکې د بشر حقوق، دښځو حقوق، دبیان آزادي او دماشومانو حوندیتوب په معکوسه معنی عملی شول اوله هماغې ورځې ترننه زموږ ولس د دیمکراسۍ په اورکې سوځي، شپني عملیات، دکورونو بمبار، ښځې او ماشومان وژل او جنسي تیري د دغې دیمکراسۍ ارمغان دي.

برسېره پردې یې زموږ خوانان او انځونې چې څومره په فکري بې لارۍ اخته کړي حساب یې نه کیږي، خپل فرهنګ او کلتور یواځې په حوله یادیږي او په عملي ډول د پردي کلتور ترویج ته په پراخه پیمانه کار کیږي، داسلامي شعایرو اهانت او سپکاوی په لوی لاس ترسره کیږي او هڅه کیږي چې بدعات او مرحرفات دین وګڼل شي.

په دیمکراسۍ کې تر ټولو بارزه وعده چې ډېر خلک پرې تېرابستل شول هغه په اساسي ډول دهیواد د زېربناوو جوړول و چې دملک اقتصاد به ورسره ډېر ښه شي، خو موږ وینو چې خلک د بې کارۍ له امله خان وژنې کوي اوپه نشه یي توکو اخته شول.

ننن ولس دهمدې ولسواکۍ په تقاضاسرکوبو ته راوتل او دغه دیمکراسۍ ټول ولس په یوه غږ استغفراق کړه، نن خلک د دیمکراسۍ وعدې نه غواړي، بلکې له هغوی مروړل شوی دامن حق غواړي، هغوی ولیدل چې دحکومت مشران او وکیلان په څه ډول د دوی استاریتوب کوي؟ او په دیمکراسۍ کې د مساوات داساس له مخې یې څه ډول حقوق خوندي دي؟! د ولس دغو استارو دخپلې حولې مرۍ له ولس سره نیمه کړې او که د دوی په برخوبې هم ځېنه اچولې؟ چاروکي دولس په خدمت کې په خپلو دندو له اداري فساده څومره لرې دي؟ دبیان دازادۍ مخکښې رسنۍ یې څومره په خدمت کې سپړې او مصروفه دي!!؟ دکرېدلو، خورول شویو اوځپل شویو غږ په حکومت کې اورېدل کیږي، او که دامریکایانو رحم وکرم ته یې پرې ایښې دي؟!!

کومه ناخواله ده چې یاد شي؟ قلم یې په لیکلو ستړی کیږي، هیڅ داسې ورځ نه شته چې له درجن نه په کم شمېر حبس نه شي، بلکې د دیمکراسۍ پلي عسکر یې هره ورځ د وژلو توعیت ور بدلوي او بېل خوند ترې اخلي، همدا د دیمکراسۍ او کاپېټالیزم برکت دی چې اوس روزواکي اوسرمایه دار یواځې په حپله برخه بسنه نه کوي او دنورو په حق دحېټې اچولو لپاره یې له بېلا بېلو مافیایي شبکو سره لاس یودی اختطافونه، د دولتي اودشخصي ځمکو لاندې کول اوس عادي خبره ګرځېدلې اوبالاخره هیڅوک، هیچرته په هیڅ ډول خوندي نه دي.

په افغانستان کې دیمکراسۍ همدا لاسته راوړنې لري او نور هیڅ نه شته، ولس د دیمکراسۍ څکه وڅکله او ډېر ژر یې ټول حقیقت ورته معلوم شو، نور دې څوک دلته د دیمکراسۍ کاذبې وعدې ولس ته نه ورکوي، هغوی ډېره ښه پېژندلې او خپل برائت یې د چمتو او جلال اباد د مظاهرو په څېر دهیواد په هر ګوټ کې په وار وار څرګند کړی.

مذاهبِ أربعه

ائمه،تلامذه، فقهي مناهج أمهات الكتب

■ ابو فضل يوسف
■ لومړۍ برخه

داجتهاد نیکمرغه او زرینه دوره:

دریمي هجري پیړۍ، له پیل نه دڅلورومي پیړۍ، ترنیمي پورې دوري ته داجتهادنیکمرغه اوزرینه دوره ویل کیږي،دغه مهال پراجتهادي اُفق ۱۳ لوی مجتهد ین ځلیدلي، مکه کې سفیان بن عتیبه، مدینه کې مالک بن انس، بصره کې حسن بصري، کوفه کې امام ابوحنیفه،سفیان ثوري، شم کې امام اوزعي، مصرکې امم شفعي اولیث بن سعد، نیشاپورکې امام اسحق بن راهویه اوپه بغدادکې امم ابوثور،امام محمد،امام داودظاهري، اوابن جریرطبري داجتهاد پرمنصب عایزوو، حوهر څومره چې زمانه تیریده، ورسره دډیرومجتهدینود مذاهبو متبعینو شمیرهم کمید،دعمل له قالبونو وتل او دکتابونو حیثو ته ننوتل، همدا وجه وه چې پر اسلامي نړۍ باندې په ښکاره دعمني اوفقهي پلوه و کس مذهب څلور پاته شول،(۱) دې لیکنه کې دهمدې څلورو مذهبونو دمؤسسینو ایمه وو، دهغوی دممتازو شاګردانو،دهغوی دفقهي منهجونو او د أمهاتّ الکتب پیژندګلوي وړاندې کوو:

حضرت امام ابوحنیفه رحمة الله علیه (دحنفي فقهي مؤسس)

امم اعظم ابو حنیفه نعمان بن ثابت رحمة الله علیه په ۸۰ یم کال دهجرت کوفه کې زیږیدلی و،لومړی په تجارت اوصنعت کې مشغول و، کله چې امام شعبي رحمه الله ولید،هغه ته یې په تندي کې روښانه نیبې ښکاره شوې،نو ورته یې دعلم حاصلولومشوره ورکړه،هغه وچې دعلم په حاصلولو بوخت شو(۲) دوخت له اکبرو علماوو او فقهاوو نه یې علوم ولوستل، په مشهورواستاداتوکې یې دعطاء بن ابي ربح، نافع مولی ابن عمر،زیدبن علي، محمدالباقر،عبد الله بن حسن، جعفر الصادق ترڅنګ دحمادبن سلیمان نوم په حاصه توګه دیادولووړدی،دعراق دشیخ العصراو امام الزمان حماد رح په صحبت کې یې ۱۸ کاله تیر کړل، کله چې په ۱۲۰هجري کې هغه وفات شو،دتدریس اوافتاء په متصب یې امام ابوحنیفه کیناست کیناست(۳)

نوموړي دخپل ژوند۵۲ کلونه په اموي دورکې او۱۸کاله په عباسي دورکې تیرکړل، (۴) دعراق والي ابن هبیره غوښتل امام صاحب ته د قضا منصب وسپاري، خو امام صاحب د

تقوى اوپرهيزگارۍ په وجه دهغه غوښتنه ردکړه،له هغه وروسته خليفه منصورغوښتل چې امام صاحب رح دبغداد دقضا منصب قبول کړي دهغه دفرمايش منلوڅخه يې حلفاً انکارو کړ، هغه وچې په دې سره منصور بندي کړ،ورته يې اذيتونه او تکليفونه رسول پيل کړل،چې بالاخردهم هغه صعوبتونو اوتکليفونو په زعملو،رغملوکې دهجرت په ۱۵۰ کال يې له فاني نړۍ څخه رحلت وکړ(۵) جنازه يې دزندان څخه ووتله و پکښې شاوخوا ۵۰ زره او يا ددينه هم زياتو خلکو ګډون وکړ(٦)

دجبرو لهجه اوانداز يې خوږ، راښکونکى ،وزړه ته لاري جوړونکى و، امام مالک رحمة الله عليه فرمايل: مې يوداسې شخص (امام ابوحنيفه) ليدلى که هغه وغواړي دستنه دسروزرو څخه ثبته کړي نو په حجت سره يې ثبتولى شي، دامام شافعي رحمه الله قول دى: دفقه کې خلک ... امام ابوحنيفه ته محتاج دي(۷)

امام ابوحنيفه رحمة الله عليه چې درهد، تقوى اوعبادت و رياضت په لوړ مقام فايزو،امام احمد بن حنبل رحمة الله عليه فرمايل: امام ابوحنيفه دعلم، زهد، تقوى اوداخروي غلبې په داسې مقام فايز دى چې هغې ته بل څوک نشي رسيداى، ور ته دُرې ورکړل شوې دقضا منصب قبلولو لپاره پرې تشدد وشو خو قبوله يې نکړه(۸)

تومورۍ هغه لومړى شخص و چاچې په مرتب ومبوّب شکل دفقهې اسس ايښى دى (۹)

دتومورې په تصنيفونوکې زياتره دتومورې دشاګردانو لخوا جمع کړاى شوي دي،چې په هغو کې «مسند الامام الاعظم»او د امام ابو يوسف نه روايت شوى کتاب «المخرج»، «لفقه الاکبر»(۱۰) دعثمان البتى رح له لوري ليکل شوى« کتاب لردعلى القدريه»او د« دکتاب العلم والمتعلم» ذکر راغلى دى (۱۱)

دحضرت انس بن مالک رح نه منقول دي چې امام ابوحنيفه رحمة الله عليه ٦۰زره مسائل وضع کړي، ابو بکرعتيق نه روايت دى: امام ابو حنيفه ۵ لکه مسائل وضع کړي ،دخطيب خوارزمي وينا ده: امام ابوحنيفه ۳لکه مسايل وضع کړي، ۳۸ زره په عباداتوکې، اوپاته نور په معاملاتو کې(۱۲)

داچې دامام ابو حنيفه رح خدمتونه، کارنامې په دې وړه ليکنه کې راسپړل ناشوني دي او طاش کبري زاده په خپل کتاب مفتاح السعادة کې پرځاى ليکلي:

والکلام فى مناقب الامام لاعظم مالايمکن الاستقصاء فيه،سيّماهى هذه الوريقات،اذقدکسرعليهاالأئمة عدة مجلدات، ومع ذلک ولم يؤدواعشرأعشرمناقبه وان أطنبوافى فصوله وابوابه(۱۳)

دامام ابوحنيفه رحمه الله ممتاز شاګردان:

هر ممتازاستاد دممتازو شاګردانو په وجه تل ممتازګڼل کېږي، بدون دشک او مبالغې نه چې امام ابوحنيفه رحمه الله ته چې کوم ممتازشاګردان په نصيب شوي ووهغسې بل چاته ندي په نصيب شوي،الله تعالى ورته ترټولو ممتازشاګردان ورکړي وو نو ژکه طاش ،کبري ليکي:

جمع لله لأبى حنيفة مالم يجمع لامام من الأصحاب، الذين هم لب الألباب،

دامام صاحب په ممتازو شاګردانو کې دامام ابو يوسف رح، امام محمد رح، امام زفر، امام حسن بن زيادرح، مام وکيع، عبد الله بن مبارک، بشربن غياث المريسي رح، عافيه بن يزيد رح، داود طايي رح، يوسف بن خالد سمتي، رح، مالک بن معول البجلي رح، نوح بن ابى مريم رح، يحى بن ابى زائده رح، حفص بن غياث رح، حبان رح، مندل رح، اوقاسم بن معن رح يشان ايمه راځي، امام ابو يوسف او امام زفر په قياس کې، يحى بن ابي زائده، حفص بن غياث، حبان اومندل داحديثو په حفظولو کې، قاسم بن معن دفقهې اوعربيت په معرفت کې، داود طائي اوفضل بن عياض په زهد کې مثل نه لاره(۱۴)

دحنفي فقهې تدوين په داسې طريقه شوى چې مجلس کې به امام صاحب ته شاګردان راټول شول او په يوه مسئله به يې بحث شروع کړ،دابحثونه به کله په يوه مسئله ترمياشتو، مياشتو وغځيدل،اخرکې به په اتفق د اراوو يوحکم طى کړاى شواو په دفتر کې به درج کړاى شو،دهمداسې بحثونو او شوراني مباحثو څخه په

تیریدو فقه حنفي معرض دوجود ته راغلــه(۱۵) دشـــوري دځينـــوغړو پيژندګلوي په لاندي ډول ده:

۱:- امام ابو يوسف رحمه الله چاچې دحنفي فقهي د تدوين په اصولو، او دحنفي مذهب په ترويج او اشاعت کې دامام ابو حنيفه نه وروسته دوهم اساسي کردار اداء کړی دی، نوموړی څېره هم [مجتهد مطلق و](۱۶)

نوموړی فقيه، عالم او حافظ و،دمحدثينو څخه به يې احاديث اوريدل حفظول به يې اوبيا به يې هغه پخپلو شاګردانوته املاء کول،ابن الجوزي په اخبار الحفاظ کې ورته د[الحفظ ،لبالغ] نسبت کړی دی په ۱۸۲ هجري کې وفات شواودنوموړي [کتاب الاصالي] په باره کې راغلي چې هغه په ۳سوه ټوکونو مشتمل و(۱۷)

۲:- امام محمد څلور کاله دامام ابوحنيفه په درس کې شريک و،دامام دوفات وروسته يې نورعلم دامام ابو يوسف نه مکمل کړ، يو څه موده دامام مالک سره هم و،زيات ذهين عالم و اودمجتهدمطلق درجې ته رسيدلی و، دامام ابو يوسف وروسته په عراق کې ترټولو لوی فقيه و، نوموړی ته دمشهورو کتابونو په ليکلو ودعظيم الشان تصنيفي کارنامو په سرته رسولو سره دحنفي مذهب دتدوين شرف ،وويـړ په برخه شوی دی (۱۸)

۳:- امام زفر رح چاته چې دامام ابوحنيفه په شاګردانوکې داقيس فضيلت په برخه شوی ،ودمجتهد مطلق په درجه فايز و، په ۱۱۰ هجري کې اصفهان کې زيږيدلی و،او په ۱۵۸ کې بصره کې وفات شوی، پيل کې يې داحاديثو علم حاصل کړ اوبيا يې دفقهي علم حاصلولو ته ملاوتړله او دقياس په محبث کې يې زيات شهرت درلود

دحنفي فقهي منهج:

دحنفي فقهي داستنباط ،واصولي منهج په او [۷] اصولو ولاړ دی

۱:- کتاب الله ۲:- سنت رسول الله ۳:- اقوال صحابه ۴:- جماع ۵:- قياس ۶:- استحسان ۷:- عرف

ددې اووه اصولولور ته په درې نصوصو کې اشاره شوي ده :

۱:- امام ابو حنيفه رحمه الله فرمايي: زه لومړی کتاب الله را اخلم، کتاب الله کې دنه مندلو په صورت کې، سنت درسول اللهته رجوع کوم، که په کتاب الله اوسنت درسول الله کې مې ونه موندل، بيا زه دصحابي قول اخلم ، دصحابه وو په اقوالُ کې زه اختياردی، دبل قول اخلم دبل نه اخلم،او زه دهغوی داقوالُ په اخيستلو سره دبل چا قول نه اخلم، کله چې معامله د ابراهيم، شعبي، ابن سيرين،حسن،عطاء اوسعيد بن المسيب ته ورسي، نو هغوی يوقوم و، چې جتهد کړی و، زه هم اجتهاد کوم، څنګ چې هغوی کړی وو(۱۹)

۲:- موفق مکي نقل کوي : چې د امام ابو حنيفه رح ضابطه دا وه چې مستنده ،وثقه خبره يې اخيسته ضعيفه او کمزوري يې لرې غورځوله دخلکو په معاملاتوکې يې غوروفکر کاوه، دخلکو معاملات يې په نظر کې نيول په کومو اساساتو چې دخلکو دمعاملاتو سمول موقوف وو،هغه يې لحاظول، معاملات يې په قياس سره ارزول، که قياس به دخلکو معاملات ناسم ګڼل، نو بيا يې په استحسان سره ارزول، که استحسان به معاملات مستردول نو فيف او که خبره په نه جوړيده نو بيا يې دخلکو تعامل ،وعرف ته رجوع کوله،سهل رح فرمايي: دنوموړي عمومي طريقه دغسې وه،

۳:- دموفق مکي په کتاب کې دي امام ابو حنيفه ناسخ ومنسوخ په اړه جستجوکې ډيرزيارويسته، بيا هغه حديث چې نوموړي ته دصحابه وو په روايت ثابت شوی به و، نو پرهغه يې عمل کاوه اهل کوفه په احديثو ښه پوهيدل (۲۰)

داصول فقه په کتابونوکې داحناقو ديادو اوواصولو نه علاوه لاندي اصول هم ذکر شوي دي :

۸:- مصالح مرسله(۲۱) ۹:- سدُ ذريعه(۲۲) ۱۰:- استصحاب حال(۲۳)

۱۱:- شريع من قبلك (۲۴)

همدارازدحنفي اصولو لاندي [تعامل] ذکر په طوردخاص راوړل کيږي.

دحنفي مذهب أمهاتُ الکتب:

داساس له مخې دحنفي فقهې مصادر په درې برخو ويشل شوي دي:

۱:- ظاهر الروايت ۲:- نوادر ۳:- فتاوی او واقعات

دظاهر روايت نه مراد دامام محمد دا لاندې شپږ کتابونه دي:

۱:-المبسوط ۲:- الجامع الصغير
۳:- الجامع الكبير ۴:- السيرالصغير
۵:- السير الكبير ۶:- الزيادات

حاكم شهيد رحمه الله دمكررومسائلو په حذفولو سره داټول كتابونه په «الكافي في فروع الحنفية» كتاب كښې مرتب كړيدي،بيا دهمدي شرح امام سرخسي- رح د« المبسوط» په نوم باندې ليكلي ده

ددينه علاوه دامام محمد نوركتابونه لكه: هارونيات، كيسانيات، رقيات، همدا رازدامام ابو يوسف رح كتاب « الأمالي» دحسن بن زياد كتاب « المجرد» او دامام صاحب نورو كتابونوته نوادرويل كيږي

دنورو كومومسائلو په باره كښې چې دامام صاحب رايه نه وي منقول او وروسته نورو مشرانو دهغوی په اړه اجتهاد كړی وي، هغوته فتاوی او واقعات ويل كيږي، په دې لړكښې د ابوالليث ثمرقندي « كتاب النوازل» دعلامه ساطفي « مجمع النوازل والواقعات» او دصدرشهيد «الواقعات» ړومبني كتابونه دي، ددې كتابونو څخه علاوه دحنفي فقهي اهم كتابونه لاندې دي :

۱:- مختصرالطحاوي لأبي جعفر الطحاوي

۲:المنتقى في فروع الحنفية للحاكم الشهيد

۳: مختصر الكرخي للامام الكرخي

۴: مختصر القدوري لأمام احمدبن محمد القدوري

۵: المبسوط لشمس الأئمة لسرخسي

۶: تحفة الفقهاء لعلاء الدين بن محمد السمرقندي رح

۷: بدائع الصنائع لأبي بكر لكاساني

۸: فتاوی لقاضي خان لفخر الدين الأوزجندي رح

۹:بد ية لمبتدي لأبي الحسن علي لمرغياني

۱۰: الهداية لأبي الحسن لمرغياني

۱۱: وقاية الرواية لبرهان الشريعة محمود

۱۲: المختارلعبد الله الموصلي

۱۳: مجمع البحرين لمظفرالدين حمد

۱۴:كنزالدقيق لعبد الله بن احمد لنسفي رح

۱۵ الجامع لوجيزلمحمد بن البزاز لكردري

۱۶: البناية للعلامة العيني

۱۷:فتح القديرلكمال الدين بن همام

۱۸: ملتقى الأبحرلابراهيم بن محمد لحلبي ۱۹:الفتاوى الهدايه تحت شراف الشيخ نظام

۲۰: تنوير الأبصار لمحمد لتمرتاشي

۲۱: الدر المختار لمحمد بن علاء لدين الحصكفي رح

۲۲: رد المختار العلامة محمد أمين اشامي

دیادوني وړده چې دیادو كتابونو ترتيب دمصنفينو دوفات نیټوته په پام شوی دی(۲۶)

امام مالك رحمة الله عليه (دمالكي فقهې مؤسس)

امام مالك رحمه الله د امام دار الهجرة په لقب بلل كيږي.

نوموړی دهجرت په ۹۳ زكال زيږيدلی او په ۱۷۹ ه ق كې مدينه منوره كښې وفات شوی دی،دمديني منورې دعلماوو څخه يې علم حاصل كړ، عبد الرحمان بن هرمزپه صحبت كښې تريدېرې مودې پورې وو، نافع مولى ابن عمر رض ابن شهاب زهري، او ربيعه الراى نه يې علم حاصل كړ،نوموړي دفقهي اوحديث امام و، امام شافعي قرشيءامام مالك رح استاددی او ترې مې علم حاصل كړی دی، هركله چې دعلماوو تذكره كيږي، نو امام مالك په هغوی كښې يو روښان ستوری دی، دنوموړي دژوند كمه زمانه په اموي او زياته يې په عباسي دوركښې تيره شوې ده(۲۷)

امام مالك رح سره دخليفه جعفر په څه ورانه شوه، هغه امام مالك په دُرو وواهه، ودنوموړي اوګه ماته شوه، موصوف په دين پښندې كلك اوپه استقامت سره ولاړو،خليفه هرون رشيد ورته پيغام وليږه چې ماته راشه احاديث راته ووايه، نوموړي دورتګ څخه انكار وكړ،اوويې فرمايل[العلم يؤتى] دعلم پسې تګ كيږي،علم پخپله چاته نه ورزي، كله چې هارون رشيدته پيغام ورسيد، نوهغه خپله امام مالك ته دورتلو قصد وكړ او لاړ ددیوال نه يې ملا ولګوله داحديثو اوريدلوته كيناست امام مالك وفرمايل: اې امير المؤمنين! رسول الله صلى الله عليه وسلم تعظيم

دادي چې دهغه دعلم تعظيم وکړی شي ددې په اوريدو سره خليفه هارون رشيد د امـام مالـک رحمـه للـه پـه مخکـې کيناست بيا ورتـه امـام مـالـک احاديث ويـل شروع کـړل، دنومـوړي پـه تصنيفونوکي [الموطا، الوعظ، المسـائل، الردعلـی القدريـة، النجـوم او تفسـير غرائب القرآن] راځي (۲۸)

دامام مالک نومیالي شاګردان:

دامـام مالـک نـه دموطـ روايـت کوونکيو شاګرد نو فهرست ډير لوی دی اليتـه دمـالکي ‌فقهـې جمـع کـوونکي شاګردان يې دوه دي؛

۱:- عبد الرحمن بن قاسم څـوک چې[خزانة مذهب مـالـک] پـه نـوم يلـل کـېږي يعنـي دامـام دمـذهب خزانـه، نومـوړي مخـامخ دامـام مالـک نـه روايتونه کړي

۲:- عبد الملک بن حبيب اندلسي، نوموړي دامام مالک نه مخامخ روايت ندی کړی ليکن دهغه دشاګردانواقوال يې پـه [الواضحه] سوم کتـاب کـې راوړي دي بيا عبد الملک اندلسي محمد بن احمد عتبي علم حـاصل کـړی دی څـوک چې د[عتبيه] پـه نـوم کتـاب مصـنف دی اودانـدلس مفتـي و،عبـد الرحمان بـن قاسم څخـه سـحنون علـم حاصل کړی دی دچا څپل نوم چې عبد السلام بن سعيد الحمصي التوخي دی د[المدونة] مصـنف دی دقيـروان علـماوو اعتماد په [المدونة] باندې وو، پـه کـوم کې چې ۳٦ زره ۲سوه مسـائل دي، دامام مالک رح په شاګردانوکې اشهب بن عبد العزيز،عبد الرحمن بن قاسم ممتاز شاګرد و، بيا په يوه زمانه کې دامام مالک علم په څلورو محمد نـاموکې جمـع شـوی او په هم هغوی باندې دامام مالک دمذهب دارو مدار دی:

۱:- محمد بن سحنون(مړ۲۵٦ هـق) په قيروان کې داد صحب المدونة څوی دی

۲:- محمـــدبن عبـــد الحکـــيم (مړ۲٦۸هق) په مصرکې

۳:- محمدبن عبد لقدوس(مړ۲٦۰ هق) په قيروان کې

۴:- محمـدبن المـواز الاسکندري(۲٦۹هق) پـه مصـرکې دا دمدونـة عظـيم الشان شارح دی

بيا دهغوی وروسته پـه څلورومـه پيـړی کـې ابـن ابـی زيـد القيـروتي (مړ۳۸٦ هق) راغی

پنځمـه پيـړی کـې ابـن عبـد البرالنمري(مړ۴۳٦ هـق) ر غی،څـوک چې دمشهورو کتابونو مصنف دی اوپـه همدې پيړی کې قـاضي عيـاض مـالکي رح هم راغی، څوک چې مشـهورعـالم دی اوپخپله زمانه کې «سيد المسمين» يلـل کيده، او دابو عبد الله المزري پـه لقـب يې مشهورو

دترمذي شارح «احکام القرآن» او د «العواصـم مـن القواصـم» مصـنف ابـوبکربن العـربي هـم دکبـارو مـالکي علـماوو څخـه شـمېرل کېږي او مفسر القرن امام قرطبي هـم مـالکي المذهب و (۲۹)

دمالکي فقهي منهج:

امـام مالـک رح دخپـل مـذهب اساس په ۲۰اصولو باندې ايښی دی، پـه هغوکې پنځه دکتاب اللـه څخـه اوپنځـه دسنت رسول الله څخه دي، دکتاب اللـه پنځه اصول دادي؛

۱:- نص الکتاب، ۲:- ظهرالکتاب يعني عمومي کتـاب،۳:- دليـل الکتـاب يعني مفهوم مخالف،۴:- مفهوم الکتـاب يعني مفهـوم موافـق،۵:- تنبيـه الکتـاب يعني دکتاب الله په علت تنبيه کول لکه پـه قـرآن پـاک کـې دي: فَإِنَّـهُ رِجْسٌ أَوْ فِسْقٌ (الانعام: ۱۴۵)

دسنت رسول الله نـه پنځـه اصـول د دي؛

۱:- نص السـنة، ۲:- ظـهر السـنة؛ ۳:- دليل السنة يعني مفهوم مخـالف،۴:- مفهوم السنة يعنـي مفهـوم موافـق، ۵:- تنبيه السنة، داتول لس اصول شول باقي لس اصول په لاندې ډول دي؛

۱:- اجماع،۲:- قيـس،۳: تعـمل اهل مديـنة ۴: قـول صـحابي،۵:-استحسـان ٦:- سد ذريعـه،۷:- مراعـاة الخلاف،امـام مالک رح کله داختلاف رعايت هم کوي ۸:- استصـــحاب حـــال،۹:- مصـــالح مرسله،:-۱۰ شرايع من قبنا.

هغه اهم اصول! چې امـام مالـک رح پکې زيات شـهرت مندلی لانـدې ۵ اصول دي:

۱:- عمـل بالسنة۲:- تعـمل هـل مدينـه، ۳:- مصـالح مرسـله ۴:- قـول صحابي چې کله يې سند صحيح وي،۵:- استحسـان(۳۰،

دمالکي فقهي امهات الکتب:

دمـالکي فقهـي اهـم کتابونـه او مصنفين دادي؛

۱:- الموطا. امام مالک رح (وفات۱۷۹ هق)

۲:- المدونة. عبد السلام ابوسعید سحنون تنوخي رح(مر۲۴۰ هق)

۳:-الواضحة فی السنن والفقه (تراوسه مخطوطه ده)عبدالملک بن حبیب(مر۲۳۸هق)

۴:- المستخرجة. محمدالعتبي القرطبي(مر۲۵۴ هق) بل نوم یې عتبیه هم دی او دا «البین والتحسین» په نوم شرح سره یوځ چاپ شوی دی

۵:- الموازیة(داهم مخطوطه وه اوس چاپ شوې) محمدبن اسکندري معروف یابن مواز(مر۲۶۹ هق) دکتابونه دمالکي فقهې امهات الکتب دي او په هغې دمالکي فقهې دارومداردی

دوینه علاوه لاندي کتابونه هم دمالکي فقهي مأخذونه ګڼل کیږي:

۱:-التفریع. ابوالقاسم عبید الله جلاب(مر۳۷۸ هق)

۲:- رسالة ابن أبیزید القیروان، ابو محمد الله زیدقیرواني(مر۳۸۹ هق،

۳:- کتاب التلقین. قاضي ابو محمد عبد الوهاب بغدادي(مر۴۲۲هق)

۴:- البیان والتحصیل(شرح المستخرجه) ابوالولیدمحمدبن رشد قرطبي رح(۵۲۰ هق)

۵:- فتاوی ابن رشد ابوالولید محمدبن رشد قرطبي(مر۵۲۰ هق،

۶ لجواهر الثمنیة فی مذهب عالم المدینة،ابو محمدعبد الله شس(مر۶۱۰ هق)

۶:- معین الحکام علی القضیوالحکام ابو اسحق ابراهیم(مر۷۳۳ هق)[داکتاب یواځي دقضاء په اړه نه دی بلکې په عقودوجنایاتو هم بحث کوي چې قضات ترې استفاده کولی شي]

۷:- المختصر. شیخ خیل بن اسحاق مالکي(مر۷۶۷ هق)[مختصر خلیل، دمتأخرینو په نزد نهایتي معتمدومستند کتاب دی په هغې وجه ورته دمالکي علماوو ترمنځ ډیرشرف او مقبولیت په برخه دی]

۸:- مواهب الجلیل شرح مختصر خیل.ابوعبد الله محمد خطاب محمدمکی رح(مر۹۵۴ هق،

۹:- شرح الزرقاني علی مختصر خلیل. عبد الباقي زرقاني مر۱۰۹۹ هق)

۱۰:-حرشي علی مختصر خلیل. محمد عبد الله محمدبن عبد الله خرشي رح (مر۱۱۰۱ هق)

۱۱:- الشرح الکبیرعلی مختصر خلیل. احمدبن محمد دردیررح(۱۲۰۱ هق)

۱۲:- حاشیة الدسوقي علي الشرح الکبیر. محمدبن دسوقي(مر۱۲۳۰ هق)

۱۳:- المجموع الفقهي في مذهب الامام مالک. محمدبن محمد امیر رح (۱۲۳۲ هق) /۳۱)

حواشي:

۱:- الفقه الاسلامي وادلته ۱-۲۹مخ

۲:- ابوحنیفةلابی زهرة۲۱مخ

۳:- ابوحنیفة ۵۸- ۶۸

۴:-ابوحنیفة ۳۱مخ

۵:- الاعلام۸- ۳۶مخ

۶:- مناقب الامام الاعظم۲-۱۷۲مخ

۷:-الاعلام ۸- ۳۶مخ

۸:- رد المختار ۱-۶۰مخ

۹:- مناقب الامم الاعظم ۲-۱۳۶

۱۰الاعلام۸-۳۶

۱۱:- کشف الظون۶-۳۸۴

۱۲:-مفتاح السعدة۲-۱۸۱

۱۳:-مفتاح السعدة ۲-۱۷۴

۱۴:-مفتاح السعدة۳-۱۹۴

۱۵:-اصول الافتاءوالاجتهاد۱-۲۹

۱۶:-الفقه الاسلامي۱-۳۰

۱۷:- فقه اهل العرق۴۴

۱۸:-الفقه الاسلامي۱-۳۰

۱۹:- ۱- ۳۱

۲۰:- ابوحیفه لابی زهره ۲۰۷-۲۰۸

۲۱:-اصول فقه الاسلامي۱-۳۱

۲۲:-اصول لفقه۲-۸۸۸

۲۳:-اصول لفقه لاسلامي۲-۸۶۷

۲۴:-اصول لفقه۲-۸۴۳

۲۵:-بیت ۳۶ جمادی الاولی ۱۱۴۰

۲۶:- قاموالفقه۱-۳۷۸-۳۸۴ دحنفي فقهي دیدو کتابونو دپیژندلوپاره وګوری قاموس الفقه ۱ج۳۷۸مخ نه ۳۸۴ پورې

۲۷الفقه الاسلامي وادلته۱-۳۱

۲۸:-الاعلام۵-۲۵۷

۲۹ صول الا فتاء و لاجتهاد لمحمد احمدالراشد ۱-۳۲،۳۳

۳۰:- الفقه الاسلامي وادلته۱-۳۱، ۳۲

د مالکي فقهې د اصولي منهج پیژندلو لپاره د ابو لولید الباجي المالکي کتاب «احکام الفصول فی أحکام الاصول» ولولئ

نور بیا ...

....په تيريسي

م: شمس....

غامديت...

داوسني عصر لويه فتنه...

مرتد لپاره د مرگ له سزا نه انکار:

عظيم الشان قرآن کې دمرتد لپاره دقتل سزا په صراحت سره راغلې، لکه په البقره سورة کې دموسى عليه السلام په واقعه کې راځي :کله چې بني اسراييلو دخُسي عبادت شروع کړ، الله تعالى هغوی ته دتوبې قبلولولپاره حکم وکړچې خانونه قتل کړئ؛ په روايتونوکې دا سپيناوی شوی چې شاوخوا اويازره کسانو دارتداد جرم دارتکاب له امله دمرگ سزا وڅکله

هغو کسانوچې دخُسي عبادت کړی وو، هغوی مرتدشوي وو،دالله تعالى دحکم سره سم هغوی دهغو خلکوپه لاس قتل کړای شول کومو چې دخُسي عبادت نه وکړی، په ورته توگه الله تعالى دالاعراف سورة په ۱۵۲ ايت کې فرمايي: وَكَذَٰلِكَ نَجْزِي الْمُفْتَرِينَ اوهمداسې سزا ورکوو موږبهتان پورې کوونکوته

دبني اسراييلو ددې واقعې په ضمن کې الله تعالى خپل جاريه عادت بيان کړ چې مرتد کيدونکي شخص ته همداسې سزا ورکوو، زکه چې [نجزي] صيغه دفعل مضارع ده، دحال اومستقبل دواړو په معنى سره راځي، غرض داچې په دې ايت کې الله تعالى دمرتد سړي په باره کې خپله پريکړه بيان کړې ده، دقران وحديث په رڼاکې دامت علماوو په دې اتفاق کړی دی چې دپخوانيو شريعتونو احکام چې کله الله تعالى او دهغه رسول صلى الله عليه وسلم بيان کړي وي او ورباندې کوم نکير يې نه وي کړی ،پر هغو باندې دامت لپاره عمل کول هم په هغه بته باقي دی، په يد ايت کې الله تعالى دمرتد شخص په اړه « وَكَذَٰلِكَ نَجْزِي الْمُفْتَرِينَ »فرمايل د هغه دقتل تاييد ښيي،هم دا راز دعظيم الشان قرآن لومړي مفسر دمرتد سړي لپاره په ښکاره دقتل حکم کړی دی چې په زمکه کې دفساد کوونکو او دقتل وغارت کوونکو لپاره دالمائده سورة په ۳۳ ايت کې الله تعالى حکم کړی دی «إِنَّمَا جَزَاءُ الَّذِينَ يُحَارِبُونَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ» په تحقيق سره دا سزا دهغه چا ده چې جنگ کوي دالله او رسول دالله سره، درسول الله صلى الله عليه وسلم داقوالو او افعالو په رڼاکې مفسرينو ليکلي چې دا ايت دهغه خلکوپه باره کې هم دی کوم چې مرتدشوي وو، لکه[دعکل یاعرينه قبيلې ته راغلو څوتنو ته] رسول الله صلى الله عليه وسلم دبيت المال اوښانودشپونکيانو وژلو په جرم کومه عبرت ناکه سزاورکړې ده امام بخاري همه واقعه دهمدې ايت لاندې راوړې، حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه دزکوة منکرينو سرکوبي کړې ده هغه دهمدې حکم لاندې....، دمسيلمة الکذاب فتنې له منځه وړل دهمدې [محاربة الله ورسوله] لاندې راځي.

نبوي احاديثو کې دمرتد سزا:

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: دمرتد سزاقتل دی لکه په په لومړی برخه کې تيرشول، دلته په هغو روايتونوسربيره څونورهم راوړو:

۱ حضرت ابوموسی اشعري رضی الله تعالی عنه او حضرت معاذبن جبل رضی الله عنه فرمایي: کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم هغوی (دواړه) یمن ته د دیني تعلیم او تبلیغ لپاره واستول، یوه ورځ حضرت معاذبن جبل دحضرت ابوموسی ځای ته لاړ،هلته ویني یوسړی په زنځیرونوکې تړل شوی ،حضرت ابوموسی اشعري رضی الله عنه ته یې وویل:حضرت! دوه څو خلکونه ددین ښودو لپاره راغلي یو، نه دعذاب یا سزا ورکولو ؟ حضرت ابوموسي اشعري رضی الله عنه په ځواب کې وویل: دا سړی داسلام راوړو وروسته مرتدشوی دی؛ د دې پسه اوریدوحضرت معاذبن جبل رضی الله عنه وویل. په هغه خدای سوګند کوم چې نبي یې برحق مبعوث کړی دی زه به په اور کې دسیزلوپرته یې نه تم کېږم، حضرت ابوموسی اشعري رضی الله عنه وویل: نه لیږزعم وکړه، ددې سړي پر ذمه زموږ څه حساب پاته دی، خو معاذبن جبل رضی الله عنه لرګي وغوښتل هغه مرتدیې قتل کړ اوبیا یې اورته واچاوه، امام طبراني داحدیث روایت کړی دی، چې ټول روایان یې ثقه دي، همدا راز دا روایت بخاري په۲توک ۱۰۲۳مخ او دالمحلي په ۸توک ۲۳۹مخ کې هم شته

۲ له حضرت ابو هریرة رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي:کوم شخص چې خپل دین بدل کړ،هغه قتل کړئ، داهم طبراني روایت کړی، سندیې حسن دی(مجمع الزوائد۱توک ۲٦۱مخ)

۳- له حضرت معاویه بن حیده رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي:کوم شخص چې خپل دین بدل کړ، هغه قتل کړئ (داهم طبرانی روایت کړی ټول روایان یې ثقه دي (مجمع الزوائد،۴توک ۲٦۱مخ

۴- رسول الله صلی الله علیه وسلم ته دمسیلمه کذاب قاصدان راغلل، یویې عبد الله بن نواحه او بل ثمامه بن اثال و، هغوی دواړو رسول الله صلی الله علیه وسلم ته دمسیلمه خط ورکړ، په کوم کې چې لیکل شوي وو؛ زه هم دالله رسول یم، ته مې ځان سره شریک وګرځوه، رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه لیک ولوست او دقاصدانوڅخه یې وپوښتل: ستا سو عقیده څه ده؟ دواړو وویل: دمسیلمه چې څه عقیده ده هغه زموږ هم ده، دې سره رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: که دقاصدانو وژل دسفارتي ادابو څخه سرغړونه نه وای نو مابه تاسونه سرونه قلم کړي وو (روح المعاني،۴- ۱۴۱،مستدرک ـ ۴ـ ۵۳ سنن الکبری ۷- ۲۰٦)

۵- حضرت علقمه بن مالک رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: کوم سړی چې مرتد شو هغه قتل کړئ، طبراني روایت کړی او دا صحیح حدیث دی (الحامع الصغیر۲ ۳۴۷مخ)

٦ - له حضرت عبد الرحمان بن ثوبان رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: کوم سړی چې داسلام قبلولو نه وروسته مرتد شو هغه به سرقطع کړئ (مجمع الزوائد٦ ۲٦۱مخ)

۷ - دمؤمنانوله مور حضرت عائشه صدیقه رضی الله عنها څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي؛ چاچې خپل دین بدل کړ هغه قتل کړئ (مجمع الزوائد ٦- ۲٦۱مخ)

راشدین خلفاء او مرتد ته د مرګ سزا:

د مرتد لپاره دقتل سزا په باره کې در سول الله صلی الله علیه وسلم احادیثو له راوړو وروسته اوس موږ دراشدینو خلفاوو رضی الله عنهم هغه پریکړې را هم اخلو کوموکې چې هغوی دمرتد لپاره دقتل سزا په ورکولو عمل کړی دی

۱۰ حضرت ابوبکرصدیق رضی الله عنه چې کله دخلافت په منصب کیناست،دعربوګڼ شمیر قبایل مرتد شوي وو، په هغوی کې هغه خلک هم وو کومو چې دختم نبوت عقیدې نه په منحرف کیدو سره د درواغجنوپیغمبرانوپیروان ګرځیدلي وو،او هغه هم وو کومو چې یواځې دزکات ورکولو نه انکار کاوه، خوحضرت ابوبکرصدیق رضی الله عنه د هغوی تولو پرخلاف جهاد اعلان کړ،حالتکه نورو صحابه وو په خاصه توګه حضرت عمر رضی الله عنه پر دې اصرار کاوه چې لږترلږه دزکات مانعینو پرخلاف فی الحال جهاد ندی پکار؛ خو صدیق اکبر رضی الله عنه دهغه ددې رایې له منلو نه انکار وکړ اوویې فرمایل: چاچې دلمانځه او زکات ترمنځ فرق وکړهغه مرتددی،اوزه به دمرتدینوپرخلاف خامخا جنګ ترهغه پورې کوم چې یا هغوی تول ختم کړم اویا بیرته هموی پوره اسلام قبول کړي

داحادیثو اوتاریخ په تیردې تولو کتابونوکې هغه واقعات شته چې حصرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه دزکات مانعینو اودختم نبوت منکرینو پرخلاف پخپل تول ځواک سره جهاد وکړ،او حضرت عمررضی الله عنه فرمایل: زموږ په پوهه کې داخبره وروسته راغله چې دابوبکرصدیق رضی الله عنه پریکړه سمه وه (تاریخ الحلفاء ۵۴مخ)

حصرت عمرفاروق رضي الله عنه ته دابوموسی اشعري رضي الله عنه لخوا یو قاصد راغی ، ویې ویل: یوسړي داسلام قبلولو وروسته مرتدشوی و، حضرت عمررضی الله عنه وپوښتل : بیا څه وشول؟قاصد عرض وکړ دقتل پرته بله چاره نه وه! حضرت عمررضی الله عنه وویل: ولې تاسو هغه ته دریو ورځو پورې په قیدکې دتوبې کولو مهلت ورنکړ؟شاید هغه توبه کړې وای بیا یې وفرمایل: ای الله!زه هلته نه وم موجود، اونه د دې خبرپه رسیدو خوښ یم،یعنې که زه هلته موجود وای نو دهغه دقتلولوڅخه وراندې به مې هغه ته په قید کې درې ورځې مهلت ورکاوه شاید توبه یې کړې وای (فتح الباری ص ۲۹۵ ج ۱۵، نیل الاوطار ص ۲۰۳ ج ۷

حضرت عثمان ذی النورین رضی الله عنه ته دکوفې دوالي حضرت عبد الله بن مسعود رضي الله عنه پیغام راغی،چې موږ په کوفه کې یوشمیرخلک نیولي دي، هغوی په پټه دمسیلمة الکذاب پردین عمل کاوه،موږ هغوی سره څه وکړو؟ امیرالمؤمنین عثمان رضی الله عنه ځواب کې وویل:دتوبې مهلت ورکړئ، که توبه یې وکړه، پرېږدئ؛ کنه قتل یې کړئ! حضرت ابن مسعود رضی الله عنه هغوی(مرتدینو)ته دتوبې وویل، دهغه ډلې مشر عبد الله بن نواحه پرته نورو تولو توبه وکړه، ابن نواحه یې قتل کړ، دهغه لاش یې دعبرت لپاره درې ورځې بازار کې کیښود ،اوتوبه ویستونکي یې جلا وطن کړل (مستدرک ص ۵۳ ج ۳، ابوداؤد ص ۲۷۴ ج ۱، سنن الکبرٰی ص ۲۰٦ ج ۸، المحلی ص ۲۳۰ ج ۸)

حضرت سلمان بن موسی وایي: امیر المؤمنین عثمان بن عفان رضی الله عنه ته یو داسې سړی را وستل شو، چې هغه داسلام راوړو نه وروسته مرتد شوی و، عثمان رضی الله عنه هغه ته درې ورځې دتوبې ویستومهلت ورکړ،خو هغه توبه ونکړه درې وروسته یې قتل یې کړ (المحلی ص ۲۳۰ ج ۸)

امیر المؤمنین حضرت علی بن ابي طالب رضی الله عنه ته څوتنه زنادقه راوستل شول، علي رضی الله عنه هغوی په اورکې وسیزل، حضرت ابن عباس رضی الله عنه ته داخبر ورسید، هغه وفرمایل؛ که زه وای ماهغوی سیزل نه، ځکه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي:دالله په عذاب سره خلکوته عذاب مه ورکوئ؛ بلکې ما هغوی قتلول ځکه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي کوم شخص چې دین بدل کړهغه قتل کړئ(بخاری ص ۱۰۲ ج ۲)

ابوعمرشیباني روایت کوي چې دبنوعجل قبیلې یوشخص دمسلمانیدو وروسته عیسایي شو، حضرت علي رضی الله عنه هغه وغوښته، ترې ویې پوښتل چې څه وایې؟ هغه وویل: زه وایم چې حضرت عیسی علیه السلام دخدای ځوی دی، حضرت علي رضی الله عنه هغه قتل کړ او بیا یې په اورکې یې وسو (المحلی لابن حزم ص ۲۲۹ ج ۸)

حضرت علي رضی الله عنه ته يو داسې سپين روږي بوډا راوستل شو، چې هغه داسلام تپلولونه وروسته مرتدشوی و،حضرت علي رضی الله عنه هغه ته وويل توبه وباسه! ليکن هغه انکاروکړ په دې سره يې دهغه نه سرقلم کړ (المحلی ص ۲۳۰ ج ۸)

اميرالمومنين حضرت عمربن عبد العزيز رضی الله عنه فرمايل مرتد ته دې تر دريو ورځوپورې مهلت ورکړئ که توبه يې ونکړه نو قتل يې کړئ (نصب الرايه ص ۴۶۱ ج ۳)

د مرتد د سزا په اړه د څلورو ايمه وو اجماع:

دعظيم الشان قرآن، نبوي احاديثو، اودراشدينو خلفاوو دارشاداتو اوفيصلو راوړو وروسته دځلوروارو ايمه وو فيصله هم راوړو:

امام مناوي فرمايي: چې ځلوروارو ايمه يعني حضرت امام اعظم ابوحنيفه، حضرت امام مالک، حضرت امام شافعي او حضرت امام احمد بن حنبل په دې اتفاق لري چې دمرتدسراقتل ده امام ابو حنيفه يواځې دميرمنې باره کې فرمايلي چې هغه دې نه قتلوي ترهغه دې په قيدکې وساتله شي چې توبه وباسي يا ورته مرګ راشي(السراج المنير ص ۳۴۴ ج ۳، نصب الرايه ص ۴۶۲ ج ۳)

دامام ابوحنيفه رحمه الله په عقيده باندې ترټولو مشهور کتاب ليکونکی مصري حنفي عالم امام طحاوي رحمه الله دامام ابو حنيفه او اصحابو علماوو دقول نقلولو وروسته ليکلي: دمرتدباره کې دعلماووآراء مختلف دي، چې ترې دتوبې غوښتنه به کولی شي کنه؟ دعلماوو يوه ډله وايي: ښه داده چې حاکم دمرتد نه دتوبې ويستو غوښتنه وکړي که انکاريې وکړ بيا دې قتل کړي، داقول دامام ابوحنيفه،امام ابو يوسف او امام محمد رحمهم الله دی، او دعلماوو بله ډله وايي: چې دمرتدنه دې دتوبې ويستو غوښتنه نشي کولی ځکه چې په دارالحرب کې کافرانوته داسلام دعوت ورسې بيا هغوی ته اسلامي دعوت ورکولو ضرورت نشته ،وکه هغوی ته داسلام دعوت نه ورسيدلی نوبيا ورته دعوت ضروري دی، او دتوبې غوښتنه هغه وخت واجبه ده چې کله يو شخص په ناپوهۍ سره دکفر لورته لاړشي، او پاتنه شو هغه شخص چې په هغه پوهه سره داسلام نه دکفرلورته لاړشي نوهغه دې قتل کړای شي او دتوبې غوښتنه دې ترې نشي کولی (طحاوي کتاب السير)

امام مالک رحمه الله دهغه سړي په باره کې چې د اسلام نه وګرځي دحضرت زيدبن اسلم رضی الله عنه روايت کوي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي: کوم سړي چې خپل دين بدل کړ تاسې دهغه څټ ووهئ

امام مالک فرمايي: درسول الله صلی الله عليه وسلم ددې ارشاد معنی داده چې کوم سړي داسلام نه ووت دزنادقه وواووړو سره يوځاي شوکله چې پر داسې زنادقه وو مسلمانان غلبه وموندې، نوهغوی د ي دتوبې غوښتو پرته قتل کړای شي هرچې هغه خلک دي چې هغوی يواځې داسلام نه دکفر په لور لاړ وو، هغوی ته دي دتوبې ويستو ووييل شي که توبه يې ونکړه بيا دي قتل کړای شي (موطا امام مالک)

امام شافعي رحمه الله وايي: ټول امت په دې متفق دی چې په مرتد سره به نه احسان کولی شي نه به ترې فديه اخيستلی شي او هغه به په خپل حال هم نشي پريښودلی څو مسلمان شي او ياقتل شي (کتاب الام)

مشهور شافعي عالم ومحدث امام نووي رحمه الله ليکلي: تمام اهل اسلام دمرتد په قتلولو اجماع کړې ده! په دې کې اختلاف دی چې مرتد نه دتوبې وراندېز واجب دی که مستحب؟ (شرح مسلم)

مشهورو معروف حنبلي عالم امام ابن قدامه رحمه الله ليکلي :اکثر اهل علم وايي: چې مرتد دې دتوبې طلب کولو پرته نه وژل کېږي.چې په هغوی کې حضرت عمر،حضرت علي، حضرت عطا،امام نخعي، امام مالک، امام ثوري،امام اوزعي، امام اسحاق اواحناف فقهاء راځي او دامام شافعي هم يوقول دادی، دحضرت امام احمدبن حنبل رحمه الله نه په يوبل روايت کې راغلي چې دمرتدنه دتوبې غوښتنه واجب نده، بلکې مستحب ده، او دحضرت حسن بصري رحمه الله نه هم دا قول

نقل دی، زکه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمیلي: چاچې خپل دین بدل کړ، هغه قتل کړئ.په دې کې دتوبې مطالبه نشته (مغنی)

حاصل داچې دقران و حدیث، اود راشدینو خلفاووداقوالُ او افعالُ په رڼاکې داهل السنت و والجماعت ټولو مکاتب فکرهم دا راز شیعه ګان په دې متفق دي چې اسلامي حکومت به مرتد قتلوي، که هغه توبه ونکړي اوبیا اسلام ته نه راځي، نن سبا دنړۍ په ځیاتو هیوادونوکې دارتداد پیښې رامخته کېږي خوځوک ورته سزا نشي ورکولی زموږ په هیواد کې هم دامریکائي اشغال وروسته دارتداد ځینې رامخته شوې خو ترننه هغوی ته چا سزا ورنکړه

پاکستانی غامدي، اودهغه څونورهم خیالان دغه رازهندی وحید الدین خان په نوم یوشحص لګیادي له څو کلونو راهیسې دمیډیا له ل لارې کوښښ کوي چې دارتداد په باب داسلام اوشریعت اجماعي احکام په مسخ شوې ډول وړاندې کړي، زموږ په هیوادکې هم یو شمیر بې لارې لیکوالان، ژباړونکي او رسنیوسره کارکوونکي چې دافغاني ټولنې دننه دالحادي افکارو خورولو لپاره دبیرون څخه تمویلیږي، هغوی هم په دې وروستیوکې دغامدي د الحادي عقایدو او دهغه دکتابونو په ژباړلو او خورولو سره غواړي په افغانستان کې د لادینیت مسکوره تیته کړي، هغوی ته ددې په بدل کې خارجیان پیسې ورکوي او تشویقوي یې دیته چې خپل کوښښونه روان وساتي اوبل دوی ته الله تعالی په غوسه شوی دهدایت څخه یې محروم کړي چې له امله یې دالحادي افکارو اوخیالاتو په خورولو کې خپل استعدادونه او وختونه ضایع کوي.

زموږ دپورتني بحث نه جوته شوه چې دمرتد دسزا مبنی یواځې یوحدیث ندی څنګه چې غامدي وایي: چې اسلامي فقهاوو یواځې د صحیح بخاري د یوحدیث (من بدل دینه فاقتلوه) په استناد سره دمرتد لپاره دقتل سزا راوړې، حقیقت دادی چې غامدي دا دعوه پرعلمي خیانت بنا ده، هغه داچې عامو خلکوته د دوکې ورکولو لپاره وایي: چې دفقهاوو مسلک په یوحدیث بنادی، حال داچې دا امت اجماعي مسئله ده یواځې یوحدیث نه بلکې ګڼ احادیث په دې باب کې راغلي، چې ځینې یې موږ وړاندې راوړل

علماو لیکلي: دغامدي دا[طریق واردات] علمي خیانت دی چې په یوې مسئلې باندې دبحث و استدلال لپاره دهغه باب دټولو احادیثو پام کې نیولو پرځای ځیني احادیث اخلي اوځیني نه اخلي، چې دا ښکاره علمي خیانت دی، دبحث او استدلال طریقه نده، اوهم داکار دټولو منل شویو اصولو څخه سرغړونه ده

غامدي بل دا وایي:

فقهاوو د[من بدله دینه فقتلوه] حدیث(کوم مسلمان چاچې خپل دین بدکړ هغه قتل کړئ) دقراني اصل سره نه دی تښلولی، اودقران وسنت دحبل متخې ربط له مخې یې ددې حدیث په مدعا باندې دپوهیدو کوښښ ندی کړی، دکوم په نتیجه کې چې هغوی دمرتد لپاره یوه داسې سزا(قتل) تاکلې، چې په اسلامي حدودو او تعزیراتوکې هغه هیڅ وجود نلري ، ددې وروسته یې دیا د حدیث ربط دالتوبه سورة د۵ ایت سره تړې کوم چې موږ دلته دهغه دژباړې سره یوځای راوړو:

فَإِذَا انسَلَخَ الأَشْهُرُ الْحُرُمُ فَاقْتُلُوا الْمُشْرِكِينَ حَيْثُ وَجَدتُّمُوهُمْ وَخُذُوهُمْ وَاحْصُرُوهُمْ وَاقْعُدُوا لَهُمْ كُلَّ مَرْصَدٍ فَإِنْ تَابُوا وَأَقَامُوا الصَّلَاةَ وَآتَوُا الزَّكَاةَ فَخَلُّوا سَبِيلَهُمْ إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَحِيمٌ

پس کله چې تیرې شوې (څلور) میاشتې حرامې، نووژنئ مشرکان چې هرځای کې ومومئ تاسې دوی، اونیسئ(قیدیان یې کړئ) دوی او حصارکړئ دوی (په کلاکانو) اوکینئ دوی ته (منتظر)په هرځای دځارلو او تیریدلوکې، نوکه توبه ووسته دوی (له کفره) اوقائیم یې کړ دوی لمونځ ،ور یې کړ دوی زکات، نوخوشې کړئ تاسې لار د دوی (څه ورته مه وایئ) بیشکه الله ښه بښونکی اودیرمهربان دی

نو اوس دمرتد په باره کې دا ایت ا و یاد حدیث سره کوم ربط یا اشتراک لري؟په دې هرهغه شخص پوهیږي چې هغه په ژوند کې یوځل هم قرآن پاک په ښه سهي توګه لوستلی وي، دقرآن پاک دا ایت څنګه چې دمضمون څخه یې ښکاري،

مفسرينو دمشركانو پخلاف د جهاد وقتال په اړه ګرځولي، او هر چې ياد حديث دی دمرتد په باره کې دسزا حکم بيانوي، اوس د ارتداد سزا او د جهاد وقتال ترمنځ څه ربط دی؟ دا غوټه يواځې دغامدي صيب عقل و منطق کولی شي پرانيزي، څوک چې دقرآن وحديث عبارتونوکې د خپلو خيالونو د ځايولو عادت لري، د علمي ديانت غوښتنه داوه چې دمرتد په باره کې راغلی حديث يې د قرآن پاک دهغو ايتونو سره تپلولی وای په کومو کې چې د ارتداد او مرتدينو ذکر راغلی دی خو داکار هغه قصداً ندی کړی خپله نه بدليږي دقران بدلولو جسارت کوي

په قرآن مجيد کې دارتداد اومرتد ذکر په لاندې ځايونو کې شوی دی، کوم چې دغامدي استاد مولانا امين اصلاحي هم پخپل تفسير[تدبر قرآن] کې راوړي دي دالبقره سورة په ۲۱۷ م ايت کې او دالمائده سورة په ۵۴ايت کې، موږ دخپلې مدعا دسپيناوي لپاره دالبقره سوره ۲۱۷ ايت او هم المائده ۵۴ ايت راوړو:

ومن يرتدد منكم عن دينه فيمت وهو كافر فأولئك حبطت أعمالهم في الدنيا والآخرة وأولئك أصحاب النار هم فيها خالدون) (۲۱۷)

هرڅوک چې ګرځي له تاسې نه له دين خپل څخه، پس مرشي حال داچې دی کافروي، نو پس دغه کسان، ضايع شوي (تير) عملونه د دوی په دنيا او اخرت کې او دغه کسان صاحبان داور(دوزخ) دي چې دوی به په دې اورکې تل وي

دالمائده ۵۴ ايت:

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا مَن يَرْتَدَّ مِنكُمْ عَن دِينِهِ فَسَوْفَ يَأْتِي اللَّهُ بِقَوْمٍ يُحِبُّهُمْ وَيُحِبُّونَهُ أَذِلَّةٍ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ أَعِزَّةٍ عَلَى الْكَافِرِينَ يُجَاهِدُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَلَا يَخَافُونَ لَوْمَةَ لَائِمٍ ۚ ذَٰلِكَ فَضْلُ اللَّهِ يُؤْتِيهِ مَن يَشَاءُ ۚ وَاللَّهُ وَاسِعٌ عَلِيمٌ (۵۴)

ای مومنانو هرڅوک چې مرتد شو(وګرځيد) له تاسې نه، له دين خپل څخه، نو عنقريب به راولي، الله داسې يوقوم چې محبت کوي (الله) له هغوی سره، او محبت کوي دوی له الله سره، متواضع او مهربان به وي پرمومنانو، غالب زبرست به وي پرکافرانو باندې، جهادبه کوي دوی په لاره دالله کې (له پاره دترقي ددين) او نه به ويريږي، دوی دملامتيا له هيڅ ملامت کوونکي.

دقران مجيد دا دواړه هغه مقامات دي چې دارتداد او مرتدينوپه اړه دياد حديث سره تپلول کيدای شي په کوم کې چې دمرتد په باره کې دسزاحکم راغلی دی، او دغامدي استاد امين اصلاحي هم پخپل تفسير کې (تدبرقرآن) په دې يادو ځايونو کې دمرتدينو ذکر کړی دی خو دتوبه سوره په ۵ايت کې دمرتدينو ذکر هغه هم ندی کړی کوم چې غامدي خامخا دمرتدينو سره تښلول غواړي

علماء ليکي: دغامدي دموقف وروستی نکته داده چې هغه وايي: په اسلامي حدودو او تعزيراتو کې دمرتد لپاره له سره د هيڅ ډول سزا وجود نشته او وايي: دا د فقهاوو يوه لويه اوګنده تيروتنه ده چې هغوی په اسلامي حدودو او تعزيراتوکې يې ځای کړې ده.

نو اوس لوستونکي دي پخپله قضاوت وکړي چې ايا دمرتد لپاره سزا فقهاوو تعين کړی؟ که مخامخ دقرآن اوحديث نه صراحتاً ثابته ده؟ موږ له پيله دمرتد لپاره دقتل سزا په ثبوت کې دقران وحديث،راشدينو خلفاوو، صحابه وو، او ټولو اسلامي فقهاوو تصريحاتو په راوړو سره ثابته کړه چې دمرتد سزاقتل دی، ايا ددې وروسته هم داسې مسلمان به وي چې هغه ددې ويلو يا ليکلو جسارت وکړي چې په اسلامي حدودو او تعزيراتو کې دمرتد لپاره قتل سزا ثبوت نلري! نو که وي هغه به داسلامي شريعت او دامت له اجماع منکر وي او دغسې شخص يقيناً چې ګمراه به وي او پيروي کول يې هم ګمراهي ده، دهغه کتابونه ژباړل او چاپول هم ګمراهي ده دهغه وېناوې اوريدل او نشرول هم ګمراهي ده، ورته دعالم او محقق نسبت کول هم ګمراهي ده، مسلمانانو ته پکارده ددغسې ګمراه خلکو د ګمراهيو په دامونو کې ونه نښلي او ترې خبر او اګاه اوسي.

ثوربيا..

د ملت پرېکون او د دیمکراسۍ کډه

محسن پکتین

کابو دوه اونۍ وړاندې په هېواد کې د پردیو له لورې د څلورم ځل لپاره انتصاب او پر نورو ټکو جعلي انتخاب پروسه له بشپړې ناکامۍ سره ترسره شوه، که څه هم په تېرو څلونو کې لا نه د نظام جوړښت ملي او نه یې مشران د ملت پر انتحاب راغلي و، بلکې پرلپسې د پردیو پر انتصاب، ټپنه او گومارنه رټلل، او بیا د۲۰۱۴کال ټاکنو ډرامې او تش پر نوم ملي ناکامې او له شرمه ډکې پروسې تر سره کېدو وروسته د جان کېرې پرلاس انتصاب خو ببخې لوڅ پوڅ پردی و، بیا یې هم هرڅه ته د ملیتوب نوم او رنګ ور کاوه، سره له دې چې په ټوله مانا له ملته لیرې، د هغه پر زیان او عملاً یې سخت وهم کړاوه.

خو دا ځل یې پردیتوب تر هغه لا پسې بربنډ او د دې پروسې له پیل وړاندې یې د هېواد او ملت لپره د خطر خور څرګند پیغام یې درلود، هغه و چې ملت ورسره ټولیز پرېکون وکړ او د تش په نوم ټاکنو پروسې په ګډون د پردیو له لورې احتمالي رامنځته کېدونکې ادارې، د هغې د څواک، پر ددنه ورو ډارو، د اربکیانو په څېر ملېشې او سولې حرکت په څېر استخباراتي پروژو، کورنیو او بهرنیو چارو، په کور دننه او بهر هردول ستازولۍ، پروسو او پروژو او... ښخه میتوب په بشپړ ډول کډه وکړه، مشرانو جرګه او پارلمان خو چې لا پخو ملي نه و همغه بسنه کوي

هو! ملت رایې به دې ور کړي، خو دښمن چې یې دعوه لري، د بایومېټریک و غیربایو مېټریک، سپینو تورو نومونه ور کوي، پر سر یې ډاکټران یو له بل سره چنې وهي او پر مټ یې هریو له وخته مخکې لا ځان بریالی اعلالوي هغه رایې دي چې دولتي کسانو، د نوماندانو خپلوانو، د هغوی هوا دارانو او یو نیم تهدید او تطمیع شویو هغو به کارولې وي

خو دغه رایې د کمښت، تقلب او نورو ببلابېلو لاملونو له وجې د پر اصطلاح ټاکنو کمېسیون غړو، کار پوهانو او ... په اند چې ټولې یوه نوماندان لپاره وکارولې شي هم پرې د انتخاب مشروعیت نشي ترلاسه کولای، خو چې لاهم په دومره شد او مد پر بېلابېلو نومونو لاڅیات تبېفېږي نورې موخې به هم خامخا ولري، خو دغه تبلیغ په ځانګړې د دې لپاره چې د هغه پر مټ یې خلک پر شتون باورې کړي، د دې ناکامې پروسې د ترسره کېدو وړاندې تبلیغات بریالي کړي او خپلو شومو موخو ته پرې د رسېدو جوګه یې کړي، بل هېڅ نشته

له دې ناکامې انتصابي پروسې وړاندې لا چې دښمن څه ویل، هر څومره یې له بریالیتوب سره د هغې د تر سره کېدو داد ښکاره کړ او هر ډول یې اسانه او ارزانه ښودله، خو بیا یې ریښتونې بڼه هم هرچا ولیده او ولیدل شول چې دا هرڅه یوازې تبلیغ و چې ورته یې وکړ نور هېڅ نه چالیدلې، نه و او نه هم دښمن خپله تمه لرله بلکې د همه لا هم پوخ باور د هغه څه وچې په واقع کې وشول، نو ځکه یې لا له پیله ښه پر درز کې تبلیغوله.

داځل دغه ډرامه برالا و په ښکاره د ګڼو اشغالګرو هېوادو د سفارتونو له لورې رامنځته شوه، چې د امریکا او المان سفرتونو پکې مخکښ رول درلود، اوس د ټاکنوا! د پیلو اعلان له لومړۍ ورځې میاشتې ته، له میاشتې څه د پاسه هڅې نه.. هلم جرأ که پردیو ببره و نکړه همداسې په کال ځنډېږي، د یادو اړوندو سفارتونو او هلته مېشت بهرنیو دیپلوماتانو سر وکار له دې ډرامې و اړوند کمېسیون سره دی.

همدوی ځینې نوماندان له کاندېداتورۍ تېر کړل او د ځینې نورو یې دغه جوش ورسور کړ، کومو نوماندانو چې پردیو ته وعدې ور کړې او هغوی یې په افغانستان کې خپلو ګټو ته ژمن بولې لوبه د همغو لپاره روانه ده، ګلبدین چې د ژبې پر سر ځان لیږ پر اسلامیت رنګوي، ربړي، تور پټکي، د جهادي مشر۔نوم لا ریات د اسلامیت پر صبغه ښکلی کړی بهرنیانو پر اسلام باندې د رشخند او ټوکو لپاره په دې ډرامه کې خپې مخې ته پربښودلی، خو هغه لېوی ښایي پردیو ته د ور کړو وعدو په تمه د بریاخو بونه وبنې او کنه له ربړې او پټکي سره به څنګه د پردیو د حوښې ور وګرځي؟!

دا ځل د دې جعلي پروسې هغه تش پر نوم ملیتوب ته هم پاملرنه نه کېده یوازې د رایو په ډېرښت د ملت د رضایت سلنه له صفر څخه د امکان تر کچې لوړول اړین و، که په هره بیه، هر ډول فساد، هرڅومره تقلب او درغلۍ وي او ملت له هرډول ګواښ سره مخ کوي..... ځکه دا د لوبې

بیل کېل کېږي پکې د ملت خوښي چې په اوږو کې د مالګې بربېره وي هم غنیمت یې ګڼي، ترڅو لومړی پردي اشغالګر په پام کې لرونکو کاندیدانو په زړه د ملت د خوښې قصدي مالومه کړي (پر وچ زور خو نه کېږي) او بیا د ترلاسه شویو رایو شمېر لوړ وسېي لکه چې اوس یې هڅه روانه ده، خو چې ملت په ډاګه پرېکوړ وکړ نو لکه چې د پردیو لخوا منځته او پرمخ وړل کېده همغسې پردۍ پروسه او له میتوبه وړ خالي شوه.

دا ځل له دې مله هم مت ته په دې جعلي پروسه کې ګډون د منلو نه و چې هغه سوله غوښته، نوماندانو پرې پر زور رایه کارونه او د جګړې انتخاب مانه، ملت د سولې پر درشل ولاړ و خو نوماندانو غوښتل ترې را ستوڼ او د جګړې په لتخاب یې د عام وژنې په لیکه کې د مرګ خولې ته و دروي، ملت له تېر څخه کرېده او نور ترې د وتلو په لټه کې و، خو نوماندانو ترې غوښتل د دوی د ګټو په خاطر دې لاریات وژغمي.

همد رنګه د ملت د راتلونکې لپاره د کاندېدانو طرحې نه لرل، د هریوه خانته د رایو د جلب لپاره د سیالانو سپکاوی، د مت د رایې په کارولو له منتخب مشره د سولې غوښتنه خو د کاندېدانو په طرحوا! کې یې نشتوالی او ورته نه پاملرنه، په سوله کې د هېواد او ملت د یقیني نېکمرغۍ سربېره د کاندېدانو ټاکنو او ځرګندې بدمرغۍ ته لومړیتوب او... هم پر دغه پروسه د ملت د بشپړې بې باورۍ لامل وګرځېد، په دې توګه د پردیو تپل کېدونکې ،دړې لپاره د انتصابي هڅو پخو له پیله د هغې میتوب تر پوښتنې لاندې ،و له منځه لاړ.

په تېر کې د رایې کارولو او د هغې کارونکو پایله او برحلیک له پرلپسې وېرونو، مرګونو، او کړاونو پرته هېڅ نه و او اوس د پردیو د انتصاب پروسه په راتلونکې کې د لاریاتو غمېزو او وحشتونو پیغام وه، هغه هم په داسې حال کې چې ملت طالبانو د وسلې پر نوک او د خپو سرونو په بیه د سولې پر درشل درولی او لاهم هرې بيې ته تیار دي چې هېواد او ملت له رواتو بد مرغیو او سترو غمېزو څخه د سولې او تېکاو فضاء ته و باسي، نو ځکه دا ځل په دې جعلي پروسه کې ګډون یوازې له نېکمرغه او سوکاله ژوند څخه یو ځل بیا د تدریجي ټول وژنې په لیکه کې منتظر درېدلو په مانا و اوبس

دښمن دا ځل ملت ته د دې پروسې ټوله پېچلتیا او ترې شاته او وروسته پاتې هرڅه ډېر ساده او یوازې د یوې ګوتې تورولو پورې اسانه ښودل، خو ملت له تېرو ځلونو ډېر څه رده کړي، د دې تش پر نوم پروسې له نبض څخه یې ټول راتلونکي پوره درک کړی وه او هر وګړی یې پوهېده چې ګوتې تورول نه بلکې مخ تورول و د ټول ملت په خون کې ځان ور ګډول دي، نو هغه و چې ورسره د پرېکون پر مت یې خپل هویت او ارزد میتوب هم د پردیو له څېره څورو واخېست او د غلامۍ له هغه رنګ څخه یې خوندي کړ چې دغه ایمان، هېواد، ملت، اسلامي او ملي ارزښتونو پلورونکي یې وریاندې رنګوي.

له دې جعلي پروسې سره پرېکون د ملت هغه ملي او اسلامي ذمواري او مسئولیت و چې په هېڅ دلیل یې له غاړې نشو اړولای او همدومره یې پر هغه پورې اړه لرله، ملت چې دغه زحمت پر ځان ونه ګاله بې پړاو ته د احتمالي تللو په صورت کې یې له دوه برابره دغه زحمت څخه هم وزګار شو، د نورو له نېوکو او تورونو هم خلاص شو، له وخته په تېره چاره له افسوس ،و واوېلا هم بېغمه شو ،و...

نور چې دښمن خپلو دړمو ته هر نوم او رنګ ور کوي پر مت اړه نه لري او نه هم پرې نېولی دی، ملت دنیا ته وښودله چې موږ تېروتنه کړې وه او دا ځل مو له درک کولو سره سم له احتمالي راتلونکې اداري سره په ټوله مانا داسې پرېکون دی لکه چې مو د هغې له نمایشي بنسټ او دغې جعلي پروسې سره کړی، حپل ملیتوب مو ترې اخېستې او سلب کړی، نور پردي پوه شه، کوډاګیان یې، شومې ارادې او اداري یې.

خو یوه خبره چې دلته یې باید و وایو دا چې پردېپالو پر کراتو مراتو دا ویلي، لا هم وایي او شکر باسي چې د خپل ملت او د هغه د بچو پر وېنو یې د پردیو او بیا کفري هېوادونو امن ساتي او په دې لاره کې نوموړو پردېپالو د ملت بچي پر لومړۍ کرښه کې درولي، نو مت دي د دې نوموړو په جعلي وعدو او دعوو غولېدلي بچي که پولیس دی، یا مأمور، عسکردی، که افسر او یاهم خپل سر ټول دي پر سرو مغزو وپوهوي چې نور د دې لوېي ملیتوب موږ ترې سلب کړی او اخېستی دی، نور لازیات د چ لپاره خپه او د خپو هېوادوالو وینه تویوئ؟!

راځئ پر کور کېنئ د خپل سر او ژوند بیه وپېژنئ چې ډېره لوړه ده، پاتې څو کړۍ ژوند په خپل کور له مور او پلار، مېرمنې، اولادونو او خپلوانو سره د سوکالۍ ارام ،و ډاډ په فضا کې ولرئ، پردي او پردي پال مو هسې هم د خپلو ګټو لپاره کاروي او اوس خو ټول سره په ګډه او ګډه دي که تاسو پر هر حال یاست ډېر زر مو پر همغه حال پرېږدي، چې بیا به نو خپل ملت ته مختوري یاست او د هغه پر وړاندې د دې هرڅه ځواب به هم تاسو وی، او ډېره بده لا دا چې که په دې لاره کې په یوډول هم و وژل شی، نو مور او پلار، مېرمن، اولادونه خپلوان ټول به مو پر مرګ داسې واوېلاوې کوي او پر سر به خاورې اروي چې دا تاسو خپله د وژل شویو همسنګرو هغه وینې او ګورئ.

دسوداګرۍ او اقتصادي ودې په اړه

د حکومت مسؤلیتونه

م: ش: منصور

داسلامي شریعت لاربښوونوته په کتودوخت اسلامي حکومت مسؤلیت لري چې دهېواد اقتصاد اوسوداګرۍ ته دودې ورکولو پخاطر تنوې عصري اوضروري اسانتیاوې برابروې کړې،اوهم په کلکه توګه دیته خیر اوسي چې د اقتصاد اوسوداګرۍ پر چارو کې داسلامي شریعت قوانین تطبیق او احکام په پوره توګه عملي کړي.

اسلامي حکومت به دیته بیداراو کتوجه وي چې په ټولنه کې هغو خلکوته چې شرعي قوانین اودولتي مقرارات نه رعایتوي اوتل دچپلو شخصي- کټووتوپه‌ره بازارونه خرابوي رشد اومؤثریت ورنکړي

اسلامي حکومت مسؤلیت لري چې دعامو خلکو لپاره تمام عصري سهولتونه تنظیم او برابرکړي، هم باید ترسوداګرۍ اواقتصادي شعبې پورې اړولوخلکوته له قانوني اوحقوقي پلوه اسانتیاوو برابرولو ترڅنګ هغوی ته هغه ټول اسباب اووسائل په لاس ورکړي کوم چې دازاد تجارت دودې لپاره ضرور اوورسره مرسته کوي.

دسوداګریزواواقتصادي چارو څارنه اودشرعي حدودو دننه دانفرادي اوشخصي ملکیتونو ساتنه، د احیایي موات لپاره مناسب پلانونه جوړول اود کفایي فرایضو په باب کې اړونده مسؤلیتونو پوره سرته رسول د حکومتي واکمنو دمهمو مسؤلیتونو او وجایبوڅخه دي

دشریعت دښکاره نصوصو له مخې دنرخونو ټاکل، یعنې دقیمتونو پیشګي تعینول حکومت ته ندي پکار، هم په عامو حالاتو کې دنرخونو ټاکلو له لارې دبازارونو کنټرولولو پالیسي تر کل پکارندي هوا که حکومت محسوسوله چې بازارونو کې ځیني عناصر په غیرضروري توګه نرخونه زیاتوي، داحتکار پرکولو دزیاتو منفعوپه موخه یا په کومه بله وجه هغوی غواړي بازارونو کې نرخونه خراب کړي،نو حکومت دڅارونکي او نګران په حیث بیا دنرخونوپه ټاکلوکې دمداخلې حق لري، دغه استثنائي حالت کې حکومت ته دداسې ګامونوپورته کولو اجازت هم شته چې دهغوپه وجه په معقوله سطحه دقیمتونو له ټاکلوسره مرسته کیدای شي څو ټولواړوند طرفونو ته دهغوی حقوق په پوره عدل وانصاف سره ورسي.

دحکومتي مسؤلیتونوپه بب کې دکفایي فرایضو باب خورا زیات اهمیت لري، له کفایي فرائضو نه مراد هغه فرائض دي چې په مجموعي توګه دهغو سرته رسول د امت مسلمه پر

ذمه دي، که د امت مسلمه یوشمیر خلک هغه فرائض په سمه او کافي توگه سرته رسول، نوبیا عام مسلمانان دهغوپه سبب بريُ الذمه گرځي، خو که څه کسان ددې لپاره نه وړاندې کېدل، یا وړاندې کیدل خو هغوی په مؤثره او کافي اندازه له مطلوبه معیارسره سم هغه نشوای سرته رسولی نوبیا ټول امت ددې کوتاهۍ ذمو راوړونیره حده گنهگار دی

څنگ چې په هردورکې داسلامي امت دوگړو په شمیر کې زیاتوالی رادرومي،فی الحال هم را درومي اوپه راتلونکي کې به هم را درومي، په دې وجه د اسلامي امت لپاره تل دا اړتیاده،چې یوه اداره یا حکومت به دکفایي فرایضو دسرته رسولوبندوبست کوي،دحکومت د نشتوالي،یا دنه علاقمندی په صورت کې دټولنې مخورخلک،ښاري ټولنې اواتحادیې به یادمسؤلیتونه سرته رسوي، خو بیا هم دا دمسوارې تربل هرچا زیاته دحکومت په ذمه ده، ورته داسې اداري جوړول پکاردي چې هغه دکفایي فرایضو په سرته ر سولو کې دامت سره مرسته کولی شي، او په هغو ټولو معاملاتوکې چې دکفایي فرایضو حکم لري دیورابط په توگه به خپل مسؤلیت اداء کوي، ددې فرایضو نه علاوه په نني جدید دورکې چې کوم څه ته کُلي اقتصاد،یا کُلي معاشیات ویل کېږي دهغو دغوښتنوپه تکمیل کې به هم دحکومت کردار اساسي وي، ځکه نن سبا دامعروفه ده، تجربې یې هم تائید کړی عقل ومنطق هم مني،اودشریعت له احکامو سره هم تعارض نلري، نو شرعاً غوره کول یې مستحسن کاردی، چې د کُلي اقتصاد په برخه یا معاملاتوکې به دحکومت کرداراساسي وي او دکاریواځي اویواځي حکومتونه کولی شي چې دټول هیواد اقتصادي حالت وڅیړي، ویې ارزوي، اوداطې کړې چې په کومو برخوکې تغیراتو راوستوته اړتیا ده ویه کوموکې نشته؟ دهیواد داقتصادي حالت جاجونې لپاره دکومو محرکتو جاجونه پکارده؟ هغه کوم اسباب او عوامل دي چې هغوته وده ورکول اړینه ده؟ او هغه کوم اسبب او عوامل دي چې دهغو کنټرولوته اړتیاده؟ښکاره ده چې داکار دحکومت پرته بل څوک نشي کولی، هیوادکې که بیکاري خوریږي، نو دمخنیوي لپاره یې یو ځي حکومت ساسي رول اداء کولی شي، او دافرادو اویا ادارو لخواپورته کیدونکي گامونه شاید محدود او زیات مؤثرثابت نشي.

بیا دیته په کتوچې نن سبا مالي اوتغدي پالیسۍ حکومتونه طې کوي، بلکې نن سبا ټول دارو مدارپه [زراعتباري] یعنې په کاغذي سیکې پورې اړه لري او[اعتباري زر] یعنې دکاغذي کرانسۍ عرضه کیدل یواځي دحکومتونولخوااعتبرلري،دهرهیواد مرکزي بانک یې دخپل حکومت لخوا وکالتاًدوړاندې کولو واک لري، په دې وجه دحکومت لپاره داطی کول پکاردي چې دهغه [ژري پالیسۍ] به څه وي؟دمالیاتوپه اړه به یې رایه څه وي،په کوم انداز او کومه طریقه به هغه خپله پالیسي عملي کوي؟ کله اوڅومره زربه وړاندې کوي؟ او دزروڅومره زخایردهیواد دننه ساتل غواړي؟ بیا دهغوسروزروچې دهیواد داخل کې ساتل غواړي دهغوزري مبادله به څومره وي؟او دهغوزرو اندازه به څومره وي چې دبهانگونې یادبل کوم غرض لپاره یې په خارجي هیوادوکې ایښودل غواړي؟ دومره لویې پریکړې کول افرادو صلاحیت نه بلکې دحکومتونو اوریاستونو ترصلاحیت پورې اړه لري.

پردې علاوه عموماً هیواد داقتصادي ترقي اوپرمختگ په لارروانول هم دحکومت مسؤلیت دی، هغه به داپریکړه کوي چې د ټول هیواد دترقۍ او پرمختگ په کوم ډول پکاردی؟ ددې لپاره کوم ډول گامونه پورته کول گټه لري؟ ددې لپاره کوم، کوم ترجیحات پکاردي؟ هوا یواځي حکومت داپریکړه کولی شي چې په لومړي گام کې کومو، کوموبرخوته زیاته پاملرنه پکارده ،وکوموته په دوهم او دریم گام کې پاملرنه؟ نن سبا سرکونه، جوړول، خلکوته اوبه رسول، بریښنا رسول،ځای پرځای روغتیایي کلینکونه جوړول، تیلفوني اسانتیاوې رسول هغه برخې دي چې دفقهي احکامو له مخې دشدیده ضروریاتو درجه لري

داسلامي شريعت تقاضا داده چې ترټولو لومړي دي هغو سيموته پاملرنه وکړي، چې هلته خلک دژوند اته لومړنيواړتياوې څخه محروم پاته وي، دشريعت له نظره په دغسې حالت

کې چې يوځای خلک دژوند دلومړنيو اړتياوو څخه محروم وي، حکومت لپاره دهغه سيمې ياځای نه علاوه بل ځای کې دوسائلو لګول حرام دي! څو چې پر هغو سيموکې چېرته چې خلک دژونداته د لومړيو ضرورتونو څخه محروم دي، لومړني ضروريات پوره شوي نه وي بل ځای کې د وسائلو لګول ناروا دي. کومونه چې فقهاوو، دضرورياتو، حاجياتو اوتکميلياتو په اصطلاحاتويو ترتيب ټاکلی دی دا ترتيب داقتصادي ترقۍ په اړه پلانونو کې ملحوظول ساتل ضروري دي

بيا دکلي اقتصاد يوه مهمه څانګه په صادراتو او ورداتوکې توازن راوستل دي.نن سبا دا دومره اهميت لري چې دهيوادونو داقتصاد اومعيشت مستقبل دصادراتو او ورداتو پر تو زن پورې انحصار لري، داکارعام خلک نشي کولی، يواځې په اړه يې دولت يا حکومت مخکين رول ادا کولی شي، ځکه حکومت به داپريکړه کوي چې د بيرون څخه د کومو، کوموتوکو واردول دهيواد پرمعيشت منفي تاثير نلري؟ اودکومو واردول دهيواد اقتصاد ته ګټه لري؟ اوس که دامعامله دعامو سوداګروخوښې ته پريښودل شي، نوبيا هر سوداګر دا هڅه کوي چې هغه زيات نه زيات اجناس دزياتې ګټې ترلاسه کولو پخاطردبيرون څخه را وارد کړي

ځکه بالعموم سوداګر داغواړي چې کوم توکي زيات خريدو پروخت ولري هغه په زيات پيمانه هيواد ته را وارد کړي او ښکاره ده که حکومت يومخ هغوی ته دا اجازه ورکړه نو هيواد به خلاص بازار وګرځي، اوهغه صنايع چې دهيواد دننه توليديږي، او دتوليد لپاره يې کارخانې جوړې شوي، صدمه او ټکان ورينې، نو ضروري دا ده چې حکومت به پريکړه کوي چې دکومو، کومو، اجناسو راوړل کورنيو مصنوعاتو يا توليداتو باندې منفي تاثير لري؟ اودکومو راوړل دبهر څخه دهيواد کورنيوته مصنوعاتوته زيانو نه رسوي؟

هغه اجناس چې راوړل يې دهيواد دصنعت لپاره ګټه ولري، دهغوراوړلو لپاره به دوخت حکومت وسائل او اسانتياوې هم برابروي، سوداګر به دهغو راوړلوته تشويقوي، راوړو ته يې چې څومره ګامونه پورته کول اړين وي، هغه به پورته کوي، خو که څيني توکي داسې وو چې دهغو صادرول هيواد ته په زيان تمميدل حکومت به يې صادورولو بنديز لګوي دمثل په توګه: هيواد کې دننه دخوراکي اجناسو دکمې پرمهال که سوداګر يو ګاونډي هيوادته دخوراکي اجناسو وړلو اجازه ولري .هغوی دخپلو شخصي ګټو لپاره بيرون ته په زياته پيمانه خوراکي توکي وړل نه دريغوي . اوښکاره ده داکارهيوادکې دننه دنرخونو لوړيدواو ګرانۍ سبب ګرځي، دهيواد خلک داجناسو له کمښت سره مخ کيدای شي

دېته ورته ګڼ معاملات او موارد شته چې ورته په ګټو سره حکومت داجناسو دصادراتو اوواردات‌وپه بهيرکې لاسوهنه کولی شي، دهرکوم جنس چې دضرورياتوڅخه وي، دهغه دحصول لپاره اسباب غوره کول هم ضروري دي، دشريعت په اصولو کې راځي: مَالاَ يَتِمُّ الواجبُ الّابه فَهُو وَاجبٌ(الاشباه والنظائر:۱-۱۳۶) په هر هغه څه چې واجب دارو مدار ولري هغه هم واجب ګرځي.

مشهورشافعي فقيه علامه عزالدين بن عبد السلام ويلي: وللوسائل أحكام المقاصد. فالوسيلة إلى أفضل المقاصد هي أفضل الوسائل. والوسيلة إلى أرذل لمقصد هي أرذل الوسائل. (قواعد الاحكام في مصالح خير الانام فصل في ا لقسام المصالح ۱-۴۷)کوم څیز چې دلویو مقاصدو دحصول لپاره وسیله ګرځي، هغه اعلی وسیله ګڼل کیږي، اوکوم څه چې دنارو مقاصدو دحصول زریعه ګرځي هغه ناروا زریعه ګرځول کیږي. دزریعې او وسیلې احکا م هم هغه دي کوم چې دهغه مقصد دي، دکوم لپاره چې هغه زریعه ګرځول شوې دی

دکلي اقتصادیاتو ځیني اهداف وي، څه مقاصد لري، داهغه اهداف ومقاصد دي چې سرته رسول یې حکومت ته پکاردي،دحکومت مسؤلیت دادی چې دخپلې پالیسۍ ،قوانینو او ځواختیاراتوله لارې هغه حاصل کړي، هیواد کې اقتصادي وده کې توازن اویکسانیت رامنځته کول پکاردی، ولې ځیني سیمې وړاندې بیول او ځینې وروسته پریښودل، دشرعي عدالت خلاف عمل دی، دحکومت مسؤلیت دادی چې هغه په اسلامي مساوات عمل کړی حتی الامکان باید کوښښ وکړي چې دهیواد دمختلفو سیمو، د خلکو اومختلفو توکمونو ترمنځ داقتصادي ودې سلنه سره ډیره متفاوت نه وي، داسمه ده چې لږتفاوت حتمي و شوني دی، چې تری اجتناب ناشونی دی، اوبیل په ځینو لویو ښاروټوکې لری، لوی سود ګریزمراکزشتون لري، هلته مجهز دفترونه اوښکونه جوړول اړین وي، یا لوې لوې تجارتي پروژې او کمپنی پانګونې کوي اوپه کوچنیو ښارونو کې یې حالت دسې نه وي، نوطبعاً به دهغو اقتصادي ثمرات او ګټې هم ترلویو ښارونو محدود وي، دومره تفاوت دزغم وړدی، خو داچې صرف نن سبا په ځینو هیوادوکې وینو هلته دلویوښارونو اوکوچنیو

ښارونو ترمنځ ډیرزیات تفاوت دی او دا په هغه درجه تفاوت دی کوم چې اسلامي شریعت ناخوښه عمل بللی

کُلي اقتصادکې دوهم هدف په بیوکې داستحکام معمله هم ده، دبیو کنترولول اواستحکام دحکومت مسؤلیت دی، که په بیوکې استحکام رانشي، نو هغه هیوادته نه واردات کیدای شي او نه دهغه نه صادرات ممکن دي، که په بیو او نرخونوکې استحکام شتون ونلري نومعاش خواره او دکم عاید خلک به ونکړای شي چې په سمه توګه ژوند وکړي، دبیو داستحکام لپاره ضرور ده چې دافراط زر[کوم چې نن سبا داعتباري زرو نتیجه ده] مخنیوی نه پام وکړي، څو چې نړۍ کې داعتباري زرو اوسني نظام شتون لري، ترهغه پورې یومخ دافراط زرمخنیوی ناشونی دی، هو! دمناسبو ګمونوپه پورته کولو سره پکې کمی ممکن دی؛ دومره کمی چې هغه دعامو خلکو له وس څخه بیرون نه وي، ددې لپاره ضروري ده چې حکومت دمتوازنه مالي اوزري پالیسي وضع کړي اوورته دځېلو مهمو اهدافوله زوایې څخه ځیراووسي

حکومتي لګښتونه کمول اوهیواد کې بیکاري له منځه وړل هم دکُلي اقتصاد دودې لپاره اهمیت لري، حکومت باید کم نه کم لګښتونه ولري، داځیره تل داقتصادپوهانو ترمنځودبحث اهمه موضوع پاتې ده، اسلامي مفکرینو اوعلماوو یې په اړه خوراګټور بحثونه کړي، شاه ولي الله محدث دهلوي، علامه ابن خلدون او نوروعلماوو

ددې خیرې پر اهمیت رڼاوې اچولې، آن چې حضرت شاه ولي الله رحمه الله یوځی دکسبونو او مسؤلیتونو هغه تفصیلات هم وړاندې کړې، چې په هغوکې څیني کسبونه یاپیشې بې بې ګټې ،فضول اوغیر ضروري ګرځولې، او دایې ویلې که ددغوکسبونو یا پیشودخاوندانو شمیرپه هره ټولنه کې زیات شي نو دحکومت په خزانه بـه هغوی درونـد بـوج وګرځي، اوپه نتیجه کې به بې هغه ټولنه دبربادۍ سره مخ شي لکـه دفـن پـه نـامـه فنکـاران، هنرمنـدان؛ دشـعرو ادب پـه نامـه شاعران؛ یادکومې بلې تفریح په نامه؛ زرکونو یا لکونوخلکو د بیت المال څخه معاشونه ورکول په بیت المال بـوج ګرځـي، او دومره بوج نشي زغملی بالاخرې دیو مـخ رکـود سره مـخ کوي.

پـه دې واقعیـت بانـدې دپوهیـدو لپـاره محقـق عـالم دوکتورمحمود احمد غازي رحمه الله لیکلي: دپاکستان دهوائي الوتنو شرکت [پي ای اې] یووخت دمنطقي اوسیمې په سطحه یومشـالي شرکـت بلـل کیـده، اوپـه نړیوالـه سـطحه یولـه معتبروهوائي شرکتونوڅخه و خو کله چې ددغـه هیـواد دغینـو حاکمانو دڅسمو پریکړو او کړنوپه وجه غیرضروري بوجونه په دغه شرکت واچول شول دهغوپه وجه نن ورځ هغه معتبر شرکت دبربـادۍ ښـکار دی، لـه تیـرو دیرشـوکلو راهیسـې مسلسـل کوښښونه روان دي چې یـد شرکـت لـه زیانونوڅخـه وژغـورل شي،خو هیڅکومه مثبته نتیجه نه ورکوي، ددې لوپه وجه داده چـې دیـاد شرکـت پرپـانګـه یاشـتمنۍ وخـت پـر وخـت واکمنودبیرون څخه داسې غیرضروري بوجونه اچول چې هغـه زیاتره غیرعایداتي ... وو، مثلاً: هر واکمن پخپل وخت کوښښ کړی چې خپل ملاتړکوونکي خوشـل وساتي، په یاد شرکت کې یې هغوی ته وظیفې ورکولې، همدا رازداکـثرو سندرغاړو او طوایفودپالنې بوج هم دیاد شرکت په ذمـه اچـول شـوی ، پـردې عـلاوه شـومره خلـک چـې پـه یـاد شرکـت کـې دنـدې اجـراء کوي،هغوی اودهغـوی دکورنیوفامیلوبـه کـولی شي چـې تـول عمر تړی کې پـه وړیـا توګـه دسفرونوڅخه خوندونـه اخلي؛ ددغسې غیرعیداتي اودبې ګټې بوجونـود دیرولـو نتیجـه داده چې لګښتونه یې زیات اوعواید یې کم شول. داروانښـاد غـازي صیب په وینـا دا هغـه حالـت دی دکـوم دمخنیـوي تلقـین چـې سلامي مفکرینو خصوصاً حضرت شاه ولي الله محدث دهلوي رحمه الله پخوا کړی دی، چې دولتي وسائل په محدوده اندازه مصرفول پکـاردي، هرچیـرې دولتـي وسـائل لګـول او پکـې دغیراعتدال نه کار اخیستل بدې پایلې لري

داځو د کُلي اقتصاد په اړه لنډ بحث و، چـې پـه اړه یـې دحکومت مسؤلیتونوته اشاره وشوه هرچې دجزئي اقتصاد برخه کې دحکومت دمسؤلیتونو بحث دی،هلته هـم پـه بالکلیـه دول دحکومت مسؤلیت تام ندی، هلته دحکومـت کـردارد اسـاس لـه مخـې یـواځي دنګـران اولاربـود بڼـه لـري، دثالـث بالخیر،سرپرست،ترغیب ورکونکی،اوداسانتیاوو برابرونکی به وي ، په جزئي معشیتوکې څیني معملات داسې راځـي چـې هغه په حکومتي اداري په مؤثره طریقـه بانـدې سرتـه رسـوي مثلاً؛ دصارف او صنعت کر ترمنځ،ماهرانه تجزیه؛ چې صارف څه غواړي؟ او صنعت کارڅه غـواړي؟د دواړوارخونوغوښـتنې ومصلحتونه سره هم آهنګ ګرځول دوخت دحکومـت مسـؤلیت دی، او کله چې یا په هر هیوادکې چې کله حکومت ددې دواړو طرفینو دمصلحتونو په هم اهنګ ګرځولوکې داسې بری ومومي چې تـرمنځ یـې پـه قـدرتي او فطـري اعتبـارسره هـم آهنګـې رامنځته شي، نودابه د هغه هیواد اوټولنې لپاره دخیـر اوفـلاح زیري پـه معنـی وي، اوکـه دیـادو طرفینـو تـرمنځ دفطـري هـم آهنګی پخلاف حکومت دمصنوعي هم آهنګـی راوسـتلو هڅـه وکړه او دغیرضروري لګښتونومخنیوي ته یې پکـې پـام ونکـړ او په غیر ضروري توګه یې دصـارف پـه مقابـل کـې دصـنعت کارګټوته ترجیح ورکړه هلته به ډیرژر اقتصادي نظام مختـل او خملي.

نور بیا...

دشام نه د امریکا وتل

او په کردانو د ترکې حمله

شهیدروی

دروانې اکتوبر میاشت په ۹مې نېټې ترکې دشام په کرد مېشتې سیمې حمله وکړه .

ترکې ځکه دشام په ترکانو حمله وکړه چې دشام کردان دترکې P.K.K په نوم دکردانو وسوال تنظیم سره جوړې اړیکې لري او همدا د شام او عراق کردان دامریکا او اسرائیلو نظامي او مادي مرستې دترکې هغه کردانو ته رسوي په مختلفو وختونو کې یې ددولت په نظامي اوملکي تاسیساتو ستر بریدونه کړیدي ؛ دوئ او دترکې دولت ته په جنګونو کې ستر ځاني تلفات هم رسېدلي دي

داحمله په داسې وخت کې ده چې امریکا ددې سیمو نه خپل فوځونه وویستل او د کردانو سره له نظامي مرستې یې هم انکار وکړ حال داچې په ۲۰۰۳م کال کې پر عراق دامریکا دیرغل نه پس تر ۲۰۱۳م کال پورې چې پکې داعش ظهور وکړ کردانو په هر قدم او هره لمحه کې دامریکا سخت حمایت کړی ؛ دشمالي عراق کردانو دامریکا پر ضد د عراق دمسلمانانو جهادي مقاومت دکمزورې کولولپاره په میدان کې ودرېدل او دکردانو عسکري تنظیم بیشمرګه په ګڼو سیموکې دعربو سني مسلمانانو عامه وژنه وکړه .

او چې کله په ۲۰۱۳م کال کې په عراق او سوریې کې داعش رامنځته شو نوهمدا کردان وو چې د داعش پرضد یې دامریکا ځمکنۍ مرسته وکړه نو ځکه اوس پر کردانو دترکې دحملې پر مهال دکردانو دسیمې نه دامریکایې فوځیانو وتل او دکردانو دمرستې نه دامریکا انکار کولو نړۍ حیرانه کړیده .

دامریک ولسمشر ترمپ دکردانو سره دمرستې نه د نکار لپاره ډېر په زړه پورې دلیل وړاندې کړیدی: ویلي یې دي چې کردان دخپلې خاورې نه ددفاع په جنګ کې لګیا دي ؛ کردان اوترکان دتېرو ۲سوه کلونو راهیسې دیو بل پر ضد حملې کوي او کردانو په دوهم نړیوال جنګ کې د مریکا مرسته نه وه کړې .

امریکا چې خپل غلامان اولاسپوڅي په میدان کې یواځې پرېږدي نو بیا ورته داسې په زړه پورې دلایل وړاندي کوي ؟!

هغه ورځ به ان شاءالله تعالی ډېر ژر راشي چې له افغانستان نه به تېښتي ؛خپل غلامان به په خالي ډګر کې پرېږدي ؛ له مرستې به یې انکار کوي او همداسې دلایل به ورته وړاندې کوي .

سره له دې چې دعربانو او کردانو تر منځ له ډېرې مودې راهیسې لساني اوقومي نفرتونه شتون لري اوعرب هېوادونه په کردانو کې هیڅ ځپله لېوالتیا نه ښکاره کوي

خو بیا چې سعودي عربستان ،مصر ،دعربو دمتحده اماراتو اوبحرین دترکې سره پر یوشمېرمسایلو اختلافات لري اوترکې سره یادو هېوادونو دیپلوماتیکې اړیکې چندانې ښې نه دي نوځکه یې دترکې ددې حملو سره خپل مخالفت ښکاره کړیدی او مصر خولا پدې اړه دعرب لیګ دغونډې غوښتنه هم کړیده.

کردان ۲ زره کلن تاریخ لري؛ جرأت او زوورتوب یې په نړۍ کې ډېر شهرت لري ؛ داسلام ډېر لوی فاتحین او اتلان ددې قوم سره تړاولري ؛ دوئ دمنځنې ختیځ دشمالي برخې اصل اوسېدونکي دي ؛ترکیه،شام ، عراق او ایران دکردانو اصلي وطنونه دي ؛ دکردانو خپله سیمه

دترکې په جنوب کې دعرنيو سيمو نه پيل کېږي دشام ؛ عراق او ارمنستان نه تر ايران پورې رسيږي.

دېريوالو ادارو له لورې دخپرو شويو رقامو له مخې دې سيمې کې نږدې ۵۰ ميلونه کردان اوسيږي کردان داسيمه کردستان بولي چې پکې دخاد لپاره يوخپلواک دولت جوړول غواړي . دشمېر په لحاظ کردان دټول منځنې ختيځ په اقواموکې څلورم لوی قوم دی خو دوئ يوالځې په عراق کې دکردستان په نوم يوايالت اوپه ايران کې هم دکردستان په نوم يو ولايت لري نوکردان دنړی ترټولوستر هغه قوم دی چې دخپل قام په نوم هيواد اوخپل مستقل دولت نه لري

بلکې په همدې يادوڅلورو هېوادونوکې ويشل شويدي : په ترکې کې يې شمېر د ۱۵ نه تر ۲۰ مليونو پورې دی ؛ په ايران کې يې شمېر نږدې ۱۳ مليونو ته رسيږي ؛ په عراق کې ۸ مليونه دي اوپه شام کې يې شمېر ۳مليونو ته رسيږي.

ددې ترڅنګ په لبنان،ارمنستان ،کويت فلسطين (قبضه شوې او ازادې برخې) کې هم کردان ميشت دي ؛ لويديځو هيوادونو ته هم ګڼ شمېر کردان کډه شويدي چې دېريوالو ادارو له لورې دخپرو شويو ارقامو او اعدادو له مخې ددوئ ټولو شمېر کابو ۱۰ مليونونو ته رسيږي.

يوالځې په المان کې دترکې نه دکډه شويوکردانوشمېر کابو يوملیون دی چې په جرمني کې دهمدې کردانو شتون دترکې اوالمان ترمنځ دتاوتريخوالي لامل دی ؛ المان دوئ کردان بولي اوترکيه ترې غوښتنه لري چې دوئ دې کردان نه بلکې ترکان بولي .

په کردانو کې کم شمېر يهودان، مسيحيان او زرتشت ،ويه عراق کې محدودشمېرشيعه ګان شته خو دکردانو قاطع اکثريت سني مسلمانان دي خو متأسفانه چې اوس پکې بې لاريتوب ،وعقيدوي انحراف ډېر زيات شويدی .

دعثماني خلافت پرمهال دکردانو داوسيدوهمدا سيمه دکردستان ولايت په نوم يادېدله او دا ددې خلافت په ولايتونو کې يو ستر ولايت و.

په ۱۹۱۵ م او ۱۹۱۸ م کې دترکې کردانو دعثماني خلافت نه دازادۍ اخستلو او دآزاد کردستان درامنځته کولو لپاره هڅې کړې وې خو عثماني خلافت دوئ بريالیتوب ته نه وو پرېښې؛په ۱۹۲۰ م کې دسيور په بدنام تړون کې داراد کردستان خبره هم رامنځې ته شوې وه خو دترکې ترڅنګ ورسره فرانسې او برتانې هم خپل مخالفت ښکاره کړی و

دعثماني خلافت سقوط دکردانو لپاره دډېرې لويې خوشۍ خبر و؛دوئ پوره هيله مند وو چې ددې خلافت دسقوط په نتيجه کې به ازاد کردستان رامنځته شي؛خو دکردانو هيله پوره نه شوه ؛منځنی ختيځ دترکانو له لاسه ووت ؛ ټوټه ټوټه او کوچني ګڼ هيوادونه پکې رامنځته شول خو دکردستان په نوم ازاد هيواد پکې رامنځته نه شو دکردانو دا سيمه اوپخپله کردان دترکې،عراق،شام او ايران ترمنځ وويشل شول.

دا چې کردان سنيان دي نو په ايران کې يې پر وړاندې دنورو سنيانو په څېر ستونزې شته خو په عراق،ترکې او شام کې يې ژوند ډېر ښه و؛دمدني ټولو حقوقو نه برخمن وو او په عمومي ډول ورسره دیادو دولتونو له لورې داسې ناوړه سلوک نه کېدلو او نه ورسره اوس کېږي چې په خپلو هيوادونو کې دخپلو دولتونو پرضد دبغاوت لپاره دمعقول سبب په توګه وړاندې کړای شي.

معقول هيڅ سبب نه و، بس دازاد کردستان د رامنځته کېدو اصل لامل دېريوالو استعمار ګرانو اوپه ځانګړې ډول داسرائيلواو امريکا ډېر لوی لمسون دی:په ۱۹۲۳ م کال کې دلويديځ له لورې د kingdom of Kurdistan په نوم دترکې،عراق، ايران او شام په سخ کې داراد کردستان درامنځته کولو په موخه يوه نقشه وړاندې کړای شوې وه ځکه چې په فلسطين کې د داسرائيلي دولت درامنځته کولو نه وړاندې دازاد کردستان رامنځته کول لويديځ او امريکا اړين بلل خو يوبل پسې دوه نړيوالو جنګونو کې دنړۍ دبشکېدتيا له امله دا پلان عملي نه شو او په ورروسته وختونو کې چې لويديځ هڅې کړيدي نو ترکې ، عراق ، ايران اوشام ۴ واړو هيوادونو يې په مقابل کې سخت غبرګون ښکاره کړی او دا پروسه يې برياليتوب ته

ـده پريښـي خـو نړيوالـو اسـتعمارګرو Greeter Kurdistan (لوی کردستان)اصطلاح ژوندی ساتلي ده چې دهمدې اصطلاح ژوندي ساتل او بيا بيا يې يادول په يادو ۴ وارو هېوادونو کې دکردانو دبغاوتونو يو ستر لامل دی:ددې بغاوتونو په لړ کې اوږده جنګونه رامنځته شوي چې پکې دجنګ دواړو اړخونو او خصوصاً کردانو ته درېره مرګ ژوبله هم اوښتې ده خو ديادولو وړ نتيجه ترې کردانو ندده ترلاسه کړې.

دکردانو ۴۶ سلنه خلک دترکې سره تړاو لري چې داد ترکې دټولو نفوس ۲۰ سلنه جوړوي ؛ ۳۱ سلنه دايران ،وسېدونکي دي چې دا دايران دټولو نفوسو ۱۵ سلنه کيږي ؛ دکردانو ۱۸ سلنه په عراق کې دي چې داد عراق دټول نفوس ۲۰ سلنه تشکيلوي او ۵سلنه يې په شام کې دي چې دا ددې هېواد دټول نفوس ۸ سلنه جوړيږي .

دترکې په ۹۰ ولسواليو کې ۲۱ ولسوالۍ دکردانو دي او پدې هېواد کې د P.K.K په نوم دکردانو وسلوال تنظيم هم شتون لري چې په مختلفو وختونو کې يې ددولت په نظامي ،وملکي تاسيساتو ستر بريدونه هم کړيدي ؛ دوئ او دترکې دولت ته په جنګونو کې ستر ځاني تلفات هم رسېدلي دي خو چې دترکې دولت اوفوځ منظم او قوي دی نو تر اوسه يې دترکې نه دځپلواکۍ اخستلو توليې هيلې دخاورو سره خاورې شويدي .

دقوي دولتونو په شتون کې دشام او ايران کردانو هم دازادۍ اخستلو تمه نه لرلـه خو دعـراق کـردان بيـا ددوئ برعکس دعراق نه دآزادۍ اخستلو په هڅوکې تر يو حده کامياب دي .

په شمالي عراق کې دمسعود بارزانی پلار مصطفی بارزاني په مشرۍ کې په ۱۹۲۰م کې دکردانو دځپلواکۍ او دعراق نه دبېلېدو لپاره تحريک پيل شو چې تر۱۹۷۰م يې دوام وکړ،ددې اوږدې مبارزې په نتيجه کې په ۱۹۷۰ کال دمـارچ پـه ۱۱ نېټې دعـراق د شـمال پـه کردمېشـتو ۳ ولايتونواربيـل ، سـليمانيه او دهـوک کـې د کردانو نيمه خپلواکي ومنل شوه ؛ دا درې واړه کـرد مېشـتې ولايتونـه کردستان ولايت بلل کيږي چې پکې کردانو ايالتي نيم ازاد دولت جوړ کړ خو دعراق دمرکزي دولـت اودکردانـو ددې

نيم خپلواک دولت ترمنځ حالات ترينګلي و ؛ د۱۹۷۰ نه تر ۱۹۷۴م پورې دمرکزي دولت اوکردانو ترمنځ ځوځلي جنګونه رامنځته شول چې امريکا اواسرائيلودايران له لارې چې رضاشاه پهلوي پرې واکمن و کردانوته ډېرې وسلې اوجنګي وسايل ورکړي وو؛ بياد ۸۰يمې لسيزې په سرکې دصـدام حسـين دولـت دکردانـو دمرکـزي دولـت دتـابع ګرځولواودوئ دنيمه خپلواکۍ دله منځه وړلو په موخه کردستان تـه فوځونـه واسـتول جنګونـه پيل شـول چې تر ۱۹۸۸م پـورې يـې دوام وکـړ او دادعـاوو لـه مخـې پـه ۱۹۸۸م کې صدام پر دوئ عامه وژونکې ګاز وکارولو چې له امله يې په زرونو کردانوخپل ژوند له لاسه ورکړ

ويل کيږي چې ددولت پرضد دکردانو دې بغاوت او بيا ددولت له لورې پردوئ دحملو په نتيجه کې دواړو لوړو نه ۲ سوه زره تنانو خپل ژوند له لاسه ورکړی و.

په ۱۹۹۱م کې چې پر عراق دامريکا ديرغل پر مهال صدام حسين خپـل فوځونـه دکردستان لـه سرحدونو راوروسته کړل او نه يوازې داچې دمرکزي اداري له لورې دکردسـتان آزادۍ تـه متوجې خطـر لـه منځـه ولاړ بلکې مرکزي دولت دمنګرو متونو دادارې په شتون کې دا هـم ومنـه چې دکردسـتان ادارې تـه بـه دتېلـو لـه لارې لاسـته راغلو پيسو کې ۱۷ سلنه ورکوي .

کـردان پـه همدې نظـام کـې خـوښ وو اود۲۰۰۳م پـورې خبـره همداسـې روانـه وه ؛ پـه ۲۰۰۳ م کـال کـې پرعراق دامريکا ديرغل او قبضې په نتيجه کې چې دصدام حسـين دولـت ړنـګ او اداره لـه منځـه ولاړه ،و پرعـراق دشيعه ګـانو لاسـپوځې کمـزورې اداره مسـلطه شـوه نـو دکردستان ولايت په موقت ډول پدې شرط دعراق سره يوځـای شـوچې دتېلونـه لاسـته راغلوپيسـو کـې بـه ورتـه معلومه سلنه ورکول کيږي ترڅنګ يـې دمرکـزي اداري نـه دقانوني نيمه خپلواکۍ اودسرحداتو دتعين لپاره مذاکرات هم روان وسائل چې په پايله کې يې دعراق لاسپوځې اداري دامريکا په حکم غوښتنه ومنله؛په ۲۰۰۵ م کـال کـې دعـراق پـه اساسـي قـانون کـې بـدلون رامنځتـه شـو او دکردستان ولايت ته دخپلواکې اداري جوړولو او په دولت کې ددولت رامنځته کولو اجازه ورکړل شوه.

کردانو په تېروو ۱۴ کلونوکې خپلوپولوته ډېر وسعت ورکړ اودکرکوک ولایت دتېلو دزېرمونه غني هغه سیمې یې قبضه کړې چې اصلاًدکردستان برخه نه وه او زیاتره اوسېدونکي یې عربان اونور قومونه دي .

دکردستان اداري دکردستان اوکرکوک دتېلو تولید لوړ کړ اودترکې له لارې یې دروم بحیرې ته هره ورځ ۶ سوه زره ببره تېل ورسول چې ځانته داقتصادي منابعو دزیاتولو ترڅنګ یې پدې دنړۍ ډېره توجو هم ځانته راواړوله اوپه غربي نړۍ کې یې مقبولیت نور هم زیات شو .

دکردانو دا دولت په نړۍ کې پهK.R.G یاکردستان ریجنل ګورنمنټ یادیږي چې مشري یې مسعود بارزاني کوي .

ددنګــو غرونو،ځنګلونو،جهیلونــو، رو نــو اونــواو دځمکې لاندې دډېرو خوړو اوبو ترڅنګ دا سیمه دغازو او تېلو ډېرې زیاتې زېرمې هم لري؛دنړیوالو ادارو لـه لورې دخپرو شویو راپوروتو لـه مخې دلته د۴۵ بلیونـو بیلرو نـه دریتو تېلو زېرمې شتون لري؛یانې د دنړۍ شپږمه هغه سیمه ده چې دتېلو سترې زېرمې لري؛دکردستان دولت وایي چې دلته په ګڼو ځیونو کې دغازو سترې زېرمې هم شتون لري

سره لـه دې چې دلته دغازو او تېلو سترې زېرمې شتون لري خو چې په سیمې کې امنیت نـدی تـامین نـو داسیمه دنړیوالو سمه دتوجو وړنده ګرځېدلې او هغسې پانګونه یې پکې نده کړې څرنګه چې پکار وه

دعراق نه په کلي ډول دتېلو،غازو او نورو زېرمـو نـه دکې دې سیمې دجدا کولو په هدف تېر کـال دستمبر په ۲۵ مـې نېټې دمسعود بـارزاني دولـت پـه کردستـان او کرکوک کې تول پوښتنه رامنځته کړه.

دټـول پوښتنې لپـاره ۵ ملیونه او ۳ سوه زره تنـان راجستر شـوي وو؛ دراېو ورکولو لپاره ۱۲۰۷۲ مرکزونه پرانستل شوي وو چې پکې ددولت په وینا قـاطع اکثریت یانې ۷۶ سلني وګړو دخپلواکۍ په حق کې رای ورکړې.

دټــول پوښــتنې نــه وړانــدې اروپــایي اتحــاد مسعودبارزاني ته دټول پوښتې دوروسته کولو حکم کړی و او اخطار یې ورکړی و چې که ټول پوښتنه یې وروسته نکړه نو دا اتحاد به پرې اقتصادي بندیزونه ولګوي امریکا هم په ښکاره ددې ټول پوښتنې سره مخالفت ښکاره کړی و او ویلي یې و چې داعش ته دماتې ورکولو او په عراق کې دجهادي ډلو دځپلو لپاره امریکا دعراق وحدت اړین بولي؛ موږ هیله لرو چې دعراق نه دځان جدا کولو په ځای به کردي مشران خپل پام دجهادیانو پرضد جنګ او دایران دنفوذ راکمولو ته راواړوي

دملګرو ملتونو اداري هم پدې اړه خپله اندېښنه ښکاره کړې وه او ددې اداري سرمنشي انتونیوګوتیریس ویلي و چې هغه دکردستان داوسنۍ ټول پوښتنې په اړه سخت اندېښمن دی ځکه چې پدې سره په سیمه کې د سختې بدامنۍ دراپیداکېدلو لوی خطر رامنځته شویدی .

بل لـور تـه دکردستان ګاونډیانو ترکې،ایران،شام او پخپله عراق هم ددې ټول پوښتنې سره خپل سخت مخالفت ښکاره کړی و ؛او ترڅنګ یې خطرناک عملي ګامونه هم پورته کړي وو ؛ ترکې او دعراق مرکزي دولت دکردستان سره احتمالي جګ ته دتیارې په موخه خپل فوځونه دکردستان سرحدونو ته ررسولي او دواړو فوځي تمرینات هم کړي وو

ترکیه پدې پوه ده چې په عراق کې دکردانودخپلواک دولت درامنځته کېدوپه صورت کې دترکې دکردانو دازادۍ داعیه قوي کېدلی شي نوځکه دترکې ولسمشر طیب اردګان ددې تول پوښتنې د مخنیوي ډېرې هڅې وکړې اوترڅنګ یې دترسره کولوپه صورت کې دکردستان اداري ته ګواښونه هم وکړل .

دټول پوښتنې نه دتېرېدو په موخه دکردستان سره دشورو مذاکراتو دناکامۍ نه پس ایران هم دکردستان سره هوائي او ځمکنۍ رابطې پرې کړې وې او دایران پاسداران انقلاب دکردستان سرحدونو تـه ډېره وسـه رسولې وه او همدلته یې فوځي تمرینات هم ترسره کړل.

شام کوم عملي اقدام نه وکړی خو په ډېرو سختو الفطو یې ددې ټول پوښتنې سره خپل مخالفت ښکاره کړی او ویلي یې و چې پدې سره دشام پولې دسخت

خطر سره محامخ کېږي نو ځکه دا ټول پوښتنه شام ته دمنلو وړ نده

خو لنډه دا چې په نړۍ کې هیڅاهم په کردستان کې دترسره شوي ټول پوښتني حمایت ونکړ؛دګاونډیانو په شمول ورسره ګڼو هېوادونو خپل مخالفت ښکاره کړ؛آن تردې چې هغې امریکې هم په ښکاره دا ټول پوښتنه ردکړه چې په پټه یې حامي ده اولا له وړاندې یې په کرد ، شیعه ،وسني مېشتوسیمودعراق دویش پلان جوړ کړی دی .

سره ددې دومره محالفتونو دکردستان مشرمسعود بارزاني دټول پوښتني نه لاس په سر نه شو بس ایله یې همدومره ویلې و چې دټول پوښتني مقصد هیڅکله هم دا ندی چې ګیني سمدستي به دعراق نه دازادۍ اخستلو او ځان جداکولو اعلان کېږي بلکې ددې نه پس به دبغداد سره دمذاکراتو لړۍ روانېږي چې شاید دیوتیم نه تر دوه کلونو پورې وخت واخلي

مسعود بارزاني دچا دمخالفت پروا ځکه ونه ساتله چې

عاصب اسرائیلي دولت ددې ټول پوښتني کلک حمایت کړی و؛دکردستان دولت ته یې دهر ډول مرستې داډ ورکړی و او دستمبر په ۲۵ مې نېټې کردستان ته اسرائیلي جورنالستان ورغلي وو ترڅو لمحه په لمحه دټول پوښتني خبرونه نړۍ ته نشر کړي نو ځکه خو دټول پوښتني په ورځ کردانو دخپلو بیرغونو سره یوځای داسرائیلو بیرغونه هم پورته کړي وو.

په ناروې کې دکردانو له لورې ددې ټول پوښتني په حمایت کې په ویستل شوي لاریون کې هم کرد لاریون کونکودخپلو بیرغونو سره یوځای داسرائیلو بیرغونه هم پورته کړي وو.

،وس پوښتنه دا ده چې اسرائیل ولې ازاد کردستان غواړي؟

داسرائیلو دحمایت مختلف لاملونه دي؛ ترټولو رومبی لامل خو یې دادی چې داسرائیلو دوجود سره سم استعمارګرو په منځني ختیځ کې داسرئیلو دحامي هېواد شتون اړین بللو چې هغه ورته دکردستان پرته بل هېواد نه ښکارېدلو نو ځکه خو په ۱۹۵۰ م کال کې اسرائیلو دمسعودبارزاني دپلار مصطفی بارزاني حمایت کړی و کله چې هغه د کردستان دازادۍ غوښتنه کړی وه.

بل دا چې اسرائیل او امریکا پدې پوه دي چې کردستان به یو کمزوری هېواد وي دتېلو،غازو او نورو شیانو په ټولو زېرمو به یې په ډېرې اسانۍ سره ددوی همېشنۍ قبضه راشي.

بل دا چې له دې لارې دمسلمانانو ډېر مهم هېوادعراق تجزیه کېدلو ،و دترکې،شام،ایران په څېر مهم اسلامي هېوادونه هم دتجزیې دګواښ سره مخامخ کېدل؛ په عراق کې دخپلواک کردستان درامنځته کېدو نه پس په یادو هېوادونو کې هم دازاد کردستان غوښتنه زور اخلي چې همدا داسرائیلو لوی ارمان دی .

دچارو شونکي وایې چې دترکې دحملې پرمهال دسیمې نه دامریکا وتل دخاص تکتیک له مخې دي ؛ امریکا غواړي چې ترکیه په یو نه ختمېدونکي جنګ کې راښکېل کړي چې پرعراق دحملې نه سمدستي وروسته یې پدې پلان کار پیل کړی اوله هماغه وخت راهیسې یې دکردانو سیاسي ، مالي اوعسکري مرستې پیل کړی ؛ په ۲۰۱۴م کال کې پدې مرستو کې ډېروالی راغلو او په ۲۰۱۷م کال کې کردي عسکري ډلوته دوسلو ورکولو اعلان وکړ .

په عراق اوشام کې دکردانو ګټې وسلوالې ډلې دي چې ټولوته وسلې امریکا او روزنه اسرائیل ورکوي ؛ ،وس چې امریک دشمالي شام نه دوتلو اعلان وکړ نوسمدستي اسرائیلو دکردانو حمایت اعلان کړ

نو دامریکا شاته کېدل اوترکې ته میدان خالي کول اصلاً ترکې ته

یو دام دی او هدف دسعودي په څېر په یو نه ختمېدونکي جنګ کې دترکې راښکېلول و ي خو ترکیه چې دامریکا او اسرائیلو په ارادو ښه پوهېږي نو امېد دی چې ددې جنګ نه دځان ژر خلاصولو لپاره به یې لا له وړاندې فکر کړی وي .

د کردانو تیر سل کلونه

قاري سعيد خوستی

د کردانو ۳۵ مليوني نفوس د ايران، ترکيې، عراق او سوريې په هيوادونو کې اباد دی چې په خپل ټول تاريخ کې يې د خپل ځان لپاره ځانګړی دولت نه دی جوړ کړی چې دا هغه ارمان دی چې د دې قوم د تيرو شويو ټولو مشرانو په زړونو کې پاتې دی دوی يواځې واړه واړه امارتونه جوړ کړي دی لکه مرواني امارت او بدرخاني امارت.

کردانو د اسلام د دويم خليفه حضرت عمر رضی الله د خلافت په دوره کې اسلام ومانه او دا سيمه د مسلمانانو له لوري فتحه شوه چې له هغې موديې راهيسې دوی د نورو عربو قبيلو په څير ژوند کوي.

کردان په خپل تاريخ کې ډيرې وياړمنې څيرې هم لري لکه صلاح الدين ايوبي او شيخ الاسلام ابن تيميه چې تاريخ پوهان دواړه کردان بولي

عثماني خلافت د شپاړسمې ميلادي پيړۍ په لومړيو کې کردانو ته له دې امله ډير امتيازات ورکړي وو چې دوی د شيعه صفويانو په وړاندې جنګيدل خو د ۱۹۱۴م او ۱۹۱۸م کلونو ترمنځ د عثماني خلافت د کمزوريو ستونزو پرمهال کردانو هم د نورو عربانو په څير د عثماني خلافت پر ضد په توطيو او دسيسو جوړولو پيل وکړو.

تير ۱۰۰ کلونه کردان د امپراطوريو په خدمت کې

په ۱۹۱۸ م کال د محمود حفيد برزنجي په مشرۍ د عثماني خلافت پرضد کردانو، د برطانويانو سره د مرسته وکړه او د عثماني خلافت په ضد يې د لواء السليمانيه په نوم مليشې جوړې کړې چې دې لواء ډير دوام ونکړو او په ۱۹۲۲م کال کې دا مليشې له منځه لاړې

کردان د عثماني خلافت پرضد د بريتانويانو په خدمت کې

د برزنجي په مشرۍ کردانو د بريتانويانو سره مرسته وکړه چې بريتانويانو له کردانو سره د يوه ځانګړي دولت د جوړولو وعده کړې وه خو په د ۱۹۲۳م کال د جولاي په ۲۴مه کردان هغه مهال بريتانويانو په سپين ميدان پريښودل چې کله د سويټزرليند په لوزان ښار کې د لوزان تړون لاسليک شو.

لوزان تړون د لوزان په ښار کې د لومړي نړيوال جنګ د متحدينو او د ترکيې ترمنځ لاسليک شو چې له مخې يې د يونان او بلغاريې سره د ترکيې پولې معلومې شوې او هم د قبرص، عرق، شم په سيمو د ترکيې دعوه لغوه شوه، د لوزان په تړون سره د سيفر تړون لغوه شو هغه تړون چې کردانو ته پکې د ځانګړي دولت وعده ورکړل شوې وه.

د لوزان تړون وروسته کردانو د برزنجي په مشرۍ بيا وسله وال مقاومت پيل کړو چې تر ۱۹۳۱م کال پورې يې دوام وکړو.

کردان د بريتانويانو له لوري پنځه ځله د جګړې په ميدان کې خوشې تشې پريښودل شول.

کردان د ايران په ضد د روسانو په خدمت کې

د ۱۹۳۲م کال څخه د کردانو د وسله وال مقاومت مشري احمد او مصطفی برزنجي په غاړه واخيسته چې له اوردو جګړو وروسته يې په عراق کې د اربيل او بادينان

سیمو واک ترلاسه کړو. دا ځل روسانو د کردانو سره ژمنه وکړه چې دوی ته به خپلواکه دولت جوړوي. کردانو د ایران په خوا کې هم ګڼې سیمې لاسته کړې. روسانو د محمد رضا پهلوي سره ستونزې درلودې او کردان یې هڅول چې خپلواکه دولت اعلان کړي دوی به یې مرسته وکړي هماغه و چې په ۱۹۴۶م کال د جنوري په ۲۲مه قاضي محمد د روسانو په مرسته د ټولو کردانو لپاره د جمهوري مهاباد په نوم خپلواکه دولت اعلان کړ.

د ایران شاهي دولت د روسانو سره د تیلو یو تړون لاسلیک کړو چې په بدل کې به یې روسان د کردانو له ملاتړه لاس اخلي چې همداسې وشول روسانو کردان په سپین میدان کې پرېښودل او د ایران شاهي دولت د کردانو په وړاندې جګړه پیل کړه او مهاباد جمهوریت ۱۱ میاشتې وروسته ونړېدو، قاضي محمد د ایران د مهاباد په سیمه کې په عام محضر کې اعدام کړل شو

کردان د عراق پرضد د اسرائیلو په خدمت کې

بارزانیانو په ۱۹۴۸م کال کې د اسرائیلو د لومړي لومړي وزیر ډیویډ بن ګوریون سره اړیکې جوړې کړې، اسرائیلو غوښتل چې خپله ختیځه پوله په کردانو وساتي چې اسرائیلو د کردانو د جنګیالیو روزنه پیل کړه او د اسرائیلو موساد به کردي جنګیالي په ځرګند ډول روزل او بیا به یې کردي سیمو ته لیږل.

د ۱۹۵۸م کال د کردي انقلاب وروسته د عراق حکومت د کردانو سره په یوه تړون کې د کردانو حقوق ومنل او په ۱۹۷۰م کال یو بل تړون چې د صدام حسین او کردانو ترمنځ لاسلیک شو، کردان په عراق کې په رسمي ترګه ومنل شول خو کردانو بیا هم د اسرائیلو له ملګرتیا لاس وانخیست او د صدام د نظام په وړاندې یې د اسرائیلو سره لاس یو کړی وو.

د اسرائیلو او کردانو ترمنځ اوسنۍ اړیکې هم له هماغه وخته پیل شوې دي. د اسرائیلو ۷۵ سلنه تیل د کردستان څخه دي او اسرائیل په کردستان کې لوی لوی شرکتونه لري.

وروسته د کردانو د دوو مشرانو جلال طالباني او مسعود بارزاني ترمنځ د واک پر سر جنګ راپیل ته شو چې ترمنځ یې د دواړو لوړو څخه زرګونه کردان ووژل شول.

کردان د عراق پرضد د خمیني په خدمت کې

په ۱۹۸۰م کال د صدام حسین او ایران ترمنځ جګړه رامنځ ته شوه چې خمیني د جلال طالباني او مسعود بارزاني ترمنځ جوړه وکړه او دواړه یې وهڅول چې د عراق په خلاف د دوی ملګرتیا وکړي. کردانو د ایران په ملګرتیا د عراق په وړاندې جګړه پیل کړه چې په ۱۹۸۸م کال کې صدام حسین د کردانو د حلبچه په ښار د کیمیاوي وسلو برید وکړو او زرګونه کردان یې ووژل.

د ایران او عراق په جګړه کې کردانو یوازې له ایران څخه مرسته نه ترلاسه کوله بلکې له اسرائیلي دولت څخه یې هم مالي او تسلیحاتي او د روزنې مرسته ترلاسه کوله ځکه اسرائیل له صدام حسین څخه ډیر په ویره کې وو.

کردان د عراق پر ضد امریکایي ائتلاف په خدمت کې

په ۱۹۹۱م کال امریکایي ائتلاف د کویت د آزادولو لپاره په عراق برید وکړو او عراقي ځواکونه مجبور شول چې کویت پرېږدي هغه مهال بیا هم د کردانو مشر مسعود بارزاني د امریکایي ائتلاف مرسته وکړه او کردان یې د امریکایانو په څنګ کې د عراق په ضد وجنګول هغه مهال په ځمکنۍ جګړه کې د عراقي ځواکونو د ماتې لوی لامل د کردانو مقاومت و.

امریکایانو کردانو ته وعده ورکړې وه چې د کویت له ازادۍ وروسته به د عراق، ترکیې او ایران په منځ کې دوی ته خپلواکه دولت جوړوي خو د صحراء له معرکې

وروسته بیا هم کردان د ائتلافیانو له لورې صدام حسین ته په سپین میدان پریښودل شول چې د عراق د نظام له لوري یې په زرګونه کسان ووژل شول او میلیونونه له خپلو سیمو وشړل شول او ټرکیې ته وتښتېدل.

صدام حسین عوښتل چې د طالباني او بارزاني ډلې په بشپړ ډول له منځه یوسي او ټول جنګیالي یې له یوې مخې ووژني خو فرانسې مداخله وکړه او د عراق په شمال کې یې د عراقي ځواکونه هوایي پروازونه بند کړل چې ورسره کردي جنګیالیو د ارام ساه واخیسته.

په ۱۹۹۴م کال د طالباني او بارزاني ډلو ترمنځ بیا جګړه پیل شوه چې تر ۲۰۰۳م کال پورې یې دوام وکړو او پکې زرګونه کردان ووژل شول.

کردان دویم ځلي د امریکایانو په خدمت کې

په ۲۰۰۳م کال بش په عراق بریدونه پیل کړل او د کردانو دواړې ډلې د امریکایانو له لورې منظمې کړل شوې د صدام حسین په خلاف یې ځمکني جګړه پیل کړه په افغانستان کې د نظار شورا د جګړه مارانو په څېر کردان هم د صدام په وړاندې په جګړه کې د امریکایانو لپاره ډیر مؤثر تمام شول او د شمال له لورې ټوله ځمکنۍ جګړه کردانو په مخ بوړه.

په ۲۰۰۵م کال امریکایانو اراده وکړه چې د عراق د سمبالچار پاؤل بریمیر څخه واک عراقیانو ته ولیږدوي، په عراق کې پارلماني ټاکنې اعلان شوې د عراق په پارلماني ټاکنو کې د کردانو د طالباني ډلې ۷۷ څوکۍ وګټلې چې طالباني د عراق لپاره مؤقت دولت تشکیل کړو او نوموړی د همدې دولت مشر شو او مسعود بارزاني بیا د کردستان د اقلیم مشر وټاکل شو چې بارزاني به د کردستان ټولې چارې د مرکزي حکومت څخه په جلا ډول پرمخ وړې.

له عراق څخه د امریکایي ځواکونو د وتلو وروسته کردان بیا په سپین میدان پرېښودل شول تر هغې چې په عراق کې داعش راڅرګند شو او خپلې ریښې یې سوریې ته هم وغځولې

کردان د داعش په وړاندې دریم ځلي د امریکایانو په خدمت کې

په ۲۰۱۴م کال چې کله داعش د خلافت اعلان وکړو، امریکایي ځواکونه سوریې ته راننوتل او د کردانو په سیمو کې یې لویې لویې نظامي اډې جوړې کړې

کردان دا ځل په سوریه کې یواځې د داعش په وړاندې نه بلکې د ټولو بنې اړخو ډلو په وړاندې جګړې ته رامخکې شول

ترکیه چې د ناټو غړی هیواد دی او د امریکایانو متحد دی، څو ځله یې ناټو او امریکا ته د کردانو له خوځښتونو شکایت وکړو خو امریکایانو ترکیې ته تل ډاډ ورکاوه چې د ترکیې په ضد به له کردانو سره مرسته ونه کړي.

په سوریه او عراق کې د داعش له ماتې وروسته ټرمپ وغوښتل چې له سوریې خپل ځواکونه وباسي، چې دا دی کردان دا ځل ترکیې ته په سپین میدان پرېښودل شول.

کردان ولې له تیر تاریخ څخه عبرت نه اخلي؟

کردان له پیریو ډیر تکړه جنګیالي لري چې همدې ټکي له تیرو سلو کلونو راهیسې د امپراطوریو پام د دوی لور ته راګرځولی دی، اروپایان او امریکایان له هماغه وخته د دوی ځوانان خپلو هیوادونو ته بیایي او هلته یې د لویدیځ په فکر روزي چې خپلو ټولنو ته له راتګ وروسته ورته د امریکایانو او اروپایانو ملګرتیا په هره بیه قبوله وي.

کردان د عراق، سوریې، ایران، ترکیې هیوادونو کې ویشل شوي دي او دوی په دې ټولو هیوادونو کې اقلیت بلل کیږي چې لویدیځ هیوادونه کوښښ کوي چې کردان په دې سیمې کې د یوه جنګي ابزار په توګه د تل لپاره وساتي

که کردان د اروپا او امریکا له دغو روزل شویو ټامیانو څخه ځان خلاص کړي شاید په راتلونکي کې د خپل تاریخ د مسلسل تکرار سره مخ شي کنه کردان به په راتلونکې کې هم د نیابتي جګړو کرایه شوي جنګیالي وي.

فهیم الله تنویر

د ژوند ترخه خاطره مې!

که څه هم ددې په ځای چې سړی ترخې خاطرې له خلکو او ملګرو سره شریکې کړي باید خوږې ورسره شریکې کړي؛ خو کله کله ددې ترخو خاطرو تأثرات په زړه داسې جدي اغېز شیندي چې سړی مجبور کړي تر څو حالاتو ته په کتو یې له خلکو او ملګرو سره شریکې او را برسېره یې کړي.

ژمی ؤ د پوهنتون د پسرلني سمستر د پیلېدو نېټه ورخ تربلې را نږدې کېدله، تلوېزیو رسنیو کې ګرمې ګرمې آوازې وې چې نوي ګمارل شوي رئیس د یوې اعلامیې په خپرولو سره پوهنتون کې د زده کړیالانو لپاره دریشي لباس جبري کړی دی، محصلینو ډول ډول نظریات لرل چې ځینې ددې خبرې موافق او ډیری یې مخالف وو چې موږ هم د مخالفینو له ډلې شمېرل کېدو، څکه د ننګرهار ولایت په ګرم ماحول کې دریشي کول یو بل ډول ایمېل او انګېزه راتـه ښکارېده، بلاّخره پوهنتون پیل شو موږ هم خاتونه ورسول، د سه شنبې په ورځ مو د شپږم سمستر لمړنی درسي ورځې تـه خاتونه حاضر کړل خو اول ساعت لا خلاص نـه و چې د وره ټک ټک شو، رئیس د پوهنځي را د ننه شو او ویل یې چې تر پنجشنبې ستاسو اخیري ضرب الأجل دی که مو دریشي کړې وې صنف کې به ناست وئ؛ ګنې د صنف څخه بـه مو وشړو؛ خو پنجشنبې بیا رئیس صیب را نغی شنبه موږ بیا هم په خپلو ملي جامو کې پوهنځي تـه لاړو ګورو چې رئیس صیب صنف ته د ننه شو په شمار پنځو کسـانو دریشي اغوستې وې چې هغه یې جګ کړل او موږ یې ټول په خوند سره غیر حاضر کړلو، وروړ مې انجینري پوهنځي کې ؤ، لومړی کال یې ؤ، د پوهنتون د سنتي ماضي له فلسفې نـا خبر ؤ، څکه هغه یو څه دریشۍ ته خوښ ؤ، ژنګ مې ورتـه وکړ ما ویل هلکه څنګه چل دی دریشي۔ اغوندې کـه نـه؟! ویـل یـې هـو اغوندم یـې، ځینـې اسـتادان ټینګـار کـوي، پنجشنبه شوله ورور بـه مـې ډیر وخت د جمعـې رخصتـې زموږ اطاق ته راوړله، د درسونو پوښتنه مې ترې وکړه ویل یې ښه دي خو نن رئیس صیب راغلی ؤ ډیر ښه وغږېدلو.

ما ژر ورغبرګه کړه چې د دریشۍ په هکله یې کوم څه ونه ویل؟!

ویل رئیس ویل چې دریشي اغوندی څکـه زموږ د پوهنتون نوم د داعش او طالب په نوم تللی دی نو تاسې باید دا نوم ورک کړی نور، خو بیا هم که یې څوک نه را اغوندي او بیخي خان ورته بد ښکاري څوک حق نلري چې غیـر حاضر مو کړي، دې خبرې مې لږ زړه ښه کړ بلاّخره شنبه بیـا په خپلو ملي جامو کې لاړو چې رئیس بیا را دننه شو، هغـه په خپل دریغ ټینګ ولاړ ؤ څکو خو یې دری ساعته مکمـل غیر حاضر کړو لنډه دا چې تر نوي کاله یعنې نوروز پورې سخت زړې رئیس په پوره بې رحمۍ سره هره شـنبه دری دری ساعته غیر حاضرولو، چې وروسته د نوي کال نه پـدې پوه شول چې د ننګرهار غوندې مـاحول کـې دریشي۔ عملي کول یو ناشونی کـار دی، زموږ ټـولګي چې تـازه د نـورو

ټولګیو څخه جلا شوی وه، دوه مضمونه مو ځانګړي وو او نور مو په ګډه ویل؛ خو زمونږ د یوه مضمون د درس مزه بیخي نه وه ځکه استاد یې پخپله ویل چې زه یې نسم ویلای درته، هر څوک چې راولئ رایې ولئ، اداري ته ولاړو چې موږ ته د یاد مضمون لپاره مسلکي استاد راولیږي. ویل یې دا په ټول افغانستان کې څوک نشي تدریس کولای، موږ ویل بیا مو ولې د پوهنتون په نصاب کې اچولی دی!

ویل یې سږ خو شولو خو کال ته به یې په ځای اوربکل بدیل واچوو تاسی ګذاره وکړئ!

دا چې دا مضمون اخر ساعت ؤ او د دوی په خبره چې

ټول هېواد کې یې څوک نشي تدریسولای، محصلین هم یاد ساعت ته ډیری وخت نه ورتلل.

استاد به هم کله راغئ کله نه. هلکانو ته یې پریزنټیشن ورکړی ؤ، کله به چې هغه وو راتلئ، دولس بجې حاضري به یې واخیستله لاړو به لنډه دا چې ساعت به په یوولس شروع کیده، دا استاد به په لس کم دوولسو راغئ، څوک به چې تللی ؤ په خوند به یې دری دری ساعته غیر حاضر کړل، ښایي ده ته به ځان کم ښکاریده چې ولې ټولګی خالي دی؟

خو بلاخیره فینل امتحانونه راورسیدل، د هغې معاییي مضمون استاد راته دیارلس اي فور ورقې چاپ کړې وې ویل یې دا د ازموینې لپاره وګورئ، روژه شوه استادانو پروګرامونه رسولي وو او د بعضو محصلینو پریزنټیشنې لا پاتې وې خو ټولګي بند شول، موږ هم کورونو ته راغلو روژه مو کور تیره کړه.

کله چې د اختر شپږمه ازموینې اعلان شوې غوښتل مو چې پوهنتون لاړشو؛ خو چې فیسبوک ته دننه شوم ګورم چې سینجر کې لیست راغلی دی . په خیر خیر مې وکتې چې د محرومانو لیست و.

دا چې ټولګي کې زما نوم حاضري کې لږ مخکې ؤ نو ځکه خو محرومانو کې هم اول نوم زما ؤ، په دغه لیست کې زمونږ د ټولګي دري دېرش کسان زما په شمول محرومان وو، بیخي حیران شوم، چې نورمونه ګورم دری کسان د دوه نورو ځانګو او دیرش مکمل د مولږ د دیپارټمنټ یعنې ډیټابیس کسان محرومان وو، فکر مې وکړ دا څه کیسه ده!!!

خو وروسته راته پته ولګېده کله چې موږ روژه کې راغلي وو هاغه استاد چې فاینل ته یې دیارلس ورقې چیپتر

راکړي ژ. څوارلس ساعته غیرحاضري اخیستې وه او موږ یې د محرومیت تر پولو ور اړولي وو.

په همدې دردوونکې معما کې له موږ سره یو ځای د څلورم ټولګي دېرش تنه هم محرومان ژ چې د اول دویم او څلورم نمره په شمول ټول د نهایي پړاوژو لېدران و. هغه وخت مو ډېرې منډې تر ولایتي شورا او مسلمیار او نورو پورې وکړې؛ خو مثبته نتیجه یې ورنکړه او د امتحانو څخه محروم پاتې شولو.

لنډه دا چې دری میاشتني رخصتي کې مو ډېرې منډې ترړې وکړې، رخصتي خلاصه او د پوهنځي له آدرسه د څلورم صنف محروم محصلین د امتحان د ورکولو په موخه پوهنتون ته وروبلل، دې کار زموږ هم لږ هیلې را ژوندی کړې، پوهنتون ته لاړو رئیس سره مو شخصاً موضوع شریکه کړه، دا چې پخوانی رئیس لرې کړل.

شوی و نوی د موضوع نه خبر نه ؤ.ما ورته کړل چې ولې څلورم ټولګی پاس او موږ پاتې یو؟

هغه د پوهنځي رئیس ته زنګ وکړ چې ولې مو داسې کار کړی دی؟

هغوی ویل ویل چې دوی د وزارت نه امر راوړی دی موږ هم وزارت کې نشارونه واچول مختلف امرونه مو واخیستل حتی ځینې محصلینو مو دوه دری امتحانه هم ورکړل خو بیرته د محصلانو چړو مرستیال سیداکرم هاشمي له لوري د امتحان نه جګ شول، کله چې هاشمي ته ورغللو موږ ویل ولی دا کار کوې، دوی خو هم د څلورم ټولګي په څیر وزارت نه امر راوړی دی؟

ویل چا ویل چې څلورم صنف امر راوړی دی؟ موږ ویل رئیس د پوهنځي د پوهنتون رئیس ته وویل.

ویل یې نه څلورم ټولګی علمی شورا پاس کړی، موږ ول نو دا توپیري چلند څو ظلم دی، موږ ولې پاتې یو؟

ویل یې د هغوی اخیري کال و موږ ویل محروم یو محروم دی.

قانون یو قانون دی، موږ اخیر څه وکړو، ولې دومره ظلم کوئ؟

ویل یې درسونه وواییږ کورسو ته لاړ شئ، موږ ویل اقتصاد مو خراب دی، ویل یې لاړ شئ کنړ ته داعش سره یو ځایی شئ، ما ته د پخواني رئیس یحیی فهیم هغه خبره را یاد شوه چې ویل یې تاسې دریشي- وکړئ تر څو د داعش او طالب نوم د پوهنتون څخه لرې شي، حال دا چې د رییس معاون د داعش د جلب جذب مسؤلیت د پوهنتون په داخل کې ډېر په ماهرانه ډول سرته رسوي، دا چې موږ مظلومه طبقه وو، زور مو ته رسېدئ مسؤلي اداري په اونۍ کې یو ځل د لیدو وخت راکولو بیا به یې هم په کړنو کې ریسټیولي نه وه . تهدیدولو به یې چې تاسې باغیان یئ پوهنتون ته نه حاضریږئ نو موږ هیڅ نشو کولای، بلآخره مې زړه مات شو، له هر څه تیر شوم، او ځان سره مې سوچ وکړ چې دې وطن ته ډیرو لیوانو د لوټلو عقد کړی، دلته وجدانونه خراب دي. دا وطن نه جوړیږي، څکه دلته موږ ظلمانو په مېږو او لیوه سره وېشلي یو، تر هغې به دا دارل او ترورل وي تر څو چې ددې محکوم ملت فرد فرد د ځپل فکر د غلامی او بې وسی زولنو ته د سر خم کړلو په ځای همه ماتې نکړي او د ځپلو غدارانو پښې پرې نه ترې.

ما ځپله د یو افغان په نوم، ددې هر څه په درک او زغم کې دردونه لیدلي، مایوسه نه یم، لا مې هم دې خاورې او وګړو ته په زړه کې د وفادارۍ پیمان په رګ رګ کې په څیر دی.

زما ترلې لاس او ستا درنې درنې څپیړی
یو.وخت به د جانانه په حساب کې راولم

پر سعودي بريدونه

او خليج ته د نورو امريكايي عسكرو راتلل

دروانې اکتوبرمیاشت په ۱۱مې نېټې دامریکا دفاع وزیر ووېل چې دسعودي عربستان د ولي عهد شهزاده بن سلمان په غوښتنه یې سعودي عربستان ته دیوېوجنګي طیارواونوي دفاعي نظام سره یوځای دررونو نورروعوځیانو دلېږلوپرېکړه کړېده

هغه دسعودي عربستان دتېلوپه تاسیساتو شوي سترېریدونه ددې اقدام لپاره دجوازیه توګه وړاندې کړل او ویې ووېل چې دسعودي عربستان نه ددفاع په موخه یې دا ګام پورته کړ .

ددفاع وزیر ددې څرګندونوئه وروسته په تېروالو رسنیو کې داخبرخپور شوچې سعودي ته امریکا نور ۳زره فوځیان ولېږل

دتېرې ستمبرمیاشت په۱۴مې نېټې په سعودي عربستان کې دارامکو په نوم دتېلو تولیدوونکي دنړۍ ترټولو ستر شرکت دتصفیې په دوه مرکزونو یې پیلوټه طیارو هوایي بریدونه وکړل چې له امله یې دسعودي اقتصاد ته چې په تېلو ولاړ دی دومره دروند زیان واوښت چې سعودي عربستان دابریدونه دخپل هېواد ۱۱ستمبر وګڼلو

دتیلو دتصفیې یو مرکز دسعودي عربستان دشرقي ولایت دمام په بقیق نومي سیمې کې دی چې دسعودي دپلازمېنې ریاض نه ۳۳۰ کیلومتره لرې پروت دی،دلته هره ورځ ۷ میلیونه بیلره تېل تصفیه کېږي، دتېلو دتصفیې بل مرکز چې پرې برید شوی دپلازمېنې ریاض نه ۱۶۰ کیلومتره لرې په خریص سیمې کې دی،ویل کېږي چې خریص کې دتېلو زېرمې ۲۰ ملیارده بیلرو ته رسېږي چې هره ورځ ترې ۱۰ ملیونه راویستل کېږي او دخریص په دې مرکز کې تصفیه کېږي

ددې بریدونو نه وروسته سمدستي په نړیوال بازار کې د تېلو په نرخونو کې ۱۰ سلنه زیاتوالی راغلو چې دا په تېرو ۴ میاشتو کې دتېلو دنرخونو ترټولو لوړه سطحه وه

دیمن حوثیانو ددې بریدونو پړه پرغاړه اخیستې او ترڅنګ یې د داسې نورو بریدونو درکه هم کړېده

خو دبریدونو نه سمدستي وروسته دامریکا ولسمشر ټرمپ ددې بریدونو پړه پرایران واچوله او ویې ویل چې بې پیلوټه الوتکې دایران نه راپورته شوې وې

اسرائیلي دولت ویلي دي چې دسعودي عربستان دتېلو دتصفیې پردوه مرکزونو دبرید لپاره دعراق خاوره کارول شویده،دعراق ملېشو دایران دبې پیلوټه الوتکې په مرسته پردې دوه مرکزونو بریدونه کړېدي

خو دعراق لومړي وزیر دا تور رد کړی او ویلي یې دي چې دعراق خاوره به دهیڅ کوم ګاونډي پرضد ونه کارول شي اونه هم تراوسه کارول شویده. دبریدونو په تازه ورځوکې سعودي هم پرایران تور لګولی او ویلي یې و چې په بریدونو کې دایران توغندي کارول شویدي،دسعودي عربستان دفوځ ویاند ترکي المالکي په پلازمېنې ریاض کې خبریالانو ته وویل چې داتدائي څېړنو له دسې معلومېږي چې برید کې دایران وسلې کارول شویدي

دسعودي ولي عهد محمد بن سلمان خو کرته ایران ددې بریدونو مسئول ګڼلی ؛ دایران له لوري دداسې لورویریدونو ویره یې سکره کړی او ویلي یې دي چې نړۍ باید په شریکه دایران د تروریستي هڅو مخنیوی وکړي

دامریکې سي بي ایس تلویزیون سره دخبرو پرمهال ولي عهد محمد بن سلمان ووېل چې پرایران دې نړیوال فشار زیات کړای شي ګېنی نړیوالي ګټې به دخطر سره مخامخ شي ؛ دتېلوتولید به اغېزمن شي چې ورسره به دتېلوبیه نرخونوکې ډېر زیاتوالی راشي ؛ همه زیاته کړه چې دا سیمه دنړیوالې انرژۍ ۳۰ سلنه اړتیا پوره کوي ؛ له دې لارې دنړۍ ۲۰سلنه تجارتي مالونه تېرېږي نو که داهرڅه بند شي دا به یوازې دسعودي یا منځنی ختیځ نه بلکې دټولې نړۍ داقتصاد تباهي وي نو دا برید ډېر احمقانه و ؛ ددې هیڅ ستراتیجیک هدف نه و ؛ محمد زیاته کړه چې دایران سره جنګ نه غواړي ؛ دستوزې سوله ایز حل غوره بولي او نه غواړي چې دایران سره تاو تریخوالی دجنګ تر سرحده ورسېږي .

ایران په مکرره توګه پدې حملوکې خپل لاس لرل رد کړي ؛او ددې هېواددبانډنیو چارو وزیر جواد ظریف شه په روسانه تکوبیلي چې موږ جنګ نه غواړو خو که دسعودي عربستان یه امریکا به لوري پرموږ جنګ مسلط کړای شو نو له خپل ځان نه په کلکه دفاع وکړو

پدې کې شک نشته چې دبهرني یرغل په مقابل کې هرڅوک دخپل ځان نه ددفاع حق لري خومتأسفانه چې ایران دخپل ځان دفاع نه بلکې ډېر زیاروبکي اقدامات کوي اودسعودي عربستان په شمول ټولومخالفو عربوهېوادونوته دتاوان رسولو یوه موکه هم له لاسه نه ورکوي ،

دبېنګې په توګه دا پخم کال دی چې سعودي عربستان دحوثیانو پرضد جنګ کې اخته دی حوثیانو ته پیسې ،جنګي وسایل اوترټوعمدو پورې ټولې وسلې ایران او روسیه ورکوي ؛

اوس حوثیانو دسعودي سرحدي ښارونه ترځیلو بریدونو لاندې راوستي دي او غواړي چې ترپلازمېنې ریاض او دعربو ترمتحده ایالاتو خپل بریدونه وروغزوي چې دا به په زړ اوږ داتیلو راشلو معنی ولري.

اوس خو خبره تردې پیلوته الوتکو رسېدلې ده،سږ کال دیمن جنګ دسعودي ترپوښو وررسېد؛

که رښتیا هم اوسنیوحملو ته ورته بله حمله وشوه او یا هم پلازمېنه ریاض تربرید لاندې راغلو او مسئولیت یې حوثیانو ومنه نو بیا شاید چې حالات ډېر خراب او دواړه هېوادونه سره مخامخ په جنګ کې راښکېل شي چې پدې سره به دواړه هېوادونه تباه،نوي مځنی ختیځ به دجنګ په ډګر بدل شي او اسلامي نړۍ به دیې ساري ستر تاوان سره مخامخ شي

سره له دې چې دسعودي دفاع وزارت په یو مطبوعاتي کانفرانس کې پدې برید کې دایران دوسلو دکارول کېدو شواهد وړاندې کړي خوداسې یقین نشته چې ګیني رښتیابه هم ایران دخپلې خاورې نه پرسعودي عربستان دا بریدونه کړي وي ځکه چې دې بریدونو که څه هم سعودي عربستان ته ستر زیانونه ورواړول چې داد ایران لپاره د خوښۍ خبره ده خو پرایران ددې بریدونودثبوت په صورت کې ایران دنړیوالو دسخت غبرګون سره مخامخ کېدای شي.

[illegible] شي.

که په غور وکتل شي نو دا دامریکا اواسرائیلو پرته دبل هیچا عمل نه شي کېدای.

امریک یا اسرائیلو به دا بریدونه پټپه کړي وي اوکه دایران ، حوثیانو یاحزب الله په څېر نور خلک به ددې کار لپاره استخدام شوي وي ؟

دا دواړه احتمالونه شته خودې کې شک نشته چې تر شا یې خامخا داسرائیلو او دامریکا لاس دی .

او په همدې یوې حملې امریکا گې اهداف ترلاسه کړل ، امریکا په عربي نړۍ کې دایران مصنوعي وېره نوره هم پسې زیاته کړه چې ددې حملې نه پس دټرمپ داخبره چې امریکا دسعودي دساتنې ټیکه نده اخستې

دټرمپ ددې خبرې پسې دمحمد بن سلمان له لورې دامریکا په فوځي اتحاد کې د داخلېدلو اعلان دهمدې خبرې واضح ثبوت دی

اوس به بیا متحده عرب امرات ، سعودي عربستان اوکویت دامریکانه دوسلواخستلو نوي قراردادونه وکړي اوله دې لارې به امریکا داشتمن هېوادونه ښه لوټ کړي.

واک ته دربسېدلو نه پس چې ترمپ دایران داتومي پروګرام په سر د اوباما دوخت رامنځته شوی تړون لغوه کړ نو په نړۍ کې یې امریکا بدنامه کړه ؛ دامریکا اروپایي ملګري دامریکانه خوابدي شول او ددې تړون دلغوه کولونه امریک کوم هدف هم ترلاسه نکړ چې دا اوس دامریکا لپاره ددېرې سترې اندېښنې وړ خبره گرځېدلې ده

په دې حملې دایران دبدنامولو او په نتیجه کې یې داقتصادي بندېزونو له لارې امریکا پر ایران فشاروبه راواردول غواړي ترڅو دخپل اتومي پروګرام نه لاس په سر شي او دامریکا سره دامریکا دخوښې تړون ته تیار شي

او تر ټول خطرناکه خبره داده چې امریکا به په خلیج کې خپل فوځي حضورنور هم پیاوړی کړي لکه چې دامریکا اعلانونو همدا خبره ثابته کړه .

دامریکا دفاع وزارت سعودي عربستان ته دنویو فوځیانولېږل اعلان کړل او ویې ویل چې سعودي عربستان ته دنویو امریکایي فوځیانو لېږدول دسمندري لارو دساتنې لپاره دي ؛ دوئ به دسعودي عربستان په فوځي اډو کې دتوغندو ضد پیټریات نظام نصب کړي ؛ ددوئ سره به گڼ شمېر ایف ۲۲ دوله جنګي طیارې هم وي چې رادار یې نه شي معلوموللی

دفاع وزارت داهم ویلي دي چې دا تازه دمې ۳ زره فوځیان به دمرکزي قوماندې په سیمه کې مېشت کېږي .

پدې کې اوس هیڅ دشک ځای پاتې ندی چې نه داحملې یو ناڅاپي وه او نه هم ددې حملې نه پس دامریکایي فوځیانو درالېږلو پرېکړه بلکې په خلیج کې دخپل نظامي حضور دپراخوالي لپاره امریکا ددې کال له پیل نه دلارو برابرولو هڅې پیل کړې وې ؛ دیېدگې په توګه په ۲۰۱۵م کال کې دایران د اتومي پروګرام په اړه رامنځته شوی تړون امریکا لغوه کړ اوپه ایران یې نوي اقتصادي بندېزونه ولګول ؛ امریکا دجاسوسۍ په موخه ایران ته بې پیلوټه طیاره ورداخله کړه چې ایران رانسکوره او امریکا یې دشرمندګۍ سره مخامخ کړه

ددې ترڅنګ په قاچاقي ډول د پاناما تېل وړونکې سمندري جاز ایران ونیو او دعملې ۱۲ غړي یې له ځان سره قېدکړل چې امریکا دې مسئلې کې هم ځان خصم وګرځاوه ؛ په سختو ټکو یې دایران نه ددې تانو دراخوشې کولو غوښتنه وکړه چې پدې چل یې دایران سره دخپلواړیکو دلاخرابولو هڅې وکړې

دخپلې دې رسوایي راکمولو په موخه دامریکا ولسمشر ټرمپ اعلان کړی و چې دتېلو ډک امریکایي سمندري جاز ته رانږدې شوی یوه بې پیلوټه ایرانۍ طیاره یې رانسکوره کړې خوایران وویل چې ددوئ کومه بې پیلوټه طیاره چا نده رانسکوره کړې

د اصولو نه د سرغړاوي په تور ایران دبرتانې یودتېلو ډک جاز ونیو چې له امله یې برتانې او امریکا دواړو د ایران ددې جاز دخوشې کولو غوښتنه وکړه او د نه منلو په صورت کې ورته دسختو عواقبو سره دمخامخ کېدو ګوت څنډنه هم وکړه .

دامریکا په ۲ سمندري جاړونو شوې حملې هم امریکا د ایران کار ګڼلې و خو ایران یې تردید کړی و او دا یې دامریکا ستر دروغ ګڼلي وو

دي ټوټوخبرو ته چې وګورو نو داسې ښکاري چې د ټبهـو دتصمیم په مرکزونو اوسني بریدونه څه یوناڅاپي یا تصادفي پیښـه نه وه بلکې دا شه دپلان له مخې شوې اوستر هدف یې په خلـیج کې د امریکا فوځي حضورته لاپراختیا ورکول و

خو ددې هدف دترلاسه کولـو لپـاره چې پرسـعودي کومـه وروستی حمله وشوه دا ډېره خطرناکه ده څکه چې پدې طریقه به امریکا سعودي مکلف کـړي چې ددې فوځیـانو ټـول مصـارف سعودي ورکړي او که دایران پرضد جنګ رامنځته شي نودسعودي له خاورې به پرایران بریدونه کېږي او دجګ مصارف او وسایل برابرول به هم دسعودي په غاړه وي

او دا به څه نوې خبره نه وي بلکې له دې وړاندې هـم څـو ځلې دمسلمانانو له خاوروامریکا پر مسلمانانو بریدونه کړي چې وسایل یې هم دمسلمانانو کړول شویدي .

نو دا اوس ډېره ساده خبره ده چې دایران پر ضد که دامریکا رامنځته کېـدونکې جـګ کامیـابېږي نـو امریکانـه فاتحـه وي اوتاوان به ایران کړی وي اوکـه امریکـا ناکـامېږي نـو امریکابـه ممتوجه اوېد نامې او تاوانونه به د سعودي شوي وي

دخلیج دلـومړي جنـګ پرمهـال چې پـه ۱۹۹۰م کـال کـې امریکایي موځونه دسعودي خاورې ته راداخل شول بیـا تـرې ونـه وتـل ؛ د۲۰۰۳م کـال د اپریـل پـه ۲۹مـې نېټې امریکـا دسـعودي عربستان ته دخپلوفوځونو ویستل اعـلان کـړل خـو دخپـلو ادو دساتنې او دسعودي فوځیانو دروزنې په نوم یې ګڼ شمېر فوځیـان په سعودي کې پرېښودل .

امریکا څومره فوځیان بوتلل اوڅومره یې پرېښودل ؟ پـدې هر څوک پوهېږي چې دامریکا قول اوعمل تل دتضـادونو نـه ډک وي یس خپلو فوځیانو دویستلو اعلان یې وکړ نـور دامریکـا نـه څوک داپوښتنه کولی شي چې څومره دې وویسـتل اوڅـومره دې پاتې شول ؟

خـو اوس بوخـل بیـا سعودي عربسـتان تـه دستر فوځي سازوسامان سره د۳۵ زره امریکایي فوځیانو راتلل دمسـلمان ملـت لپاره ډېر بد زېری دی

پدې هر څوک پوهېږي چې امریکا دسعودي لـه غمـه مـړه نده او نه ورسره څه مینه لري چې دفاع ته یې موخوسـه راولي اوبـه یې هم دایران سره کومه تاریخي دښمني شـته چې تـرې د انتقـام اخستلو په موخه خپل فوځیان ربټ کړي بلکې دخپلې سرسختې سلام دښمنی له مخې یې چې پر لسـګونو اسـلامي هېوادونـو جنګونه مسلط او دسترې تباهی سره یې مخامخ کړل ..

داسې ښکاري چې خلیجي هېوهېوادونو چې امریکـا یې خپله باوري ملګرې ګڼله اوس ورتـه دخپلـې خطـا ادراک شـوی دسعودي حاکمان هم اوس پدې سه پوه شول چې د امریکا دوستي بې اعتباره او دسعودي نه ددفاع خبرې یې دروغ دي نو څکه یې دایران پرضد خپله لهجه هغومره سخته ونه کړوله څومره چې دا بریدونه سټر وو اوترڅنګ یې دسعودي اوایران ترمنځ دعراق اوبیـا وریسې دپاکستان دلومړیو وزیرانو دمنځګړیتوب وړاندیز تـه هـم مثبت ځواب وویلو چې دا ډېر ښه پرمختګ دی

نو دا ډېره ساده خبره ده ؛ دسعودي او ایران حاکمان چې یو بل ته ګواښونه کوي باید په خپلوکې کېناستلو او د خبرو لـه لارې دستونزې حل کولو ته ترجیح ورکړي

ترڅنګ یې ددې هم ډېره اړتیا ده چې اسـلامي نـړۍ لـړه راویښه شي او دغوې هېوادونو با اثره مشران ښـه پـه اخـلاص سره منځګړیتوب وکړي او ددواړو هېوادونـو تـرمنځ دټولـو مشـکلاتو دحل لپاره ریښتونی کوښش وکړي ترڅو سیمه دلوېې ورانی نه بچ شي او دبهرنیو دلاسوهنو اومداخلو مخه ونیول شي

محمد داود مهاجر

طالبان، نمونه ای از جهاد و سیاست معتدل اسلامی

-بخش اول-

امارت اسلامی در افغانستان میان جهاد اسلامی و سیاست شرعی جمع نموده و در این باب، توسط و اعتدال را مشعل راه خویش قرار داده است. امارت اسلامی از همان روزهای آغازین، از افراط و تفریط، تکفیر و تفسیق، مباح قرار دادن خون بی گناهان و کشتن نفس ها به ناحق، دور بوده است.

این حرکت مبارک، به عنوان سلاله ای پاک از فرزندان این مرز و بوم و عالمان دین، جهت خاموش کردن آتش فتنه ها آغاز گردید. آن زمانی که آتش و شعله جنگ های داخلی و کشتار ناحق در میان افغانان - بعد از خروج نیروهای ارتش سرخ - به اوج خود رسیده بود.

آنان به خاطر دفاع از ضعیفان و ستم دیدگان، و نفاذ شریعت الهی در زمین، پا به عرصه جهاد و سیاست گذاشتند.

آنها از همان شروع پیکار و نبرد با فساد، فتنه و کشتار ناحق، راه وسطیت و میانه روی را در نظر گرفتند؛ نه کسی را به کفر و ارتداد نسبت دادند و نه خون کسی را بدون اذن شرعی مباح قرار دادند.

امارت اسلامی طالبان، در زمانی حساس ظهور کردند که ستم و زور در هر کنجی از خاک سایه افگنده بود و خون های ناحق بدون محابا و ترسی از کس، به زمین ریخته می شد. تاریکی در تاریکی، و ابرهای توده از فتنه های سیاه، افق را تیره و تار کرده بود.

حرکت اسلامی طالبان در حالی اظهار وجود نمود که مجاهدین سابق - الا ماشاء الله - بازیچه دست دیگران و ملعبه بازیگران ماهر سیاست های نامعلوم و مرموز گشته بودند. تشخیص خوب و بد برای شان بسیار مشکل گردیده بود و یا با آن خلط شده بودند. آنان به سوی جنگ های خونین کشانیده می شدند که قاتل و مقتول سبب کشتن و کشته شدن شان را نمی دانستند.

آری، خورشید امارت اسلامی طلوعی درخشان داشت و اشعه هایش روز به روز نورانی تر می گشت و شبش مانند روز روشن و ستارهٔ اقبالش درخشیدن گرفته بود. مردم افغان زمین، از مجاهدین امارت اسلامی با نهایت گرمی و صمیمیت استقبال نمودند و امت اسلامی نیز به آنان به عنوان ستاره هایی درخشان در آسمان افغانستان می نگریستند.

به درستی که این جنب و جوش، شور و شوق در قالب یک حرکت و حزب نبود؛ بلکه نهضتی عمومی و سرتاسری بود که قریه جات و شهرها را در نوردیده و با زعامت طالبان، یعنی علما، دانشمندان و مجاهدین خبره و باتجربه اداره می گشت، کسانی که در میدان های مبارزه و جهاد در برابر ارتش شوروی سابق و مزدوران حلقه به گوش آن ها، گوی سبقت را برده بودند و در طول سال های متمادی، در آغوش ملت رنجدیده خود ستم های ستمگران را تجربه و تحمل کرده بودند.

آری، آنها بعد از خاموش شدن شعله های فتنهٔ کمونیسم، معتکف مدارس دینی و مساجد گشته بودند؛ و در جنگ های حزبی و قومی هیچگونه سهمی را از آن خود نکرده بودند. تا اینکه دیدند احکام شریعت تعطیل شده و به باد سخره گرفته می شوند و آن جهادی که بخاطر آن یک و نیم میلیون شهید داده بودند، به دروازه و پاتوقی از ظلم، زورگوئی، اختلاف و غارت مال های مردم تبدیل گشته بود و مجاهدین به آن آرزو و آرمانی که از طرف امرا و بزرگان جهادی وعده داده شده بودند، نرسیدند. در این وقت بود که امام جهاد و مجاهد نستوه، امیرالمومنان ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله تعالی و یاران نزدیکش، بعد از مشوره و رای زنی با بزرگان و علما، نهضت و انقلابی را آغاز کردند، حرکتی که با تمام موارد ظلم و جبر، و نظام های شخصی ایجاد شده از طرف احزاب و گروه ها، در تصادم کامل قرار داشت.

این حرکت آکنده از اخلاص و فداکاری، گام هایش را سریع تر و به سوی آینده روشن بیشتر می گذاشت. روز به روز پاتوق های فسق و فجور را می زدود و گلیم اهل شر و فساد را از بسیاری جاها بطور کامل برچید.

مردم مسلمان افغان از تمام زبان ها و رنگ ها در هر ناحیه ای که ایشان پا می گذاشتند، به پیشواز آنان رفته و به قدم های میمون شان گل افشانی و اظهار مسرت می نمودند؛ تا اینکه توانستند در مدت کوتاهی، شهرها را یکی پس از دیگری به صورت اعجاب انگیزی تا کامل فتح کنند و گام های استوار و ارادهٔ فولادین ایشان توانست دروازه های شرق و غرب بلاد را باز کند و ایشان با نصرت الهی نود و پنج درصد خاک افغانستان را زیر یک بیرق و حکم شریعت جمع کردند.

مجاهدین امارت اسلامی بعد از چیره شدن بر اکثریت میهن خویش، امنیت، آزادی اسلامی و آسایش فکری را بعد از سال ها جنگ و کشتار، به مردم خود تقدیم کردند و احکام تعطیل شده شریعت در قرن ها را باری دیگر تا حد توان خویش به اجرا گذاشتند؛ از قاتلان قصاص گرفتند، زانی و زانیه را سنگسار نمودند، دستان دزدان و پاهای راهزنان را قطع کردند. آن ها از امور بنیادی دین اسلام حتی به اندازه یک وجبی هیچگاه کوتاه نیامدند.

ادامه دارد....

آزادي

ترون

چې قايم سرې په حي على الجهاد شي
نو راښکته به پښو ته خليلزاد شي

زيني خلک د (نداولها) ژباړه
ژنده باد شي مرده باد شي ژنده باد شي

دا طالب که نن دنيا ليوني بولي
خو سبا ته به طارق ابن زياد شي

موږ د جنګ او سولې واک تا ته درکړی
خدای دې نه کا چې را کم دې اعتماد شي

څوک چې تل د جمهوريت غواکانې لوشي
نو وطن به يي تاتوبی د فساد شي

ازادي چې د شغال د خولې شعار شي
د زمريو تاريخونه يي برباد شي

د وطن مظلوم اولسه مبارک شه
دا وطن به دې نژدې وخت کې ازاد شي

چې د فتحې په ناره له خوبه پاڅو
خوار ترونه ستا شعرونه به را ياد شي

Shahamat

ګبین او زهر ...

تاته هر رنګ عادتونه د غلام زده
یرغلګرو ته دي ډېر ډېر احترام زده

که یو څوک هیرو شیما ته کوته نیسي
نو بیا ماته تاریخونه د ویتنام زده

تر هغې چې د یرغل تغر ټول نه وي
نه مې خوب نه مې خندا نه مې آرام زده

د نیکه وراسته هڅونه دي لږ پوښته
لا تر اوسه یې له باره زما نام زده

یوه قدمه د شانک په مقابل کې
زر قدمه مې غلیمه مخته ګام زده

ما په جنګ کې هم اخلاق ملت کړي نه دي
تا ته صرف یو کنځاوي او الزام زده

ماته دا جهان زندان دی غم یې نکړم
تاته یو پلچرخي زده او باګرام زده

زه د لا اله إلا الله قائل یم
تا ته هورا تاته پاپ تاته رام رام زده

لومړیتوب صونړه ښځې ته ورکړي
کنه سل وار مو سل رنګه انتقام زده

په یو وخت چاته ګبین شي چاته زهر
د مفتون څه عجیبه غوندې کلام زده